


Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم ::دخیام سٌرونه دپښتو په تال کي

شاعر :: عمر خیام

مترجم :: عبدالباري جهاني

د چاپ کال :: ۱۳۸۴هـ ش کال

خپروونکی ::نارنج خپرندویه ټولنه

د چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

دشپېلۍ د چاپ ټوله حقوق د خپروونکي اودانلائن حق ئې یوا ځي د بېنوا پاڼي سره محفوظ دي، نوري ویب پاڼي ددې کتاب شعرونه د ماخذ په ښوولو کاپي کولای شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دخپرندويه ټولني ياداښت

## د ښاغلي عبدالباري جهاني شعري ژباړي

## (د خيام سُرونه د پښتو په تال کي)

زه بې مـــــيو بې مستيو ژوندون نه سمه کــولای

درانه پېټي د ژوندون مي بې شرابو نه سم وړلای

زه به بنده د هغه آن يم چي ســـاقي مي راته وايي

دا يو جــام که پر سر پورته زه يې نه سمه چښلای

پښتو ژبه چي لکه څنگه د ادب د نورو ژانرونو له پلوه خوارځواکې ده، همداسي د شعر په ډگر کي هم ډېره وروسته پاته ده، مطلب مي له ژباړي څخه دی، پښتو ژبه تر هر څه زيات ژباړي ته اړتيا لري او هغه د علامه رشاد بابا خبره پښتو لا تر اوسه د ژباړي له نعمته بې برخي ده، که څه هم د پښتو ژباړي تاريخ تقريباً يوولس سوو کالو ته رسيږي، خو بيا هم دغه بهير ډېر تر شا پاته دی، د پښتو ژبي لومړنۍ او څرگنده ژباړه د ابومحمد هاشم سرواني ده چي تر دغي ژباړي وړاندي موږ د پښتو بله ژباړه نه لرو، ښايي وړاندي به نوري ژباړي هم سوي وي خو څرنگه چي تر موږ پوري نه دي رارسېدلي، نو ځکه د ابو هاشم ژباړه موږ د پښتو په تاريخ کي لومړنۍ څرگنده ژباړه بللای سو.

ابو محمدهاشم د هلمند په سروان کي په کال 223 هـ ق کي زېږېدلی او په 297 هـ ق کي په بست کي وفات سوی دی.

ابومحمدهاشم د خپل استاد ابن خلاد يو عربي شعر په پښتو داسي ژباړلی دی:

ژبه هم ښه وينا کاندي چي يې وينه

د خاوند په لاس کي زر او درهـمونه

ژبور ور لـــــــه ورځي ويـــنا يې اوري

د درهم خاوندان تل وي په ويـــاړونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول نو پښتو ته د نورو آثارو د را ژباړلو لړۍ په لومړي ځل له شعره پيل سوې ده او پښتو ته د لومړي ځل له پاره شعر را ژباړل سوی دی، همدا ډول د ابو هاشم تر ژباړې وروسته موږ بله د پښتو داسې کره او پخه ژباړه نه لرو چې له هرې خوا دې په ټول پوره وي او نه تر موږ پورې رارسېدلې ده، يا ښايي زما به نه وي تر سترګو سوې. خو سوونه کلونه وروسته موږ ته د زرغونې کاکړې د "بوستان" د پښتو ژباړې بولګه د پټې خزانې په برکت رارسيږي چې له بولګې ښخه يې دا اټکل کولای سو چې ډېره پخه او په ټول پوره ژباړه ده.

زرغونې کاکړې د شيخ مصلح الدين سعدي بوستان نومی کتاب په پښتو نظم ژباړلی او نوم يې "بوستان د پښتو" پر ايښی دی او په کال 903 هـ ق کې يې بشپړ کړی دی، د دغه کتاب يوه نمونه د پټې خزانې ليکوال په خپله ادبي تذکره کې راوړې ده چې څو بيتونه يې داسې دي:

اورېـــدلې مــــې قصه ده

چې له شاتو هم خوږه ده

د اخــــتر په ورځ ســــهار

بايـــزيد چې و رويــــــدار

لـه حــــــــــامه را وتـــلی

پــــه کوڅه کې تېرېدلی

ايــرې خاورې چا له بامه

راچــــپه کـــــــړلې ناپـــامه

مـخ او ســـر يې سو ککړ

په ايــرو په خـــــــاورو خړ

همدا ډول تر دغې ژباړې وروسته د اخوند درويزه ننګرهاري (1048 هـ ق مړ) او د ده د پيروانو منظومې ژباړې په پښتو ادب کې خورا ارزښت لري چې د قصيدهٔ امالي پښتو ژباړه، د قصيدهٔ برده پښتو ژباړه، خلاصه کيداني او داسې نورې پښتو باړې دي.

د پير روښان او د هغه پيروانو هم لږ څه پښتو منظومې ژباړې کړې دي، همدا ډول حضرت خوشحال خټك او د ده کورنۍ او پيروانو هم ځينې پښتو ژباړې کړې دي، خو که په عمومي ډول ووايو نو پښتو ژبه له منظومې ژباړې ښخه ډېره نېستمنه ده، موږ که د پښتو ادب لرغونې دوره، منځنۍ دوره او اوسنۍ دوره مطالعه کړو نو ښايي چې ډېر لږ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظومي ژباړي پکښې پیدا کړو، که څه هم د پښتو لومړنۍ څرګنده ژباړه له نظم څخه را پیلیږي، مګر زما خبره به دا معنا نه لري چي په پښتو کي منظومي ژباړي نه دي سوي، یوازي که د قرآن کریم د پښتو تفسیر منظومه ژباړه وګورو، نو ښایي د کمیت په لحاظ موږ ډېره پښتو منظومه ژباړه ولرو، همدا ډول په دیارلسمه هجري پېړۍ کي هم ډيري پښتو منظومي ژباړي وسوې چي په هغه کي داستاني او ديني موضوعات ډېر ول، مګر د کیفیت په لحاظ هنري ژباړي نه وې (البته ټولي یې).

په معاصره دوره کي د تخلیقي ادب په برخه کي پښتو ته څه ناڅه شیان را ژباړل سوي دي خو د نظم برخه یې بیخي نه تر سترګو کیږي. ځیني نظمونه او شعرونه د ګوتو په شمار پښتو ته را وژباړل سول، خو هغه ځیني د انتخاب له ستونزي سره مخ ول او ځیني د ژباړونکو له نه مهارت سره په دې مانا چي په اوسنۍ دوره کي ځیني خارجي اشعار پښتو ته د ځینو کسانو له خوا را وژباړل سول، خو زما په فکر تر ژباړي یې نه ژباړه ښه وه (البته د ځينو دا). ځکه چي یا خو په خپله په خارجي شعرونو کي سمه ټاکنه نه وه سوې او یا که به ټاکنه سوې وه هغه بیا په پوره کمال سره نه وه ترجمه سوې، د سپېڅلي په نوم خارجي اشعار چي د ښاغلي مفتاح الدین ساپي له خوا نړیوال اشعار ورته ویل سوي دي، په داسي ډول را ژباړل سوي دي چي نه یې د هغه اصلي شعر روح پکښې څرګندیږي او نه د خپلي ژبي رنګ ورکول سوی دی، د خیام څلوریځي د ځلاند صاحب له خوا ژباړل سوي خو که یې څوك مطالعه کړي، زما په فکر وبه وایي چي دا چي اصلاً نه وای ژباړل سوي ښه به وای، د ماځیګر چارسو په نوم مقید او آزاد نظمونه د ښاغلي ایاز له خوا ژباړل سوي او لاندي ورته لیکل سوي دي چي نړیوال اشعار، خو زما په فکر په ټاکنه او انتخاب کي سم فکر نه دی ورته سوی او پر هغه سربېره سم ژباړل سوي هم نه دي، البته د پښتو ادب په معاصره دوره کي ارواښاد استاد بېنوا ځيني منظومي ژباړي کړي دي، همدا راز ښاغلي محمدصدیق پسرلي هم کړي دي چي یادونه یې ضروري ده.

خو که وواېو نو په دغو منظومو ژباړو کي ښاغلي عبدالباري جهاني تر ټولو ډېر زيار ایستلی دی او تر ټولو یې په پوره هنر او کمال سره بهرني اشعار پښتو ته راژباړلي دي، نو فکر نه کوم چي له مبالغې څخه به مو کار اخیستی وي.

ښاغلي جهاني هم د شعر په انتخاب کي له احتیاطه کار اخیستی دی او هم یې په ژباړه کي له پوره کمال او هنر څخه.

ښاغلی عبدالباري جهاني هنرمن دی او یو شاعر دی او ژباړه به یې هم خامخا شاعرانه او په ټول پوره وي او د شعر انتخاب به یې هم حتماً شعر وي، نه په نامه شعر. تاسو د دوی شعري ژباړي وګورئ او دا به درته څرګنده سي چي له دغو دواړو شیانو څخه په ډېر ښه ډول کار اخیستل سوی دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی جهاني لومړی سړی دی چي پښتو ته يې په لومړي ځل خارجي اشعار په روانه او شاعرانه ژبه را ژباړلي دي، د کيفيت په لحاظ هم د کميت په لحاظ هم، تاسو که د دوی ژباړي وګورئ نو فکر به ونه کړئ چي دا دي ژباړه وي، زه خپله ښاغلی جهاني په اوسنۍ دوره کي د

نظم په برخه کي تر ټولو ښه او لومړی ژباړن او شاعر بولم چي پښتو ته يې له خارجي ادب څخه ډېر څه راوړي دي.

ښاغلی جهاني په انګرېزي ژبه کي پوره برلاسی لري او ډېر انګرېزي اشعار (البته غوره اشعار) يې پښتو ته راژباړلي دي، پسرلی سږ کال وځنډېدی، فينسي ځه مخته دي ښه سه، پېمان، طلاق، د زړه ماتو مهمانخانه، د ښځي ياغي چيغه، رښتوني مينه، زما لار، بېګانه په نيمه شپه کي، امريکا دي آباده وي، د بنګلو نجلۍ او د سحر وږمې هغه انګرېزي شعرونه دي چي ښاغلي جهاني په ډېر شاعرانه انداز پښتو کړي دي او ډېر پښتانه يې په لومړي ځل له خارجي اشعارو سره داسي بلد کړي دي لکه د خپلي ژبي شعر چي لولي.

د شعر ژباړل لومړی په هغه ژبه ښه پوهيدنه غواړي بيا يوه ډېر ښه هنرمن ته اړتيا لري او بيا يو ښه ذوق غواړي او دا دري سره ځانګړني په ښاغلي جهاني صاحب کي را يو ځای سوي دي، ځکه نو په نتيجه کي پښتو ادب له بهرني اشعارو څخه برخمن سوی دی. تاسو د ښاغلي جهاني د (پسرلی سږ کال وځنډېدی) د شعر د ژباړي دغه لنډه بولګه وګورئ:

د اورګـــــاډي د پـــټلۍ ســــــره ولاړ يم

تېروم د انتـــظار ترخه وخــــــــــــــــتونه

وايم ګـــــــــوندي که ټاټوبی مي بدل سي

نو ســــــــــينه کـــي به آرام وکړي دردونه

مـــــــــا دا ټـــوله سړه شپه کړه دلته روڼه

نـــــــــڅېدل مـــــــي راته مخي ته خيالونه

پکښي خيال به راته ستا د بېلتون راغی

تصـــور به مــــــي ژوندي کړل مړه زخمونه

(د سباوون په تمه 257 مخ)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو انګرېزي نظم دی، چي ښاغلي جهاني داسي راژباړلی چي څوك هيڅ تصور نه سي کولای چي ژباړه ده، په منظوم او مقيد ډول د شعر ژباړل به زما په خيال لږ نوکی ګرانه خبره وي مګر ځينو کسانو پښتوته په منظوم شکل ځيني شعرونه را ژباړلي دي، خو بيخي ډېر يې په دغه کار کي پاته

راغلي دي، زه يوازي ښاغلی جهاني تر ټولو بريالی او

سرلاری بولم چي په ډېر شاعرانه ډول يې منظومي ژباړي

کړي دي.

دغه راز ښاغلي عبدالباري جهاني ځيني اشعار له اردو څخه را ژباړلي چي هغه يې هم کټ مټ هغسي ترجمه کړي لکه له انګرېزي څخه چي يې ژباړلي دي. د مشهور پاکستاني شاعر فيض احمد فيض (چي زما درد لره ژبه پيدا سي) په نوم نظم يې تاسو وګورئ:

زمـــــــا درد يو بــــــې آوازه شــان نغمه ده

زمــــــا ذات يوه بــــــې نومه شان ذره ده

چي زمـــــــا درد ته کله ژبه ور پيدا ســـــي

نو به خـــــــــــپل نوم او نښان را برمـلا سي

چي هستي مي د خپل ذات راته مفهوم سي

راز د نظم د جــــــــــهان راته مـــــــعلوم سي

چي خـــــــــــبر ســــــم د دي پټ پوښلي رازه

ســـــــــــــــم بادار د کايناتو د ملـــــــــــکونو

پـــــاچاهــــــــي کوم د دواړو جــــــــــــهانونو

(پايکوب، 138 مخ)

ما دغه شعر په اردو کي نه دی ليدلی او که يې و هم وينم په اردو نه پوهېږم، خو زه فکر کوم چي دا شعر به په خپله په اردو کي هم تر دغه زيات خوند نه کوي او دا ښاغلي جهاني په ډېر شاعرانه او ماهرانه انداز سره راترجمه کړی دی. کله کله ځيني کسان د ژباړي په وخت کي دونه د هغې ژبي تر اغېز لاندي راسي چي هغه ځيني ترکيبونه، جملې او کلمات يې بالکل په خپله ژبه کي خلکو ته ناآشنا وي او په اصطلاح يوه پردۍ ژباړه رامنځته کړي، خو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي عبدالباري جهاني دغه ټول شیان په نظر کي نیولي دي او یوه بریالۍ هڅه یې کړې ده چي پر ژباړه یې د پردیو ژبو اغېز نه وي.

د (غرب تر آسمان لاندي) د نادر نادرپور شعر چي په غالب ګومان له فارسي څخه به ترجمه سوی وي، د آزاد شعر په فورم کي ښاغلي جهاني په دې ډول ژباړلی دی:

د خاطراتو له کوڅو څخه مي

ستا د ګامونو آوازونه راځي

آه زما د لیري ولاتونو دوسته

لکه چي زما دپردېسۍ ښار ته دي لار کړې ده

دلته زما زړه کي د سهار مرغکۍ

د دې شرير جهان فضا کي راته

د وزرو د خلاصولو آرزو وپاروي

خو چي د شپې تیاره وزر خپروي

بیا دېوالونه زما د پټ زندان خبري کوي...

په دې ډول نو موږ ښاغلی عبدالباري جهاني د پښتو ادب په معاصره دوره کي هغه لومړنی شاعر بولو چي په ډېر ځیراکت سره یې هم له انګرېزي، هم له اردو او هم له فارسي څخه په آزاد او مقفي ډول ډېر اشعار پښتو ته په شاعرانه ډول را ژباړلي دي او د پښتو ادب د شعري ژباړي تشه لمن یې په خپلو بریالیو ژباړو سره څه ناڅه ور ډکه کړې ده.

خو یوه بله د خوښۍ خبره دا ده چي پر دغو ژباړو سربېره ښاغلي جهاني په یو بل ډېر درونډ کار لاس پوري کړی او د ده د هغه کار پایله د خیام فارسي څلوریځي دي چي اوس یې موږ په کتابي بڼه لولو. موږ که چیري په مفصله توګه د ښاغلي جهاني پر شعري ژباړو څېړنه کوو، نو د خیام د فارسي څلوریځو ژباړه به یې یو ډېر لوی ځګېر کی وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي عبدالباري جهاني د دغو څلوریځو په ژباړه سره په پښتو ادب کي د خمريه اشعارو په برخه کي داسي درنه اضافه وکړه چي پښتو ژبه تر اوسه نه وه ځني برخمنه سوې.

موږ په پښتو کي په تول پوره او د کيفيت په لحاظ بشپړه د خمريه اشعارو نمونه په لومړي ځل د زرغون خان نورزي (890 هـ ق شا وخوا) په ساقي نامه کي وينو چي په ډېر استادانه ډول يې پښتو ادب ته يوه بشپړه پښتو ساقي نامه وبخښله، که څه هم ساقي نامې يا خمريه اشعار لومړی وار د عربو له خوا ويل سوي دي او عجمو، په تېره د فارسي ژبي شاعرانو له دوی څخه تقليد کړی دی، خو وروسته__وورسته د ځينو پخو شاعرانو له خوا په فارسي ژبه کي په ډېر استادانه ډول ساقي نامې وويل سوې چي په دغه ډله کي نظامي ګنجوي، ظهوري تهراني (1025 هـ ق مړ) او خواجه حافظ (791 هـ ق مړ) هغه شاعران دي چي نسبتاً نورو شاعرانو ته يې ډېري پخې ساقي نامې ويلي دي او ځانونه يې په دغو ساقي نامو کي داسي مست او خراب ښوولي دي چي ګواکي له دين او دنيا څخه بې خبره دي، خواجه حافظ شيرازي خپله ساقي نامه داسي پيلوي:

بيا ســـــاقي آن آتــش تـــــابناك

كه زردشت ميجويدش زير خاك

بمن ده كــه در كيش رندان مست

چـــه آتش پرست و چه دنيا پرست

بيار ساقي آن بكر مستور مست

كـــه اندر خــــــرابات دارد نشست

بمن ده كـــــه بدانام خواهـــم شدن

خـــــــــراب مى و جام خواهم شدن

)د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوك، د علامه حبيبي، 1342 لمريز كال د كابل چاپ__185 مخ.(

په همدې ترتيب سره خواجو کرماني (753 هـ ق مړ)، مولانا عبدالله هاتفي هروي (927 هـ مړ)، حکيم پرتوي (941 هـ ق مړ)، ملا ظهوري (999هـ ق شا وخوا)، مير سنجر کاشاني (1023 هـ مړ)، نورالدين ظهوري (1024 هـ ق مړ) او... په فارسي ادب کي د خمريه اشعارو بېلابېلي نمونې پرې ايښي دي.

خو عمر خيام په خپلو څلوريځو کي د خمريه اشعارو يوه ډېره ښه او پخه بولګه دنيا ته پرېښي دي او په خمريه اشعارو کي يو خاص سبك او رنګ خپلوي، چي بيا تر خيام وروسته دغه خمريه اشعار د مثنوي په فورم کي يو بل رنګ پيدا کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو که په عمومي ډول ووايو، نو پښتو ژبه هغونه ساقي نامې

او خمریه اشعار نه لري لکه فارسي ژبي چي درلودل او

لري يې.

ما وړاندي هم وويل چي موږ په پښتو کي بشپړه پښتو ساقي نامه په نهمه هجري پېړۍ کي د زرغون خان نورزي (890 هـ ق شا وخوا) په برکت پيدا کوو چي په حقه سره يې د ساقي نامې ټول اصول مراعت کړي دي او په ډېر مست او خراب انداز کي يې ډېره ښکلې ساقي نامه ويلې ده، زرغون خان خپله ساقي نامه داسي را پيلوي:

ســـــاقي پاخه پياله راکړه

مـــــــرور يار مي پخلا کړه

اوبه تويي په لـــــــــــنبو کړه

اور مي مړ په دې اوبو کړه

پســــرلی سو غنچه گل کا

زلـــــــفي تاوي د سنبل کا

بلـــــــبلان شور و فغان کا

کـــــــړېدن په گلستان کا

زاهـــد وزي صومعې څخه

شراب پيري ميخانې څخه

هر سړی په ميو مست دی

دې بهار کي گلپرست دی

)د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوك، د علامهحبيبي _182 مخ.(

خو لکه څنگه چي ښايېدل، تر زرغون خان نورزي وروسته په پښتو کي ساقي نامو او خمريه اشعارو ته توجه نه وسوه او په مجموعي ډول د کوم شاعر له خوا نه وويل سوې، اصلاً که موږ د پښتو ادب د لرغوني دورې او منځنۍ دورې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعرانو په باب ځېړنه کوو، نو داسي شاعر نه لرو چي په پراخه پېمانه دي يې خمريه اشعار ويلي وي او يو درست دېوان دي يې له خمري اشعارو څخه پرې ايښی وي (البته د هر شاعر له لوري به خمريه اشعار ويل سوي وي، خو داسي ساقي نامې يا خمريه اشعار يې نه دي ويلي چي په زرو بيتونه دي ور ته ځانګړي سوي وي).

د پښتو ادب په معاصره دوره کي به زما په نظګګر لومړی شاعر اروانښاد غني خان وي چي په نوي ډول او پراخه پېمانه يې خمريه اشعار ويلي دي، اروانښاد استاد بېنوا هم د خمري اشعارو ځيني نمونې لري چي په خپلو همزولو شاعرانو کي يې په دغه برخه کي ښه مقام ګټلی دی، اروانښاد اشرف مفتون هم د خمري اشعارو ځيني نمونې لري چي د خمريه اشعارو په څېړنه کي پوره بحث پر کېدلای سي.

خو په اوسنۍ دوره کي ښاغلی عبدالباري جهاني هغه شاعر دی چي تر ډېرو او حتی تر ټولو شاعرانو يې ډېر خمريه اشعار ويلي دي او په دغه برخه کي يې ځانله يو بېل مقام تر لاسه کړی دی او يو خاص سبك يې را منځته کړی دی، تاسو د دوی د خمريه اشعارو دغه وړه نمونه وګورئ:

زه دين او دنيا دواړه په يو جام سودا كـومه

ساقي داسي حريف دي بل ليدلی دی كه نه

ګرداب کي د مستيو مي مذهب را څخه ورك سو

تا ځان داسي معراج ته رســـــــــــــــولی دی كه نه

خير دا خو بېل بحث دی او په دغه باب بايد بېله ليکنه وسي، خو له دې نسبتاً اوږدې يادوني څخه مي هدف دا و چي ښاغلی عبدالباري جهاني په اوسنۍ دوره کي هغه شاعر دی چي ډېر خمري اشعار يې ويلي ديْ، مګر د عمر خيام د څلوريځو په ژباړو سره يې پښتو ژبي ته د خمريه اشعارو داسي بېلګه وړاندي کړه چي تر دې وړاندي يې هيڅ نه وه موندلې.

په منظوم ډول د شعر ژباړه هغه ستوځ کار دی چي ډېر کم کسان زړه ور ته ښه کوي او ډېر کسان په دغه هڅه کي پاته هم راغلي دي.

د خيام فارسي څلوريځي په پښتو کي د ډېرو کسانو له لوري ژباړل سوي دي، خو له بده مرغه هغه ترکيبات، هغه سمبولونه او هغه ځانګړي کلمات چي خيام کارولي، په پښتو کي هغسي و نه ژباړل سول، ابوالخير ځلاند د خيام د ژباړو ځانګړی کتاب خپور کړی دی، خو زه دا نيوکه پر کولای سم چي سمه ژباړه نه سو ور ته ويلای، نه د خيام شاعرانه اروا پکښې ده او نه په هغه ډول ژباړل سوي دي لکه په خپله ژبه کي چي څونه خوند کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي محمد صديق پسرلي يو چا ته ويلي وه چي د خيام څلوريځي ما هم ژباړلي دي او نورو کسانو هم، خو د ښاغلي جهاني ژباړه تر ټولو ښه خوند کوي.

ښاغلي جهاني که له يوې پښتو ته د څلوريځو يوه درنه ذخيره راوړله، نو له بله پلوه يې ډېر پښتانه په دغو ژباړو سره د خيام له شاعرۍ سره په داسي ډول اشنا کړل، لکه څنګه چي د خيام آره څېره ده.

ما وراندي هم وويل چي د خيام ځيني څلوريځي تر دې وړاندي پښتو ته را ژباړل سوي دي، خو هغه مستي، بېباکي، له اوره ډکي او له دين او دنيا څخه بې پروا خبري نه پکښي ښکاري، د دې لوی علت به ښايي دا وي چي هغو کسانو چي دغه څلوريځي يې را ژباړلي دي، هغه په

خپله تقريباً د دغسي سبك سره اشنايي نه لري، خو ښاغلي جهاني ځکه په دې کار کي ډېر بريالی سوی دی چي

دوی په خپله له دغسي طريقې سره پوره بلديت لري او په خپله يې هم د خمري اشعارو په برخه کي ځانته جلا نوم

ګټلی دی.

يوه بله د يادوني وړ خبره دا ده چي ښاغلي عبدالباري جهاني ته په منظومو ژباړو کي خدای ښه استعداد او کمال ور کړی دی، دوی که په متفرق ډول پښتو ته ځيني اشعار را وژباړل، خو د (بګهت کبير د پښتو په بڼ کي) د اشعارو ترجمه يې پښتو ته داسي اهدا ده چي تر عمرونو_عمرونو به پسوللې په ښکاري، مګر د خيام د څلوريځو ژباړه يې بله داسي ستره پېرزوينه ده چي هم پښتو او هم پښتانه په سرشاره سول، تاسو ته به زه د بيلګي په ډول لومړی د عمر خيام فارسي څلوريځه او بيا د ښاغلي جهاني پښتو ژباړه راوړم، چي د ښاغلي جهاني د منظومي ترجمې ځواك در ته معلوم سي:

صبحي خوش چه مست خيز ای ساقی

در شيشه کـــــن آن شراب از شب باقی

جـــــــــام می بمن آور و غنيمت ميدان

اين يـــکدمه نـــــقد را و فـــــــــردا باقی

او دا هم د ښاغلي جهاني پښتو ژباړه:

ســـــــــاقي پورته سه سهار دی څه تازه نسيم چليږي

چي د شپې دي در ته پـاته هـغه می ته مي زړه کيږي

را ته ډکـــــــــــه مي پياله کـــــــــه دغه دم غنيمت بوله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوه شېبه ده نــــــغده ســـــــــبا هر څه چي پېښيږي

تاسو وګګورئ چي لومړی په ژباړه کي څونه له امانته کار اخيستل سوی دی او څنګه چي په خپله آره ژبه کي ده، څونه کټ مټ هغسي را ژباړل سوې ده او بل په څونه شوخ انداز را ترجمه سوې ده او څونه د پښتو رنګ ور کول سوی، د دغو څلوريځو انګرېزي ژباړه هم ما ليدلې ده، مګر څونه چي زه په پوهېدلی یم هغونه خوند نه کوي لکه په پښتو کي چي ښاغلي جهاني دغه خوند ور اضافه کړی دی، نه په انګرېزي کي د می، ساقي، پياله، زاهد، جنت او دوږخ کلمات په هغونه مستانه او راندانه ډول کارول سوي دي، لکه په خپله فارسي کي چي عمر خيام کارولي دي، مګر په پښتو کي موږ دا دعوه کولای سو چي ښاغلي جهاني دغه کلمات او الفاظ بلکل هغسي بيان کړي دي، لکه د فارسي هغې دا. دا طبيعي خبره ده چي يو اثر به په خپله ژبه کي ببل خوند لري او چي وژباړل سي، نو ښايي هغونه خوند و نه کړي، مګر تاسو د خيام دغه لاندي فارسي څلوريځه وګورئ او بيا د ښاغلي جهاني ژباړه وګورئ چي څنګه يې ارزولای سو:

از دير بــــــــرون آمـــــــــد ناپاك تنی

وز دود جــــــهنم بتنش پيرهــــــــــــــــــنی

بســـــكشت صراحيم كه عمرش كم باد

وانګه چی می لطيف و مردی چو منی

دا هم د ښاغلي جهاني ژباړه:

لـــــــــــه خلوته را وتلی کـــــــــــــــــرغېړن لړلی ځان و

دوږخي جـــــامې اغوستي په زړه تور لکه شيطان و

صــراحي يې کړه را ماته خدايه عمر يې ور لنډ کې

هغه څه ښايسته شراب وه دلته ما غوندي انسان و

دلته که د دې ژباړي تخنيکي اړخ ته لږ پام وکړو، نو دا به را ته څرګنده سي چي ترجمه په ډېر قوت سره سوې ده او د فارسي هيڅ اغېز نه دی پر سوی، داسي ژباړه نه ده سوې لکه هغه د لوی استاد علامه حبيبي(رح) خبره چي "يك سلسله معلومات، يك سلسله كتابها" يې په "يو لړ معلوماتو، يو لړ کتابونو او..." ژباړلي وي، يا لکه "تصميم ګرفت" يې په "تصميم ونيوئ" ژباړلي وي.

ننني پښتو له دغسي اصطلاحاتو سره لاس او ګرېوان ده او په تېره بيا د ځينو کسانو له خوا چي ځيني ترجمې کيږي، نو دغسي پردي اصطلاحات په پېخر ور سره راوړي او په زياته بيا که څه نا څه منظومې ژباړي کيږي، نو دغه لوی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکل وي، مگر ښاغلي جهاني خو اول په خپلو ټولو منظومو ژباړو کي خپله طبيعي ژبه کارولې ده او بل يې په ډېر صداقت سره هغه شعري الفاظ او کلمات ژباړلي دي او په اصطلاح آزاده ژباړه يې نه ده کړې چي يوازي دي يې د هغه د خيال يو څرك را نقل کړی وي.

د "از دير برون آمده ناپاك تني" پښتو ژباړه يې په ډېر ښه انداز سره کړې ده چي "له خلوته را وتلی کرغېړن لړلی ځان و" ما خو چي دغه فارسي نيم بيتي ته هر څونه چرت وواهه چي بايد په ډېر معياري ډول څنگه را وژباړل سي، نو په پای کي مي دا پرېکړه وکړه چي ښاغلي جهاني چي په څنگه ډول را ژباړلی دی، تر دې به ښايي په دغسي سبك او طرز کي کي تر دغي ژباړي بل ډول ښه و نه ژباړل سي.

زه به د خپلي خبري د ذبات لپاره لا يوه دريمه بولگه هم وړاندي کړم، تر څو مو پرېکړه را سره منل سوې وي:

هــــــان تان بر مستان بدرشتی نشوی

يا از در نيـــــــــــــــکوان بزشتی نشوی

می خور کی بخوردن و بنا خوردن می

گــــــــــــر آنست دوزخی بهشتی نشوی

او دا هم د ښاغلي جهاني پښتو ژباړه:

پام چــــي زړونه آزاگر نه کــــې د مستانو د رندانو

نه په تونده ژبه ستون سې له چارچوبه د نېکانو

په پرهېز او په چــــــــــــښلو د سرو ميو نه بدلېږي

نه ازل د دوږخـــــــــــــيانو نه نصيب د جنــــــــتيانو

په لنډ ډول که ووايم نو ښاغلي جهاني د خيام د څلوريځو په ژباړه سره د پښتو شعر تله خورا درنه کړې ده او د ادب مينان به د دوی دغه ستر احسان تر تله مني او دوی ته به د دغه ابتکاري کار کوروداني وايي.

زما خو دغونه وس و چي د ښاغلي جهاني پر دغو ژباړو مي يو وړوکی نظر څرگند کړ او هيله لرم چي درانه پوهان به پر دغه کار نوري ډيري څېړني وکړي.

په پای کي زه د ښاغلي عبدالباري جهاني د يوه کشر شاگرد په حيث دوی ته د دغه نوښتگر کار مبارکي وايم او دوی ته د اوږده او سوکاله ژوند دُعا کوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مینه او ادب

عبدالقدیم پتیال

12ثور 1384

کندهار_ دوهمه ناحیه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خيام سُرونه د پښتو په تال کي

از آتش ما دود کجا بود اینجا

وز مایه ما سود کجا بود اینجا

آن کس که مرا نام خراباتی کرد

در اصل خرابات کجا بود اینجا

سر ترپايه سره لمبه سوو څوك اګاه سول په دودونو

د مايې ګټه مو څه سوه څوك خبر په حسابونو

چي مي نوم د چا پر شونډو شرابي خراباتي و

دلته چيري خرابات و څوك سېراب سول له خمونو

چون عهده نمیشود کسی فردا را

حالی خوش دار این دل پر سودا را

می نوش بنور ماه ای ماه که ماه

بسیار بتابد و نیامد ما را

څه معلومه ده سبا به څوك باريږي څوك پاتيږي

زړه دي مست لره له ميو چي نوبت درنه تېريږي

د سپوږمۍ په نور يې نوشه سپوږمۍ مخي چي سپوږمۍ به موږ پيدا پر مځکه نه کړي په پېړيو به ځلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاقل به چه امید درین کهنه سرا

بر دولت او نهد دل از بهر خدا

هر گاه که خواهد که نشیند از پا

گیرد اجلش دست که بالا بنما

دا به څرنگه هوښیار وي دې زاړه کور ته راغلی

څه امید به ورسره وي چي يې زړه وي په ترلی

چي زړه شینی له ستړیا سي چی آرام ته د چا زړه سي

بیا اجل ورته ولاړ وي وایې لوړ يې چا بللی

هر چند که رنگ و روی زیباست مرا

چون لاله رخ و سرو بالاست مرا

معلوم نشد که در طربخانه خاك

نقاش ازل بهر چه اراست مرا

که هر څونه ښایسته یم که هر څونه یمه ښکلی

که مي مخ لکه لاله دی لکه سرو یم ښاغلی

زه پوه نه سوم چی د خاورو کارخانې ته څنگه ولاړم

د ازل نقاش زه څنگه په دې رنگ یمه تراشلی

گر درگذرم بباده شویید مرا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلقین زشراب ناب گویید مرا

خواهید بروز حشر یابید مرا

از خاك در میکده جویید مرا

که زه مړ سومه یارانو په شرابو غسل را کړئ

او تلقین به د سرو میو زما په غوږ کي په بیا بیا کړئ

که په ورځ کي د محشر مو پر میدان کله په کار سوم

ما له خاورو د مغان او میخانې څخه پیدا کړئ

تا بتوانی طعنه مزن مستانرا

بنیاد مکن تو حیله و دستانرا

تو غره مشو بدانکه می می نخوری

صد کار کنی که می غلامست آنرا

چي دي وس رسېږي مه کړه د مستانو پېغورونه

په ټګۍ او په تذویر چي پسي جوړ نه کړې نکلونه

د شرابو له پرهېزه چي مغروره په ځان نه سې

چي شراب ورته غلام دي داسي سل کوې کارونه

آمد سحری ندا زمیخانهٔ ما

کای رند خراباتی دیوانهٔ ما

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخیز که پر کنیم پیمانه زمی

زان پیش که پر کنند پیمانهٔ ما

سحرگاه سو آواز پورته میخانه کي له مغانه

واوره زموږ د ټولۍ رنده لېونیو کي سلطانه

پاڅه ډکي پيمانې کو له سرو میو هسي نه چي

زموږ را ډکي پيمانې کي موږ خبر نه سو له ځانه

بابط میگفت ماهی در تب و تاب

باشد که به جوی رفته باز آید آب

بط میگفت که چون من و تو گشتیم کباب

اندر پس مرگ ما چه دریا چه سراب

تپېدی ماهی پر مځکه ویل بطي تا لیدلي؟

چي راځي اوبه ویالې ته چي پخوا وي پکښي تللي

بطی وویل ماهیه چي موږ دواړه نن کباب سوو

پس له مرگه څه سراب وي څه رودونه بهېدلي

ماییم و می و مطرب و این کنج خراب

دین و دل و جام و جامه در رهن شراب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارغ ز امید رحمت و بیم عذاب

آزاد زخاك و باد و از آتش و آب

موږیو، می دي، خرابّات دی، مطرب، شرنگ د ربابونو

دین و زړه جام و جامه مو ټوله گرو د شرابونو

نه امید مو د رحمت سته نه مو ډار له عذابونو

موږ آزاد له خاورو، باده، له اوبو او له اورونو

ما و می و معشوق درین کنج خراب

جان و دل و جام و جامه در رهن شراب

فارع زامید رحمت و بیم عذاب

ازاد زخاك و باد و از آتش و آب

زه او می و معشوق دلته د مغانو په کونجونو

زړه او روح جام او جامه مي په گروي د شرابونو

نه مي تمه د رحمت سته نه مي ډار له عذابونو

زه ازاد له خاورو باده له اوبو او له اورونو

چندان بخورم شراب کین بوی شراب

آید ز تراب چون شوم زیر تراب

تا بر سر خاك من رسد مخموری

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



از بوی شراب من شود مست و خراب

غواړم دومره شراب وڅکم چي می بوی د شراب راسي
د هغه قبر له خاورو چي تر لاندي مړی زما سي
چي خمار حریف تېرېږي زما پر خاوره زما پر قبر
د شرابو بوی یې مست کي خرابي ورته پیدا سي

تا بتوانی غم جهان هیچ مسنج
بر دل منه از آمده و نامده رنج
خوش میخور و میباش درین دیر سپنج
با خود نبری جوی اگر داری گنج

چي دي توان وی چی ونه خوري د فانی دنیا غمونه
پر زړه بار نه کې د تللیو او راتلونکو شپو غمونه
دي پردی مېنه کي تېری شپې په میو په خوښۍ که
خزانې به دي وي پاته تري به درومې تش لاسونه

چون عمر همی رود چی شیرین وچی تلخ
پیمانه چو پر شود چی بغداد و چی بلخ
می خور که پس از من و تو این ماه بسی
از سلخ بغره آید از غره بسلخ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ترخې دي که خوږې دي دا د عمر شپې تېرېږي

څه توپیر بلخ او بغداد کړي پیمانه چي دي ډکېږي

نوشوه پیالې د میو زما او ستا وروسته به میاشتي

په سهار کي به ختمېږی په ماښام به نوي کېږی

خیام که خیمه های حکمت میدوخت

در کوه غم فتاد و ناگاه بسوخت

مقراض اجل طناب عمرش ببرید

دلال امل به رایگانش بفروخت

چي خیام په ټوله ژوند کي د حکمت خېمې ګنډلې

د غم اور کي یې ناڅاپه خپلي نیلي وسوځلې

د اجل بیاتي یې غوڅ کړ هغه ټینګ د عمر مزی

او پیسې دلال د هیلو باندی مفتي واخستلې

من بندهٔ عاصیم رضای تو کجاست

تاریك دلم نور صفای تو کجاست

مارا تو بهشت اگر بطاعت بخشی

این بیع بود لطف و عطای تو کجاست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بنده يم ګناه کاره ستا رضا چيري ده ربه

تاريك زړه ته مي ستا نور او ستا صفا چيري ده ربه

را بخښي که جنتونه په لمونځونو طاعتونو

دا خو بيه سوله خدايه  ستا عطا چيري ده ربه

صد خانه ز خوناب دلم ويران است

وز ګريهٔ زار بيم صد چندانست

از هر مژه ناودان خون است روان

ګرمن مژه را بهم زنم طوفان است

د زړه وينو مي خراب کړل سل آباد ښکلي کورونه

له ژړا به مي لا وران سي داسي نور هم په سل ګونه

زما له هر باڼو روان دي د سرو وينو ډك رګونه

که مي سترګي کړلي پټي جوړومه توپانونه

ساقی نظری که دل ز اندیشه تهی است

شیران همه رفته اند سر بیشه تهی است

هر شب زحیات کف زدی شیشه چرخ

امروز که نوبت ما بود شیشه تهی است

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقی یو نظر دي غواړم زړه خالي له اندېښنو دی

زمري تللي له میدانه برم یې تللی له گوښو دی

هره شپه دي گرځولې سرې پیالې ډکې له میو

نن چی زموږ نوبت راغلی رنگ دي تللی د پیالو دی

این کهنه رباط را که عالم نامست

آرامگه ابلق صبح و شام است

بزمیست که واماندهٔ صد جمشید ست

قصریست که تکیه گاه صد بهرامست

دغه زوړ رباط چي گوري د عالم په نوم یادېږي

هدیره د ورځو شپو ده چی ابلق په رنگ ښکارېږي

دا له سل جمشیده پاته بزم نه دی ستړی سوی

دا مانۍ د سل بهرامو په میراث بل ته پاتېږي

اکنون که گل سعادت پر بار است

دست تو زجام می چرا بیکار است

می خور که زمانه دشمن غدار است

دریافتن روز چنین دشوار است

دغه نن چي دي بخت ویښ دی چي دي لاس ځای ته رسېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جام دي ولي لاس كي نسته شراب ولي نه ښكاربږي

مى چښه چي زمانه ده هم دښمنه هم چمبازه

دا د نن په شاني ورځي په مشكله پيدا كېږي

ساقى گل و سبزه بس طربناك شده است

درياب كه هفتهٔ ديگر خاك شده است

مى نوش و گلى بچين كه تا در نگرى

گل خاك شده است و سبزه هم خاك شده است

ساقي گل دى غوړېدلى سبزه هم تازه ښكاربږي

دا پنځه ورځي مستي ده سبا هر څه خاوري كيږي

پياله ډكه كه له ملو گېډۍ جوړه كه له گلو

چي سبا به وي گل خاوري سبزه هم نه معلومېږي

مى لعل مذاب است و صراحى كانست

جسم است پياله و شرابش جانست

آن جام بلورين كه زمى خندانست

اشكيست كه خون دل درو پنهانست

سره شراب ويلي لعلونه صراحي د لعلو كان دى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاله جسم دی یارانو او شراب یې روح او ځان دی

د بلوړو هغه جام چي له سرو میو نه خندان دی

هغه اوښکي دي چيویني د زړه غم پکښې پنهان دی

ایزد چو گل وجود مامی آراست

دانست زفعل ماچه بر خواهد خواست

بی حکمش نیست هر گناهی که مراست

پس سوختن روز قیامت زکجاست

چي خالق ختې اخښلې د وګړو د تنونو

ښه خبر و ښه آګاه زموږ په ټولو عملونو

زه چي هره ګناه کړمه فیصله حکم دده دی

بیا پر څه سوځول کېږم په قیامت کي په اورونو

این کوزه که ابخوره مزدوری است

از دیدهٔ شاهی و دل دستوری است

هر کاسه می که بر کف مخموری است

از عارض مستی ولب مستوری است

دا کوزې چي نن په لاس کي د مزدور او د دهقان دي

یا له زړه د حاکم جوړي یا له سترګو د سلطان دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چی گرځي په لاسونو د مستانو کي جامونه

له باړخو د مستي پيغلي یا له شونډو د جانان دي

اسرار جهان چنانکه در دفتر ماست

گفتن نتوان که این وبال سر ماست

چون نیست درین مردم نادان اهلی

نتوان گفتن هر آنچه در خاطر ماست

د جهان هغه اسرار چی پټ دي زموږ په دفترو کي

که پر خوله باندي یې راوړو سر مو ځي په غرغړو کي

دې دنیا کي نه هوښیار سته نه د راز اهل پیدا سو

پټوو به یې له خلکو په سینو په خاطرو کي

گویند مخور مي مه شعبان نه رواست

نه نیز رجب که آن مه خاص خداست

شعبان و رجب مه خدایند ورسول

ما می رمضان خوریم کان خاصه ماست

په برات کي ناروا دي چي چښي څوك شرابونه

او رجب د خالق میاشت ده درته گوري عذابونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برات او رجب مياشتي که د خداي او د رسول دي

نو يو روژه سوه پاته تشوو به ډك خمونه

ساقی غم من بلند اوازه شده است

سر مستی من برون ز اندازه شده است

با موی سفید سر خوشم کز خط تو

پیرانه سرم بهار دل تازه شده است

ساقی زما د غم خبرو اوس اخيستي دي ښارونه

سر مستي ته مي لاگوره چی له حده سوه بېرونه

که هر څو مي وېښته سپين دي ستا له خطه مستي راسي

په رنگ زوړ يم خو پر زړه نوي سوي بهارونه

آنی که دم مسیح یارت شده است

بخشیدن جان همیشه کارت شده است

جان بخشش تو است گر فدای تو کنیم

هم گوهر گنج خود نثار تو شده است

له يارۍ دي پاکه خدايه د مسيح روح دی ښاغلی

تا ژونديو د جهان ته د حيات قسمت منلی

روح او زړه دی تا راکړی که يې بيرته ستا قربان کو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوهر ستا د خزانې دي او موږ بيرته در بخښلی

دوری که درو آمدن و رفتن ماست

اورانه بادیت نه نهایت پیداست

کس می نه زند دمی درین معنی راست

کین آمدن از کجا و رفتن بکجاست

هغه دور د زمان چي پکښي زموږ ژوند او فنا سته

نه هغه ته ابتدا سته نه هغه ته انتهی سته

نه يې تلل چا ته معلوم دي نه راتلل يې چاته ښکاري

نه د چا سره اسرار يې د مفهوم او د معنی سته

یارب تو کریمی وکریمی کرم است

عاصی از چه رو برون زباغ ارمست

با طاعت از ببخشی آن نیست کرم

با معصیتم اگر ببخشی کرمست

ته کریم يې لویه خدایه ته خالق د نعمتونو

گناهکار ولي محروم دی د ارم له شنو باغونو

کرم نه دی چي بخښې مي په طاعت او په لمونځونو

دا کرم دی چي بخښې مي چی یم بار په گناهونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورشید سپهر بې زوالی عشق است

مرغ چمن خجسته فالی عشق است

عشق آن نبود که همچو بلبل نالی

هر گه که بمیری و نه نالی عشق است

پر آسمان باندی لمر گورې دا د عشق بې زوالي ده

پر چمن چي بلبل گرځي دا د مینی نیك فالي ده

هغه مینه چي ریشتیا نه ده چي بلبل رنگه فریاد کړي

څوك چي ومري بې فریاده هغه مینه ازلي ده

گر گل نبود نصیب ما خار بس است

ور نور بما نمیرسد نار بس است

گر خرقه وخانقاه وشیخی نبود

ناقوس کلیسا و زنار بس است

په قسمت که مو گل نه وي نو دا خار را لره بس دی

او که نور نه رارسېږي نو بیا نار را لره بس دی

که خرقه او خانقا مو په نصیب ختلې نه وي

نو ناقوس کلیسا زموږ ده او زنار را لره بس دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکی و بدی که در نهاد بشر است

شادی و غمی که در قضا و قدر است

باچرخ مکن حواله کاندر ره عقل

چرخ از تو هزار بار بیچاره تر است

ښه او بد چي اخښل سوي په ريښه کي د بشر دي

ښادي غم چي ټاکل سوي له قضا او له قدر دي

له آسمانه ولي غواړې څه پوښتې د عقل لاري

آسمانونه دي ناکامه او تر تا بېچاره تر دي

دارنده چو ترکيب طبايع اراست

از بهر چه او فگندش اندر کم وکاست

گر نيك آمد شکستن از بهر چه بود

ور نيك نيامد اين صور عيب کراست

چي په ژبه د قلم يې د عالم برخې وېشلي

ولي څوك تر مځكي لاندي څوك آسمان ته دي ختلي

كه دا ښه وه كه ښايسته وه څه هدف د ماتولو

عيب د چا بولئ هوښيارو كه پيدا نه وه څوك ښكلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقی زمی که لعلت آن ساقی است

دل بر نکنم تا دمی از من باقیست

مشتاقم از آن بدیدنت مشتاقم

گستاخی من زغایت مشتاقی است

ساقي ستا له سورکو شونډو د سره می ارمان لرمه

چي مي يو نفس باقي وي لا به زړه پوری ترمه

په ديدن پسې ړوند يم شپه او ورځ دي يادومه

مستي واوښته له حده گستاخي ځکه کومه

ساقی که لبش مفرح یاقوت است

دل را غم او قوت وجانرا قوت است

هر کس که نشد کشته بطوفان غمش

در کشتی نوح زنده در تابوت است

د ساقي له سورکو شونډو رنگ راغلی د یاقوت دی

غم يې زړه لره قوت دی، ژوند او روح لره قوت دی

چي هر څوك يې شهيد نه سي په توپان کي د غمونو

په کښتۍ کي د نوح سپور دی په ژوندوني په تابوت دی

ساقی ببرم گربت یاقوت لب است

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وز آب خضر بجای آب عنبست

گر زهره بود مطرب و همدم عیسی

چون دل نه بجا بود نه جای طربست

چی پر ځنگ مي گل اندام وي شونډي سرې لکه لعلونه

خضر سر پر سر را ډك كي د حيات اوبه جامونه

د زهرې په لاس رباب وي مسيحا يې وي ملګری

چي مي زړه په ځای كي نه وي څه مستي څه يې خمونه

ساقی مه رخسار تو جان همه است

دلدار من است و دلستان همه است

خورشید صفت بمهر ذرات خوش است

تنها نه ازان من که زان همه است

ساقي سپين رخسار جار سم چي د ټولو روح او ځان دی

زما يې زړه راښخه وړی خو د ټول جهان جانان دی

لکه لمر هسي خوشاله د ذرو په نازولو

زما محبوب يوازي نه دی دا معشوق د ټول جهان دی

می خوردن نه از برای طربست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه زبهر نشاط وترك دين وادب است

خواهم كه دمی ز خويشتن باز رهم

می خوردن و مست بودنم زان سببست

زما ياري له ميو نه ده د مستۍ د زياتولو

نه دپاره د خوښۍ دي نه د دين د پرېښودلو

زړه مي غواړي چي فارغ سم يو گړی له خپله ځانه

ځكه لار مي ده اخيستې د پيالو د تشولو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیام سُرونه د پښتو په تال کي

ای چرخ فلك خرابی از کینه تست

بیداد گری پیشهْ دیرینه تست

وی خاك اگر سینهْ تو بشکافند

بس گوهر قیمتی که در سینه تست

ستا له لاسه شین آسمانه پر جهان د غم نارې دي

ظلم ستا زړه پېشه ده پر نړۍ دي سترګي سرې دي

هغه ورځ به سي معلومه چي د خاورو سینه چاك سي

چي يې څه سیپۍ ځای کړي په قفس کي د سینې دي

ګرشاخ بقاز بیخ بختت رستست

ور بر تن تو عمر لباسی چستست

در خیمه تن که سایه بانی است ترا

هان تکیه مکن که چار میخش سستست

که له خاوري د طالع دي د بقا وزي ښاخونه

او په تن دي وي اغوستي د اوږد عمر لباسونه

ها د تن خیمه دي ګوره چي یې تل سیوري ته ناست يې

پام تکیه وربانديي مه کړه چي ډېر سست يې دي میخونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاری که دلم زبهر او زار شدست

او جای دگر بغم گرفتار شدست

من درطلب علاج خود چون کوشم

چون آنکه طبیب ماست بیمار شدست

هغه یار چي تل یې غواړم چي مي زړه پسي افگار دی

اوس په غم د بلي مینی د دردونو گرفتار دی

زه به څرنگه ترې غواړم خپل علاج د پرهارونو

چي د رنځ به مي طبیب و دی پخپله اوس بیمار یم

هر سبزه که بر کنار جویی بودست

گویی که خط فرشته خویی بودست

پا بر سر سبزه تا بخواری ننهی

کان سبزه ز خاك ما هر ویی بودست

څه سبزه چي دلته وینې چی پر غاړه د ویالو وي

د هغو گلرخو خط دی چي په خوی د فرشتو وي

په احتیاط قدم پر کښېږده په مدار باندی تېرېږه

دا سبزه به هم له خاوري د مهوشو ښایستو وي

زین پیش نشان بود نیها بودست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیوسته قلم ز نیك و بد ناسود ست

تقدیر ترا هر آنچه بایست بداد

غم خوردن و کوشیدن ما بیهود است

له دې مخکی هم راغلي بې حسابه عالمونه

قلم هره ورځ لیکلي هم نېکۍ هم فسادونه

هغه څه دي په نصیب دي چې تقدیر درته لیکلي

ولی خورې د زړګي ویني بېهوده دي کوښښونه

پیش از من و تو لیل و نهاری بودست

گردنده فلك نیز بکاری بودست

زینهار قدم بخاك آهسته نهی

کان مردمك چشم نگاری بودست

زه او ته چې دلته نه وو هم دا ورځې هم دا شپې وې

دغه دور د اسمان و د دې ستورو پلوشې وې

په مدار څه پر دې مځکه قدم ورو ږده پر دې خاورو

دا به کسي د نګار وو توري سترګي د ښایستې وې

این کوزه چو من عاشق زاری بودست

در بند سر زلف نگاری بودست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وین دسته که در گردن او می بینی

دستیست که در گردن یاری بودست

دا کوزه هم په یو وخت کي لکه زه عاشق بیمار و

تل يې زړه بندي د زلفو په خيالونو د نګار و

دا په غاړه کي يې وينې هغه لاس چی درښکارېږي

هغه لاس دی چي په ژوند کي به په غاړه کی د یار و

در هر دشتی که لاله زاری بودست

ان لاله زخون شهریاری بودست

هر جا که بنفشه از زمین میروید

خالی است که بر روی نگاری بودست

پر بيديا چي غوړيدلی سور بخمل د لاله زار وي

يو نښان به د سرو وينو د ملك او شهريار وي

پر هر ځای چي وي له خاورو بنفشه را ټوکېدلې

هغه خال دی چي به پاته له ښایسته مخ د نګار وي

آنکس که بخوبان لب خندان دادست

خون جگری بدردمندان دادست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گر قسمت ما نداد شادی غم نیست

شادیم که غم هزار چندان دادست

چي گلرخو ته يې ورکړې شونډې سرې لکه لعلونه

د خوږمنو يې نصيب کړل د کوټلو وينو زړونه

غم مو نسته که خوښي يې په قسمت نه ده راکړې

خوښ له دې يو چي يې را کړل راته زر چنده غمونه

چون نیست هر چه نیست جز باد بدست

چون هست زهر چه هست نقصان و شکست

انگار که هر چه در عالم نیست

پندار که هر چه نیست در عالم هست

له نیستئ پاته تش باد دی بل څه نسته په میدان کي

او چي سته لدې هستيه يا ناکام يا په تاوان کي

ګواکي هر څه چي موجود دي هغه نسته په عالم کي

او چي هر څه موجود نه دي هست يې وګڼه جهان کي

گویی که بر نهال تحقیق نرست

زیرا که درین راه کسی نیست درست

هر يك زده اند دست در شاخی سست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امروز چودی شمارم و فردا چونخست

حقیقت ته د رازونو هیڅوك نه دی رسېدلی
د هستۍ پر ورکو لارو څوك سم نه دی ورغلی
چي هر چا دي څه ليدلي حقيقت ورته ښکارېږي
نن پرون غوندي تېر بوله سبا نه دی لا راغلی

زان باده که عمر را حیات دگرست
پر کن قدحی گر چه ترا درد سرست
برنه بکفم که کار عالم سمرست
بشتاب که عمر ای پسر در گذرست

ماته هغه شراب راوړه چي مي ژوند ته بل ژوندون دی
زما پياله که راته ډکه که هر څو دي زړه زبون دی
سر پر سر يې راته راوړه عمر باد غوندي تېرېږي
هره ورځ د کوچ ناري دي هره ورځ سفر دی يون دی

هشدار که روزگار شور انگیزست
ایمن منشین که تیغ دوران تیزست
درکام تو گر زمانه بو زینه نهد
زنهار فرو مبر که زهر آمیزست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښیار اوسه زمانې ته چې له چمه ډك روزګار دی

یو ګړی چی غافل نه سې د وختونو تیغ آبدار دی

که زمان دي په نازونو خوله له شاتو کي در ډکه

پام تر ستوني يې تېر نه کې هوښیار اوسه زهر مار دی

گویند مرا بهشت با حور خوشست

من میگویم که آب انگور خوشست

این نقد بگیر و دست ازان نسیه بدار

کاواز دهل برادر از دور خوشست

هرڅوك وايي ډك له حورو جنتونه مي خوښېږي

زما شراب د انګور خوښ دي شنو پيالو ته مي زړه کېږي

دغه نغده ماته راکه هغه پور دي ستا روزي سي

د ډولو ږغ له ليري پر غوږونو ښه لګېږي

هر دل که اسیر محنت اوست خوشست

هر سر که غبار سرآن کوست خوشست

از دوست بناوك غم ازرده مشو

خوش باش که هر چه آید از دوست خوشست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د ده د عشق اسير دي هغه زړونه دي خوښېږي
هغه سر چاته رسېږي چي د ده په نوم پايېږي
که له دوسته در رسېږي د غم غشی زهير نه سي
پر دوو سترګو يې منظور که چي له دوسته در رسېږي

چون ابر به نوروز رخ لاله بشست
بر خيز به جام باده کن عزم درست
اين سبزه که امروز تماشاگه تست
فردا همه از خاك تو بر خواهد رست

د نوروز وريځي را اوري د غاټول مخ پرېولل کېږي
جام دي ډك که له سرو ميو چي دا وخت رانه تېرېږي
دا سبزه چي پر دښتونو نن په غټو سترګو ګورې
سبا ټوله ستا له قبره ستا له خاوري را ټوکېږي

می گر چه بشرع زشت نامست خوشست
چون بر کف ساقی غلامست خوشست
تلخست وحرامست خوشم میآید
دیرست که هر چيز حرامست خوشست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سره می په شریعت کي ناروا دي زما خوښ دي

د نو خط ساقي په لاس دي، بې بها دي زما خوښ دي

هم ترخه دي هم حرام دي، دواړه توکه مي خوښېږی

له وختونو څه حرام چي پر دنیا دي زما خوښ دي

گویند مرا که دوزخی باشد مست

قولیست ولیك دل درو نتوان بست

گر عاشق ومست دوزخی خواهد بود

فردا بینی بهشت را چون کف دست

راته وايي چي مستان به په قیامت کي دوږخیان وي

اوریدلي خو ما هم دي اعتبار به یو څه گران وي

که مستان عاشقان دواړه د دوږخ کندي ته بوزي

د اورغوي په څېر پاك به ټول جنت خالي میدان وي

تا هشیارم طرب زمن بنهانست

ور مست شوم در خردم نقصانست

حالیست میان و مستی و هوښیاری

من بنده آن که زندگانی آنست

چي هوښیار یم او پر سد یم رانه پټ د طرب زړه دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او چي مست يم له سرو ميو بيا مي عقل پوره نه دی

يوحالت دی په دا منځ کي نه مستي نه هوښياري ده

زه بنده د هغه آن يم که ژوندون دی نو هغه دی

ای دل چو نصيب تو خون شدنست

احوال تو هر لحظه دگر گون شدنست

وی جان تو بدين بدن چی کار آمده ای

چون عاقبت کار تو بيرون شدنست

اې زړگيه چي نصيب دي همېشه زخمي کېدل دي

هر گړی هره شېبه دي په قسمت کي بدلېدل دي

او نفسه دې بدن ته څه دپاره يې راغلی

عاقبت چي دي په برخه له دې تن څخه وتل دي

اجزای پيالهٔ که در می پيوست

بشکستن او روا نميدارد مست

چندين سرو دست نازنين از سر دست

از مهر که پيوست و بکين که شکست

څه توکري چی جامونه د شرابو ترې جوړېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتولو ته يې كله د مستانو زړونه كېږي

څو نازك پښې او لاسونه څو ښايسته ښكلي مخونه

كومي ميني پيدا كړي او په كوم غضب ماتېږي

آن به كه درين زمانه كم گيری دوست

با اهل زمانه صحبت او دور نكوست

آنكس كه بكلی اعتماد تو بر اوست

چون چشم خرد بازكنی دشمنت اوست

ښه خو دا چي دې زمان كي د سړي ډېر كم ياران وي

د دې دهر د سړيو شناخت له ليری بې تاوان وي

هغه څوك چی در نږدې دي پر هغه چی اعتماد كړې

چي د هوښ په ستر گو گورې ستا دښمن بلا د ځان وي

يك جرعهٔ می ز ملك كاووس بهست

وز تخت قباد و مسند طوس بهست

هر آه كه رندی بسحرگه كند

از نالهٔ زاهدان سالوس بهست

د سرو ميو جام مي خوښ دی د كاووس تر اقليمونو

هم له تخته د قباده هم په طوس كي له تختونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي رندان په سحرگاه کي آه له خولې باسي خالق ته

هغه ښه دی د شيخانو د ريا تر فريادونو

ساقی که رخت زجام جمشيد بهست

مردن برهت ز عمر جاويد بهست

خاك قدمت که روز من روشن ازوست

هر ذره زصد هزار خورشيد بهست

ساقي نوم به دي ور نه کړم نه پر جم نه پر جامونو

مرگ مي ستا په لار کي خوښ دی تر ابده له عمرونو

د قدم خاوري دي جار سم چي مي نور د ژوندانه دی

تر ذرې به يې قربان کم لښکرونه د لمرونو

امروز ترا دسترس فردا نيست

و انديشه فردات بجز سودا نيست

ضايع مکن اين دم از دولت بيدار نيست

کين باقی عمر را بها پيدا نيست

چي دا نن دي په قدرت کي يو گړی د سبا نسته

د سبا فکر سودا ده ورته بله معنی نسته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دم دي غنيمت دی ضايع نه سي که هوښيار يې

باقی عمر معلوم نه دی نا معلوم ته بها نسته

اکنونکه جهان را بخوشی دسترس سیست

هر زنده دلی را سوی صحرا هو سیست

بر هر شاخی طلوع موسی دستیست

در هر نفسی خروش عیسی نفسیست

د چا لاس چي تر خوشيه ور رسېږی وخت يې دا دی

د هر چا چي زړه ژوندی دی نو هوس يې د صحرا دی

په هر ښاخ کي د ګلونو د موسی د لاس اثر دی

هر نفس چي ايستل کېږي پکښي خروښ د مسيحا دی

در پرده اسرار کسی را راه نیست

زین تعبیه جان هیچکس آگه نیست

جز در دل خاك تیره منزلگه نیست

بشنو که چنین فسانها کوته نیست

د اسرار پردو ته تللي ټولي لاري يې تيارې دي

هلته هر عقل کوته دی د هر چا پر فکر شپې دي

د هستۍ وروستی رباط دی تور زړګی د تورو خارو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د زړه په غوږو واوره چي اوږدې دا افسانې دي

ساقی قدحی که کار عالم یك نفس ایست

گر شادی او یك نفس آن نیز بسیست

خوش باش به هر چه پیشت آید که جهان

هر گز نشود چنان که دلخواه کسیست

ساقي جام د میو راکه د عالم کار یو نفس دی

که خوښي یې یو نفس وي هغه هم را لره بس دی

چي هر څه درته رسیږي په خوښیږه په جهان کي

نه جهان د چا په زړه دی نه یې کار د چا په وس دی

ابر آمد و باز بر سر سبزه گریست

بی باده گلرنگ نمی باید زیست

این سبزه که امروز تماشاگه ماست

تا سبزه خاك ما تماشاگه کیست

وریځي راغلې سره اوري بیا پر شنو دښتو ژړیږي

بې گلرنگه سرو شرابو ژوند عبث خوشي تېریږي

نندارې ته چي عالمه را وتلي د شنیلۍ یو

خدای خبر چي زموږ د قبر پر شنیلۍ به څوك پیښیږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقی بحیات چون کسی رهبر نیست

ور نیز بود از می و ساغر نیست

می همدم ماست زانکه چون گرمي دل

در آب حیات و چشمه کوثر نیست

ساقي نن په ټول حیات کي هیڅ سړي ته رهبر نسته

او که دی نو ښه تر میو صراحي او ساغر نسته

د زړه اور چي مو تازه دی د سرو میو په جامونو

د حیات اوبو کي نسته له چینې د کوثر نسته

خاکی که به زیر پای هر حیوانیست

کف صنمی و چهرهْ جانانیست

هر خشت که بر کنگرهْ ایوانیست

انگشت و زیر یاسر سلطانیست

دغه خاوره چي دا لاندی اوس تر پښو د هر حیوان ده

یا اورغوی د صنم دی یا څېره د کوم جانان ده

هري خښتي ته چي ګورې چي قصرونه ورنه جوړ دي

یا به ګوته د وزیر وي یا ککره د سلطان ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چندین غم مال و حسرت دنیا چیست

هر گز دیدی کسی که جاوید زیست

این یکدو نفس که در تنت عاریتست

با عاریتی، عاریتی باید زیست

غم د مال او د دنیا به در سره وي لا تر کله

هیڅوك نه پایي پر مځکه تر قیامته تل ترتله

ته پوهېږې چي پر تن دي یو یا دوه نفسه پور دي

پوروړي سره پور وي ژوند کوې په نغدو څله

ای وای بر آن دل که درو سوزی نیست

سودا زدهٔ مهر دل افروزی نیست

روزی که توبی عشق بسر خواهی برد

ضایع تر از آن روز تو را روزی نیست

چي د میني اور يې نه وي هی افسوس پر هغه زړه وي

له سهاره تر ماښامه د جانان په غم کي نه وي

چي په ژوند کي دي تېرېږي یوه ورځ پردی، له میني

نه په ژوند کي حسابېږي نه د ورځي په تاله وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه خردم در خور اثبات تو نیست

و اندیشهٔ من جز مناجات تو نیست

من ذات ترا بواجبی کی دانم

دا نندهٔ ذات تو بجز ذات تو نیست

زماخالقه دا زما عقل کله وړ ستا د اثبات دی

زما يوازي فکر ذکر ربه ستا د مناجات دی

ستا په ذات باندي خالقه کله زه سم پوهېدلای

څوك چي ستا په ذات پوهېږي دا يوازي ستا خپل ذات دی

خیام زبهر گنه این ماتم چیست

وز خوردن غم فایده بیش وکم چیست

آنرا که گنه نکرد غفران نبود

غفران برای گنه آمد غم چیست

اې خيامه له گناه دي ولي شپه او ورځ ماتم دی

زړه دي شين دی غم دي هر وخت د فايدي د ډېر او کم دی

چي گناه يې نه وي کړې برخه نه لري له عفوي

بخښل کيږي گناهونه در سره ولي تل غم دی

در عشقت از ملامتم ننگی نیست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



با بیخبران درین سخن جنگی نیست

این شربت عاشقی همه مردانراست

نا مردانرا ازین قدح رنگی نیست

ستا په عشق كي مي باك نسته د دنيا له پېغورونو

نه مي جنګ دی ستا پر مينه د بې دردو له پوځونو

عاشقي هسي شراب دي چي نصيب دي د مېړنو

د نامردو برخه نسته د دې ميو له جامونو

در ده صنما که جهانرا تا بیست

زان می که گل نشاط را زوابیست

بشتاب که آتش جوانی آبیست

دریاب که بیداری دولت خوابیست

ساقي راكه ډك جامونه دا هستي نه پاته كيږي

له سرو ميو چي ګلونه د مستۍ په سېرابېږی

ژر مې راوړه چي لمبې مي د ځوانۍ خاموشي نه سي

په دې پوه سه د بخت ورځي لكه خوب راسي تېرېږي

هر کو رقمی ز عقل در دل بنگاشت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یك لحظه ز عمر خویش ضایع نگذاشت

یا درطلب رضای ایزد کوشید

یا راحت خود گزید و ساغر برداشت

هر سړي چي عقل راووست په سینه کي د زړه کور ته

د خپل ژوند یوه شېبه یې ضایع نه کړه و هیڅ لورته

یا یې عمر په طلب کي د رضا د خالق تېر کړ

یا یې غوره میخانه کړه ډك یې جام کړ پر سر پورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیام سُرونه د پښتو په تال کي

راز از همه ناکسان نهان باید داشت

و اسرار نهان ز ابلهان باید داشت

بنگر که بجای مردمان چکنی

چشم از همه مردمان همان باید داشت

راز دي پټ ساته هوښياره له ټولې د ناکسانو

په دنيا کي شريك نه کې خپل اسرار له جاهلانو

چي له چا سره دي کړي په ژوندون کي ښه او بد وي

انتظار د خپل عمل کړه د نړۍ له انسانانو

تاچند بروی دریا ها خشت

بیزار شدم زبت پرستان وکنشت

خیام که گفت دوزخی خواهد بود

که رفت بدوزخ وکه آمد ز بهشت

لا تر څو ايږدمه خښتي پر اوبو د دريابونو

زه بېزار له صومعې يم زړه مي شين له معبدونو

چا ويله چي خيام به د دوږخ پر لور روان وي

څوك دوږخ ته ورغلي څوك راځي له جنتونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چند که از گناه بد بختم و زشت

نو مید نیم چوبت پرستان کنشت

اما سحری که میرم از میخوری

می خواهم و معشوق چی دوږخ چی بهشت

که هر څو بد او بدبخت یم او یم بار په گناهونو

بت پرستو غوندي نه یم نا امید له رحمتونو

خو په هغه ورځ چي مرمه له مستیه د شرابو

زه به می او معشوق غواړم له دوږخ له جنتونو

فصل گل و طرف جویبار و لب کشت

با یك دو سه اهل و لعبتی حور سرشت

پیش آر قدح که باده نوشان صبوح

آسوده ز مسجدند و فارغ زکنشت

هم ویاله ده هم چمن دی هم موسم دی د گلونو

هم دوه دري یاران حاضر دي هم ښایستې د جنتونو

پیالې ډکي راته راوړه مینوشان په صبحدم کي

بې پروا دي له کنشته او فارغ له مسجدونو

چون چرخ بکام یك خردمند نگشت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تو خواه فلك هفت شمر خواهی هشت

چون باید مرد و آرزوها همه هشت

چه مور خورد بگور چه گرگ بدشت

د هوښيارو پر زړه نه دی هيڅ يو کار د آسمانونو

ډېري ورځي به کي تېري په شمېرلو د عمرونو

دا هستي پای ته رسېږي هيلي ټولي خاوري کېږي

څه مېږي دي ګور کي وخوري څه لېوان دي پر دښتونو

هر دل که درو مهر و محبت سرشت

خواه اهل سجاده باش خواه اهل کنشت

در دفتر عشق نام هر کس که نوشت

آزاد ز دوزخست و فارغ ز بهشت

هغه زړونه چي يې برخه وي د ميني له يادونو

که سجدې کړي د بتانو که شيخان د خلوتونو

چي د چا نوم يې ليکلی پاس د عشق پر دفترونو

هم آزاد وي له دوږخه هم فارغ له جنتونو

من هيچ ندانم که مرا آنکه سرشت

از اهل بهشت کرد یا دوزخ زشت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوتی و بتی و بادهْ برلب کشت

این هر سه مرا نقد ترا نسیه بهشت

نه پو هېږم هغه چا چي زما خمیر يې دی اخښلی

په جنت يې کړم دننه که دوږخ کي يم شمارلی

په سبزه کي صنم راکه هم کباب هم شراب دواړه

دا دري نغدي مي په کار دي جنت قرض مي در بخښلی

در صومعه و مدرسه و دیر و کنشت

ترسندهْ دوزخند و جویای بهشت

و آنکس که ز اسرار خدا با خبر است

زین تخم در اندرون دل هیچ نکشت

په کنشت په صومعه کي مدرسو په خلوتونو

یا به بېره د دوږخ وي یا تلاښ د جنتونو

هغه چاته چي معلوم دي د خالق د شان رازونه

نه د طمع نه د بېري کښت يې کړي پر زړونو

تاکی ز چراغ مسجد و دود کنشت

تا چند زیان دوزخ و سود بهشت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رو بر سر لوح بین که استاد قلم

روز ازل آنچه بودنی بود نوشت

لا تر څو ډېوه محراب کي په کنشت کي اور بلېږي

څو به ځغلې له دوږخه او جنت ته دي زړه کېږي

پر تخته د آسمان ګوره چي استاد په خپل قلم دي

د ازل په ورځ لیکلي هغه توري نه بدلېږي

آنکس که خط از کلك گهربار نوشت

اول الف قامت دلدار نوشت

او نیز همین الف پی سر خط طفل

یکبار نوشت و طفل صد بار نوشت

هغه چا چي خط په خپلو ګوهري ګوتو لیکلی

اول توری یې الف دی د دلدار قامت منلی

د سر مشق په دود ماشوم ته دا الف یې دی ښودلی

ده خو یو ځلي لیکلی ماشوم سل ځله وکښلی

مهتاب به نور دامن شب بشکافت

می نوش دمی بهتر ازین نتوان یافت

خوش باش ومیندیش که مهتاب بسی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندر سر خاك يك به يك خواهد تافت

نوراني سپوږمۍ ختلې او د شپې لمن خپرېږي
پياله نوش که تر دې کله ښې شېبې در پيدا کيږي
له زړه ليري انديښنې که چي سپوږمۍ به داسي ډېره
د هر چا پر لحدونو يو په يو د شپې ځلېږي

ای آمده از عالم روحانی تفت
حيران شده در چهار و پنج وشش و هفت
می خور چو ندانی از کجا آمده ای
خوش باش ندانی بکجا خواهی رفت

چي راغلی دې عالم ته د اسرارو له جهان یې
شپه او ورځ په شمېر لګيا يې عددونو ته حيران یې
راسه ډکي پيالې نوش که هيڅ به پوه نه سې تر مرګه
چي له کومه يې راغلی او پر کوم لوري روان یې

می خور که بزير گل بسی خواهی خفت
بی مونس و بی رفيق و بی همدم و جفت
زنهار به کس مگو تو اين راز نهفت
هر لاله که پژمرد نخواهد بشگفت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مى نوش كه په لحد كي ډېر خوبونه در رسېږي

نه به يار نه به اشناى وي نه دوستان دي په کارېږي

پټ يې وساته په زړه کي دغه راز چي رسوا نه کې

چي غاټول سي يو ځل مړاوى بيا په عمر نه غوړېږي

ساقی دل من زدست اگر خواهد رفت

بحر است کجا خود بدر خواهد رفت

صوفی که چو ظرف تنگ از خویش پر است

يك جرعه اگر دهی بسر خواهد رفت

که مي زړه له واکه وزي ساقی چېري به رسېږي

پيمانه د سمندر ده کومي خواته به بهېږی

صوفي تونگ غوندي تر غاړي مالامال دی له خپل ځانه

په يوه غړپ يې مستېږي او پر سر به روانېږي

آن قصر که بهرام درو جام گرفت

آهو بچه کرد و روبه آرام گرفت

بهرام که گور میگرفتی همه عمر

بنگر که چگونه گور بهرام گرفت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه قصر چي بهرام به پکښي اخستل جامونه

د هوسۍ پکښي زوی وسو گیدړ وکړله خوبونه

چي بهرام به دوولس میاشتي تل د گور کول ښکارونه

گور نن څرنگه تړلي د بهرام پښې او لاسونه

گر از پی شهوت و هوا خواهی رفت

از من خبرت که بینوا خواهی رفت

بنگر چی کسی و از کجا آمده ای

میدان که چی میکنی کجا خواهی رفت

که پر لار د شهوتونو د ابلیس او د هوا ځې

دا خبره به مي اوري چي تش لاسی بېنوا ځې

دا ته څوك يې راته وایه له کوم ځایه يې راغلی

ته پوهېږي چي به څه سې څه کوې پر کومه خوا ځې

چون کار نه بر مراد ما خواهد رفت

اندیشه و جهد ما کجا خواهد رفت

پیوسته نشسته ایم در حسرت آنك

دیر آمده یم زود میباید رفت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د زړه د ټولو هيلو مخالف مو دا جهان سو

پر دې لار د انديښنو به لا تر کله سر ګردان سو

تل افسوس افسوس نارې دي تل به خورو د زړګي ويني

چي ناوخته يو راغلي وختی څرنګه روان سو؟

در خواب شدم مرا خردمندی گفت

کز خواب کسی را گل شادی نشگفت

کاری چی کنی که با اجل باشد جفت

می نوش که عمر هات میباید خفت

زه بيده وم يو هوښيار مي راته راغی په خيالو کي

ويل پاڅه چي خير نسته پټو سترګو په تيارو کي

ولي وکړې داسي چاري چي له مرګ سره جوړه وي

شراب نوش که چي عمرونه دي په خوا دي په خوبو کي

اين بحر وجود آمده بيرون زنهفت

کس نيست کی اين گوهر تحقيق بست

هر کس سخنی از سر سودا گفتند

زان روی کی هست کس نميداند گفت

د وجود سمندر ګوره له پټ ځايه دی راغلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تحقیق د مرغلرو لاړ یې چا نه دی پېیلی

هر چا خوله ده خلاصه کړې پکښې ټول دي سرگردانه

ځکه هسي چي هستي ده چا يې راز نه دی ویلی

زهر است غم جهان و می تریاکت

تریاك خوری ز زهر نبود باکت

باسبزه خطان بسبزه زاری می خور

زان پیش که سبزه دمد ازخاکت

د جهان غمونه زهر او سره می تریاك له تاکه

تریاك وخوره چی له زهرو په ژوندون کي سې بې باکه

د گلرخو سره نوش که سره شراب په شنو سبزو کي

چي سبا را پورته کېږي شنه سبزه هم ستا له خاکه

هر لذت و راحتی که خلاق نهاد

از بهر مجردان در آفاق نهاد

هر کس که زطاق منقلب گشت بجفت

آسایش خود ببرد وبرطاق نهاد

چي خالق زنې پیدا کړل د مستیو د عیشونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجردو ته يې ورکړې نصيبې له اسمانونو

چې هر څوك له طاقه ولوېد او د جفت قسمت يې وسو

آرامي يې کړله هېره پاس د خوني پر طاقونو

اين چرخ جفا پيشه عالی بنياد

هر گز گره کار کسي را نگشاد

هر جا که دلی ديد که داغی دارد

داغ ديگری بر سر آن داغ نهاد

دا آسمان دا جفاکاره دا چې هسك يې دي برجونه

نه فرياد يې د چا واورېد نه دوا يې کړل دردونه

چې پر مځکه يې ليدلي د هر چا پر زړگي داغ دی

پر هغه داغ يې ور ايښي سر پر سر دي نور داغونه

کس مشکل اسرار ازل را نگشاد

کس يك قدم از نهاد بيرون ننهاد

چون بنگری از مبتدی و از استاد

عجز است بدست هرکه از مادر زاد

د ازل چې څه اسرار دي هغه نه دي چا سپړلي

له آغازه تر دي دمه يو گام نه دي مخته تللي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شاګرده تر استاده جواب نه دی چا میندلی

ټول عاجز دي چي له موره پر جهان دي زيږېدلي

صیاد ازل که دانه در دام نهاد

صیدی بگرفت و ادمش نام نهاد

هر نيك و بدی که میرود در عالم

او میکند و بهانه بر عالم نهاد

د ازل ښكاري چي راوړل له دانو سره دامونه

پكښي ښكار يې انسانان كړل پكښي بند پښي او لاسونه

په عالم كي چي څه كېږي له نيكيو له بديو

ټوله لوبه د ازل ده ملامت سي عالمونه

در سر هوس بتان چون حورم باد

در دست همیشه آب انگورم باد

گویند خدا ترا از می توبه دهاد

او خود ندهد من نکنم دورم باد

وايم تل دي د ګلرخو ښكلې مينه را سره وي

راسره دي تل په لاس كي د سرو ميو پيمانه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایی خدای توبه درکړې له چښلو د شرابو

دی پخپله داسي نه کړي له توبې مي دي توبه وي

دادم بامید زندگانی برباد

نابوده زعمر خویشتن روزی شاد

زان میترسم که عمر امانم نهد

چندانکه ز روزگار بستانم داد

زه مي هیلو د خوښیو او هوس داسي برباد کړم

د ژوند یو گړی می نسته چي یې یو نفس را یاد کړم

زه بېرېږمه مرگی به مهلت را نه کړي تر ډېره

چي کسات له ژونده واخلم د اسمان مخ ته فریاد کړم

آنکس که زمین و چرخ و افلاك نهاد

بس داغ بلا بر دل غمناك نهاد

بسیار لب لعل و سر زلف چو مشك

در طبل زمین وحقهٔ خاك نهاد

هغه چا چي پیدا کړي اووه مځکی آسمانونه

ډېر یې کښیښودل پر زړونو د بلا او غم داغونه

ډېري شونډې یې میگوني ډېری زلفي یې مشکینی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زني کړيدي د مځکی په نازېږي تور قبرونه

از رنج کشیدن آدمی حر گردد

قطره چو کشد حبس صدف دُُر گردد

گرمال نماند سر بماند بجای

پیمانه چو شد تهی دگر پر گردد

د انسان چي خواری ورسي نو آزاد پر زمانه سي

په صدف کي چي بندي سي هغه څاڅکی در دانه سي

مال که ولاړ سي سر وي پاته دنیا ځای د تاوانو دی

بیا به ډکه سي که تشه له سرو میو پیمانه سي

طبعم همه با روی چو گل پیوندد

دستم همه با ساغر و مل پیوندد

از هر جزوی نصیب خود بردارم

زآن پیش که جزو ها بکل پیوندد

زړه مي تل را ښخه غواړي د گلرخو صحبتونه

وایم زه وای صراحی وای ډك له سرو میو جامونه

له هر جز د خپل نصیبه خپله خپله برخه واخلم

چي يې نه وي لا وهلي جز په کل کی پیوندونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باروی نکو ولب و جوی و مل و ورد

تا بتوانم عیش و طرب خواهم کرد

تا بوده ام و باشم و خواهم بودن

می خورده ام و میخورم و خواهم خورد

چي نګار وي شنه وياله وي او سره مى وي سره ګلونه

د ګلرخ ساقي له لاسه نو شوم به ډك جامونه

چي مي نوم وي په هستي کي چي ژوندی پر دنيا ګرځم

ما چښلي دي چښم يې تشوم به ډك خمونه

من دامن زهد و توبه طی خواهم کرد

با موی سپید قصد می خواهم کرد

پیمانه عمر من به هفتاد رسید

این دم نکنم نشاط کی خواهم کرد

له توبې او له پرهېزه ور تېرېږم په زر ځله

په دا سپينو وېښتو ځمه ډکومه پياله خپله

چي د عمر پيمانه مي تر اويا ده رسيدلې

چي دا نن لا مستي نه کړم دا مستي به کوم کله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آنرا منگر که ذو فنون آید مرد

در عهد و وفا نگر که چون آید مرد

از عهده عهد اگر برون آید مرد

از هر چه گمان برى فزون آید مرد

مېړه مه گوره په عقل ذو فنون وي یا لقمان وي

چي پر قول پیمان ټینګ وي هغه تل مرد میدان وي

چي د قول له میدانه بریالی مېړه را ووت

د زمري په څېر یي زړه وي تر رستم به پهلوان وي

گر چه غم و رنج من درازی دارد

عیش و طرب تو سر فرازي دارد

بر هر دو مکن تکیه که دوران فلك

در پرده هزار گونه بازي دارد

که څه ډېر دي زما غمونه او اوږده مي دي رنځونه

ستا په برخه خداي درکړي هم خوښۍ دي هم عیشونه

اعتبار چي په ونه کې چي آسمان د پردې شا ته

پټي کړي دي زر لوبي زر يې نور دي نیرنګونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گردون ز زمین هیچ گلی بر نارد

کش نشکند و هم بزمین نسپارد

گر ابر چو آب خاك را بر دارد

تا حشر همه خون عزیزان بارد

فلك هیڅکله له مځکي خټه نه ده اخیستلې

چې یې نه ده ماته کړې نه یې مځکي ته سپارلې

او که پورته وریځو وړلای د اوبو په عوض خاوري

تر قیامته به یې وینی د یارانو اورولې

روزیست خوش و هوا نه گرم است نه سرد

ابر از رخ گلزار همی شوید گرد

بلبل به زبان حال پیش گل زرد

فریاد همیزند که می باید خورد

څه تازه نسیم چلېږی نه گرمی ده نه ساړه دي

وریځ د گل گردونه مینځی که څه نوي که زاړه دي

بلبل ناست پر ژړو گلو او د حال په ژبه وایی

شراب وچښئ یارانو ورځي شپې پر تېرېده دي

در دهر هر آنکه نیم نانی دارد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا در خور خویش آشیانی دارد

نی خادم کس بود و نه مخدوم کسی

گو شاد بزی که خوش جهانی دارد

ځوك چي ګرځي پر دې مځکه ډوډۍ نیمه يې تر ملا ده

یا جونګړه کې اوسېږي یا يې خپله سر پناه ده

نه خادم ورته ولاړ وي نه نوکر د بل بادار وي

زما له خوا ورکه دا زېری چی دا ټوله نړۍ ستا ده

عمرت تا کی بخود پرستی گذرد

یا در پی نیستی و هستی گذرد

می خور که چنین عمر که غم در پی اوست

آن به بخواب و مستی گذرد

لا تر ځو به دې خوړ عمر تېروې په ځان ستایلو

په رمزونو د نیستیو د هستۍ د پوهیدلو

می چښه چي تر دې عمر چي غمونه ور پسې دي

هغه ښه دي چي تېرېږی په خوبونو یا په ملو

هر صبح که روی لاله شبنم گیرد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالای بنفشه چمن خم گردد

انصاف مرا از غنچه خوش می آید

کو دامن خویشتن فراهم گیرد

هر سهار چي پر سرو گلو پر لاله شبنم اورېږي

بنفشه د چمن غېږ کي نرۍ ملا باندي کږېږي

که انصاف له مانه غواړي زما غونچه ډېره خوښېږی

چي لمن يې په خپل واك ده او پر ځان باندي ټولېږي

چون جود ازل بود مرا انشا کرد

برمن نخست درس عشق املا کرد

و آنگاه قراضه ریزهْ قلب مرا

مفتاح خزانهْ در معنی کرد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ازل سخا چي راغله زما وجود یې کړ انشا هم

له لومړۍ ورځي یې راکړ درس د میني په املا هم

نو یې وروسته په سینه کي راته جوړ زما زړګی کړ

او کیلي د خزانو یې د ګوهر ورکړه معنی هم

بر روی نکوی و لب جوی و مل و ورد

چندانکه توان عیش و طرب خواهم کرد

تا بوده ام و هستم و خواهم بودن

می میخورم و خورده ام و خواهم خورد

چي شنه غاړه د ویالې وي چي سورګل وي او نګار وي

څو چي توان مي وي په ځان کي عیش و نوش څنګ ته به یار وي

زه چي وم هغسی یمه او همداسي به پاتېږم

ما شراب چښل، چښم یې او لا نور به مي دا کار وي

پیری سرو برگ درخرابی دارد

گلنار رخم برنگ آبی دارد

بام و در و چار رکن و دیوار و جود

ویران شده و رو نخرابی دارد

ځواني ولاړه اوس کلونه ورځي شپې مي د پیرۍ دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له څېرې څخه مي تللي د زلمۍ ورځو سرخۍ دي

چي يې ګورم او را پاته د وجود له ودانۍ دي

ټولي خښتي شوړېدلي او لا مخ پر خرابۍ دي

چون نيست درين زمانه سودی ز خرد

جز بيخرد از زمانه بر می نخورد

پيش اور از انکه او خرد را ببرد

شايد که زمانه سوی ما به نگرد

زمانه کي قدر نسته د هوښيارو عاقلانو

نعمتونه د زمان دي په نصيب د جاهلانو

ځه توکل دی راته راوړه هغه څه چي عقل يوسي

ګوندي يو نظر را وکي زمانه لا د سيالانو

آن کاسه گری که کاسه سرها کرد

در کاسه گری صنعت خود پيدا کرد

بر خوان وجود ما نگون کاسه نهاد

وان کاسه سر نگون پر از سودا کرد

کم کلال چی جوړولې کاسې تشي د سرونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې صنعت کې يې څرګند کړ خپل کمال د هنرونو

سر چپه کاسه يې راوړه زمونږ د تن تر دسترخوانه

او هغه کاسه يې ډکه له سودا کړه له غمونو

گریك نفست ز زندگانی گذرد

مگذار که جز بشادمانی گذرد

زینهار که سر مایه این ملك جهان

عمرست چنان کش گذرانی گذرد

که دي يو نفس د عمر له قسمته در رسېږي

پرې يې نهږدې د غمونو په لمن کې چې تېرېږي

پام چې ټوله سرمايه دي د جهان له دې بازاره

د ژوندون يو څو شېبې دي چې دي زړه هسې تېرېږي

این قافله عمر عجب میگذرد

دریاب شبی که از طرب میگذرد

ساقی غم فردای قیامت چه خوری

پیش آر پیاله راکه شب میگذرد

زه حیران یم دا د عمر قافله عجب تېرېږي

زما يارانو شپه را نيسئ چې خوښۍ رانه بېلېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي پرېږده دا غمونه د قيامت د ورځي څه خورې

ډکي ډکي پيالې راوړه چي دا شپه مو سبا کېږي

از واقعهْ ترا خبر خواهم کرد

و آنرا بدو حرف مختصر خواهم کرد

با عشق تو در خاك فرو خواهم شد

وز مهر تو سر زخاك بدر خواهم کرد

يوه ورځ به دي له پېښي او له نکل نه خبر کم

په دوه حرفه به خپل نکل درته ټوله مختصر کم

ستا له عشق سره جانانه به ښخېږمه په گور کي

ستا له مهره به جانانه زه ښکاره له خاورو سر کم

امشب پی جام يك منی خواهم کرد

خود را بدو رطل می غنی خواهم کرد

اول سه طلاق عقل و دين خواهم داد

پس دختر رز بزنی خواهم کرد

دا نن شپه مي ملا تړلې يو مني جام پسی ځمه

ځان په دوه منه شرابو په سرو ميو مستومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول ځمه ورکومه عقل و دین ته درې طلاقه

ور پسې په خرابات کي پر ساقي نکاح تړمه

بیمارم و تب در امتحان دارد

نا خوردن می قصد بجانم دارد

وین طرفه نگر که هر چه در بیماری

جز باده خورم همه زیانم دارد

رنځور پروت یم توري تبي غوړولی امتحان دی

او له سرو میو پرهېز مي عزرائیل د روح او ځان دی

راسه دا عجبه واوره چي په رنځ کي هر څه خورمه

بې سرو میو چی شفا ده بل په هر څه کي تاوان دی

چون روزی و عمر بیش وکم نتوان کرد

خود را بکم و بیش دژم نتوان کرد

کار من و تو چنانك رای من و توست

از موم بدست خویش هم نتوان کرد

چي نه عمر نه روزي سو زیاتولای کمولای

لږ او ډېر لره بېځایه هسي زړه نه سو خوړلای

که هستي لکه موم نرمه واك يې زموږ په لاس کي راکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د خپل زړه پر غوښتنو نړۍ نه سو سمولای

يك باده هزار مرد بيدين ارزد

يك جرعهْ می مملكت چين ارزد

در روی زمين زباده خوشتر چه بود؟

تلخی كه هزار جان شيرين ارزد

يو ډك جام يې د سرو ميو زر بيدينه مړونه ارزي

هغه يو غړپ يې يارانو ټول د چين ملكونه ارزي

په نړۍ كي به د ميو تر جامونو بهتر څه وي؟

چي تريخوالی د مزې يې زر شيرين عمرونه ارزي

يك قطرهْ آب بود و با در يا شد

يك ذرهْ خاك با زمين يكتا شد

آمد شدن تو اندرين عالم چيست

آمد مگسی بديد و نا پيدا شد

ته يو څاڅكی د اوبو يې د درياب سينې ته لوېږې

د ذرې په څېر د مځكې پر و جود باندي هستېږې

ته پوهېږې تلل راتلل دي دې جهان ته په څه رنگ دي

لكه مچ هسې پيدا سې سترگې خلاصې كې وركېږې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسوس که نامهٔ جوانی طی شد

وین تازه بهار ارغوانی طی شد

آن مرغ طرب که نام او بود شباب

افسوس ندانم که کی آمد کی شد

هی افسوس د ځوانۍ وخته لکه خوب هسې مې هېر سو

پر تازه شنه پسرلي مې د خزان موسم چاپېر سو

ها ښایسته مرغه چې خلکو زلمیتوب نوم باندې ایښی

نه پوهېږمه چه کله په څه وخت کې تر ما تېر سو

افسوس که نامه جوانی طی شد

ان تازه بهار شاد مانی طی شد

آن مرغ طرب که نام او بود شباب

فریاد ندانم که کی آمد ، کی شد

خدایه تېرې سولې ورځې د ځوانیو د مستیو

ها تازه پسرلي ولاړل د گلونو د خوښیو

هغه ښکلی مرغه څه سو چې ځواني یې نوم پر ایښی

نه پوهېږم کله راغی کله ولاړی له هستیو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گویند بهشت و حور وکوثر باشد

جوی می و شیر و شهد و شکر باشد

يك جام بده بياد آن ای ساقی

نقدی زهزار نسیه بهتر باشد

راته وايي په جنت کي ښکلي حوري دي کوثر دی

يا ويالې دي د شرابو يا شيدې شات و شکر دی

د هغه جنت په ياد مي ساقي ډك د ميو جام که

دغه نغده مي په کار ده چی تر زر پوره بهتر دی

وقتی که طلوع صبح ازرق باشد

باید بگفت می مروق باشد

گويند در افواه که حق تلخ بود

باید بهمه حال که می حق باشد

د آسمان په کنگرو کي ژړی لمر چي پر خاته وي

له شرابو ډك جامونه دي رندانو ته پراته وي

عالمونه هسي وايي حق ترخه زغمل يې گران دي

دا شراب لکه چي حق دي چي جوړ کړي يې ترخه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا بود دلم زعشق محروم نشد

کم ماند ز اسرار که مفهوم نشد

و اکنون که بچشم عقل در مینگرم

معلومم شد که هیچ معلوم نشد

چي مي زړه و په سينه كي هيڅ له عشقه محروم نه سو

داسي سر پر نړۍ لږ و چي هغه ته مفهوم نه سو

او چي اوس د عقل سترگي پاس په سركي غړومه

را معلومه سوله دونه چي هيڅ سر را معلوم نه سو

تا چند اسير رنگ و بو خواهی شد

و اندرين پی هر زشت ونكو خواهی شد

گر چشمهْ زمزمی و گرآب حيات

آخر بدل خاك فرو خواهد شد

لا تر څو به ته اسير او گرفتار د بوی او رنگ يې

په دنيا كي د هر بد او د هر ښه سره همرنگ يې

واوره دا چي كه چينه يې د زمزم، اوبه د خضر

يوه ورځ به پروت په گور كي د نازونو له پالنگ يې

خوش باش كه ماه عيد نو خواهد شد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و اسباب طرب همه نکو خواهد شد

مه زرد و خمیده قد و لاغر شد وسست

مانا که درین رنج فرو خواهد شد

خوشالی کوه چي راغله د اختر مياشت په جشنونو

له مستی به زلزلې وي د مستانو پر کورونو

د روژې مياشت سوه ډنگره په ملا کږوپه په رنگ ژړه

يعني بيا به له دې رنځه جوړه نه سي په قرنونو

خرم دل انکسی که معروف نشد

در فوطه و در اطلس و در صوف نشد

سیمرغ وش از سر دوعالم برخاست

در کنج خرابه جهان بوف نشد

دا نيکمرغه دي چي نه دي ځوك مشهور په زمانه کي

نه کېمخاب نه يې اطلس وي نه يې خوب په دوشاله کي

د سیمرغ په څېر خپاره کي پر دوو کونو وزرونه

نه چي بوم غوندي اسير سي د جهان په خرابه کي

افسوس که سرمایه زکف بیرون شد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



در دست اجل بسی جگرها خون شد

کس نامد از آنجهان که ارد خبری

کاحوال مسافران عالم چون شد

هی افسوس ولاړه له لاسه سرمایه د ژوند او میني

د اجل ظالم له لاسه سولې ډېري سینې خوړیني

له هغه جهانه بیرته چا خبر نه دی راوړی

چي احوال د مسافرو د عالم څرنگه ویني

هر راز که اندر دل دانا باشد

باید که نهفته تر ز عنقا باشد

کاندر صدف از نهفتگی گردد دُر

آن قطره که راز دل دریا باشد

هر یو راز چي وي په زړه کي د پوهانو د مېړونو

هغه پټ ساتلی بویه د عنقا تر پیغامونو

په صدف کي سي دننه مرغلره ورنه جوړه

هغه څاڅکی چي پکښې وي راز د سترو دریابونو

خورشید کمند صبح بر بام افگند

کیخسرو روز باده در جام افگند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



می خور که منادی سحرگه خیزان

آوازه اشربوا در ایام افگند

لمر سهار د بام پر څوکه طلايي لمن خپره کړه

بیا د ورځي سلطان راغی په تش جام کي يې باده کړه

سره شراب توی که په جام کي چي جارچي سهار ناري کړې

وایی ډکي دي پیالې که وايي ورځ دي مستانه کړه

ماه رمضان گذشت وشوال آمد

هنگام نشاط وعیش و قوال آمد

آمد گه آنکه خیکها اندر دوش

گویند که پشت پشت حمال آمد

روژه تېره سوه اختر سو سر پر سر پیالې تشېږي

وخت د عیش او د نوش راغی د مستۍ نغمې ږغېږي

ډلي ډلي رندان راغلل پر اوږو يې دي خمونه

يو کتار د حمالانو يو په بل پسی تېرېږي

ماه رمضان چنانکه امسال آمد

بر پای خرد بند گران آمد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای بار خدای خلق را غافل ساز

تا پندارند که ماه شوال آمد

د روژې مياشت ده راغلې خدای خو زما په زړه خبر دی

دا د عقل په اوږو کي يو دروند پېټی لکه غر دی

خدايه ته په خپل قدرت کې دا مخلوق داسي غافله

چي روژه سي ورنه هېره هر يو وايي چي اختر دی

انها که بفکر در معنی سفتند

در ذات خداوند سخنها گفتند

سر رشته اسرار ندانست کسی

اول ز نخی زدند و آخر خفتند

د معنی چي يې پېيلي مرغلري په فکرونو

د خالق پر ذات سول سترې په خبرو کتابونو

هيڅوك پوه په اسرار نه سول ټوله سر پر زنگانه دي

له يوه سره بيده سول په درنو اوږدو خوبونو

عالم اگر از بهر تو می آرایند

مگر ای بدان کی عاقلان نگرایند

بسيار چوتو روند و بسيار آيند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بر پای نصیب خویش کت بر بایند

که هر څو له دې جهانه درته جوړ کي جنتونه

هوښیاران په نعمتونو د دنیا نه تړي زړونه

ستا په شان دي ډېر وتلي ډېر به راسي دې دنیا ته

هر چا وړی خپل نصیب دی خپلي برخي خپل مزلونه

آنها که خلاصهٔ جهان ایشانند

بر اوج فلك براق فکرت رانند

در معرفت ذات تو مانند فلك

سرگشته و سرنگون و سرگردانند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په خپل عقل مغرور دي چي پوهان د دې جهان دي

پر براق چي د فکرونو په سفر د شنه آسمان دي

ستا د ذات په معرفت کي د فلك په رسم گرځي

سر بدال دي، سر نگون دي، تر قيامته سر گردان دي

اکنون که زخوشدلي بجز نام نماند

يك همدم پخته جز مى خام نماند

دست طرب از ساغر مى بازنگير

امروز که در دست به جز جام نماند

دا يو نوم د خوښۍ پاته هر څه غم پر زړه ويشتلي

يو اومه شراب باقي دي ټول ياران را څخه تللي

سر پر سر يې راته راوړه پيمانې د سرو شرابو

چې دا يو جام دی را پاته نور مي هر څه دي بايللي

آنها که کهن شدند و آنها که نو اند

هر يك پس از آمدن يکايك بروند

اين کهنه جهان بکس نماند جاويد

رفتند و روند و ديگر آيند و روند

هغه څوك چي زاړه سوي او هغوی چي لا زلميان دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوبت به روانېږي يو په يو مسافران دي

دا زړه دنيا پردۍ ده تل تر تله د چا نه ده

ولاړل، ځي به، نور به راسي او دا هم پسي روان دي

برمن قلم قضا چوبی من رانند

پس نيك و بدش زمن چرا می دانند

دی، بی من و امروز، چودی بی من وتو

فردا به چه حجتم به داور خوانند

چي پر ما باندي يې كښلی د قضا قلم بې ما دی

نېك او بد ولي زما بولي دا په كوم مذهب روا دی

نه پرون په څه خبر وم نه د نن اختيار لرمه

سبا څنګه راته وايي چي عمل دي د جزا دی

نا برده بصبح در طلب شامی چند

ننهاده برون خويشتن گامی چند

در كسوت خاص آمده عامی چند

بدنام كننده نكونامی چند

لا تر څو ورځ نا ليدلې او ماښام ته دي زړه كېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه له ځانه را بهر سوې نه دي فکر په رسېږي

لا تر څو به اصل پټ کې په جامه کي د اصيلو

لا تر څو به دي له نومه د نيکانو نوم بدېږي

کم کن طمع جهان و میزی خورسند

وز نیك و بد زمانه بگسل پیوند

می در کف و زلف دلبری گیر که دور

هم بگذرد و نماند این روزی چند

د جهان طمع کړه کمه ژوند که تېر په نعمتونو

د زمان له ښو او بدو زړه کړه پرې د پيوندونو

د دلبرو زلفي نيسه می په لاس در سره واخله

دا څو ورځي نه پاتېږي زمان ځغلي په ټوپونو

زآن پیش که بر سرت شبیخون آرند

فرمای بتا تامی گلگون آرند

تو زرنهْ غافل نادان که ترا

در خاك نهند و باز بیرون آرند

لا پخوا چي دي پر مېنه زمانه مرگی ميلمه کي

پر ښايسته ساقي ږغ وکه چي سره می در پيمانه کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته طلا نه يې غافله چي دي خلك كور ته يوسي

نن دي لاندي كي تر خاورو او سبا دي سرمايه كي

در دل نتوان درخت امید نشاند

همواره کتاب خرفی باید خواند

می باید خورد وکام دل باید راند

پیداست که چند در جهان خواهی ماند

څوك د زړه په وينو نه سي د اميد ونه روزلای

يو ګړی چي دي باقي دی په خوښي دي تېرولای

سر پر سر جامونه نوش كه د ګلرخ ساقي له لاسه

تر قيامته څوك جهان كي ژوندی نه سي پاتېدلای

آنانکه جهان زیر قدم سودند

و اندر طلبش هر دو جهان پیمودند

آگاه نیم از آنکه ایشان هر گز

زین حال چنانکه هست آگه بودند

هغو خلكو چي يې كړله ټوله مځكه تر پښو لاندي

په تلاش يې دوه جهانه سراسر كړل لاندي باندي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم چي هغوی به پوهيدلي وي که نه وي

چي پر مځکه څه تېرېږی او لا څه به وي د وړاندي

آنانکه محیط فضل و آداب شدند

در کشف دقیقه شمع اصحاب شدند

ره زین شب تاريك نبردند بیرون

گفتند فسانه ای و در خواب شدند

په سينو کي چي يې ځای و د علمونو هنرونو

لکه شمعي بلېدل به د هنر پر محفلونو

له تياري شپې د وتلو هيچا لاره پیدا نه کړه

افسانه يې کړله تېره او بیده سول په خوبونو

حال گل و مل باده پرستان دانند

نه تنگدلان و تنگدستان دانند

از بیخبری بیخبران معذورند

ذو قیست درين شيوه که مستان دانند

ميخواران د گل و مل او د ساقي په حال پوهېږي

نه غمگينو نه بې وزلو نه گدا ته معلومېږي

څه خبر بې خبران دي له نړۍ د بېخبرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو مستان په دې اسرارو هم پوهېږي هم رسېږي

اين كاسه كه بس نكوش پرداخته اند
بشكسته و در رهگذر انداخته اند
زينهار برو قدم به خوارى ننهى
كان كاسه زكاسهاى سر ساخته اند

دا كاسه چي ډېره ښه يې په كمال ده جوړه كړې
ماته سوې ټوټې سوې چا په لار كي غورځولې
پام قدم باندي كښې نه بې‌دې خوار نظر ورته ونه كړې
د سرونو له كاسو يې په احتياط ده هستولې

با آن دو سه نادان كه چنان ميدانند
از جهل كه داناى جهان ايشانند
خر باش كه از خرى ايشان بمثل
هر كو نه خرى است كافرش ميدانند

دا دوه درې كسه ناپوهه چي په ځان پوري حيران دي
دوى له خپله جهله گوري چي پوهان د دې جهان دي
كه دي خير د دنيا غواړې ځان د دوى په رنگه خر كه
چي د دوى په څېر خره نه وي دوى ته ټوله كافران دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



این جمع اکابرکه مناصب دارند

از غصه و غم زجان خود بیزارند

و آنکس که اسیر حرص چون ایشان نیست

این طرفه که ادمیش می نشمارند

ځښتنان د منصبونو دغه جمع د لويانو

چي له غم غصې بېزار دي هم له ځان هم له خپلوانو

او هغوی چي اسير نه دي لکه دوی د حرص او طمعي

عجب نه ده چی يې باسي له ټولۍ د انسانانو

در چشم تو عالم ار چه می آرایند

مگر ای بدان که عاقلان نگرایند

بر پای نصیب خویش کت بر بایند

بسیار چو تو شدند و بسیار آیند

رنگيني د زمانې دي د ژوندون له لاري باسي

هی توبه له هغي لاري چی د عقل ورته شا سي

د حيات هره شېبه دي د قسمت پر پاڼه ليك ده

داسي ډېر يې ستا په شان کړل داسي ډېر به وروسته راسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آن قوم که سجاده پرستند خرند

زیرا که بزیر بار سالوس درند

وین از همه طرفه ترکه در پردهْ زهد

اسلام فروشند و زکافر بد ترند

هغه قوم چي په ژوندون کي مسلې لمانځي ټول خره دي

ځکه لاندي په شپو ورځو د ریا تر بار کاږه دي

لا تر دې عجبه دا ده چي د زهد په پرده کي

خرڅوي اسلام پر خلکو تر کافر بتر په زړه دي

آنانکه کهن شدند و انانکه نوند

هر یك بمراد خویش لختی بدوند

این ملك جهان بکس نماند جاوید

رفتند و رویم و دیگران آیند و روند

که زاړه پر دې دنیا دي او هغوی چي لا ځوانان دي

د مطلب دپاره ټوله لکه ژرندي سرگردان دي

د دنیا ښادئ هیچا ته تل ترتله نه پاتېږي

ولاړل، ځو به ، نور به راسي او هغوی لا هم روان دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجرام که ساکنان این ایوانند

اسباب تردد خردمندانند

هان تا سر رشتهٔ خرد گم نکنی

کانان که مدبرند سر گردانند

دغه ستوري چي يې وينې هستوګن چي د اسمان دي

له تحقيقه يې مغروره پر دې مځکه هوښياران دي

پام کوه چي ورك يې نه کې دا تناو د عقل فکر

ځکه څوك چي ډېر هوښيار دي هغوی نور هم سر ګردان دي

گر باده بکوه برزني رقص کند

ناقص بود آنکه باده را نقص کند

از باده مرا توبه چه میفرمایی

روحیست که او تربیت شخص کند

چي تور غره ته شراب ورکې درته و به کړي رقصونه

هغه خلك جاهلان دي چي د می وايي عيبونه

راته ولي همېش وايې چي له ميو توبه ګار سه

داسي روح پکښي هستېږي چي جوړ کړي يې مېړونه

گویند کسانی که زمی پر هیزند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ز انسان که بمیرند بد انسان خیزند

ما با می و معشوق از آنیم مقیم

باشد که بحشر مان چنان انگیزند

وايي څوك چي له شرابو له جامونو پر هېز وكي

په خپل رنګ به را ويښيږي بيا به حشر ته ورتله كي

موږ خو ځکه د سرو ميو د نګار لمن نيولې

ګوندي دواړه په قيامت كي را نصيب او را سره كي

هر جرعه که ساقیش به جام افشاند

در دیدهْ گرم آتش دل بنشاند

سبحان الله تو باده می پنداری

آبی که زصد درد دلت برهاند

چي ساقي يې پيمانه كي له سرو ميو ډك جامونه

ګرمو سترګو كي كرار كي د زړګي سوي دردونه

هی سبحان الله تا ښنګه دې ته نوم د ميو وركړ

دا اوبه دي چي كرار كي په سينه كي سل دردونه

آن ها که در آمدند و در جوش شدند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آشفته ناز و طرب و نوش شدند

خوردند پیاله و خاموش شدند

در خاك ابد جمله هم آغوش شدند

چي فاني دنیا ته راغلل په مستۍ په پایکوبونو

سر پرسر یې پیالې نوش کړې د ځوانۍ د شرابونو

پر سر پورته یې پیاله کړه بیا یې سپوڼ له خولې ونه ایست

تورو خاورو ته روان سول غېږ په غېږ سول تر عمرونو

ای بس نباشیم و جهان خواهد بود

نه نام زما ونه نشان خواهد بود

زین پیش نبودیم و نبود هیچ خلل

زین پس چو نباشیم همان خواهد بود

موږ به نه یو پر دې مځکه دا نړۍ دا به جهان وي

نه به موږ دلته اوسېږو نه به زموږ نوم او نښان وي

پخوا هم پر دنیا نه وو دغه شپې وې دغه ورځې

او چي لاړ سو له دې سرایه دا زمان دا به مکان وي

تا راه قلندری نپویی نشود

رخساره به خون دل نشویی نشود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سودا چه پزي که تا چو دلسوختگان

يکباره به ترك خود نگويی نشود

چي پر لار د قلندرو روان نه سې نه رسېږې

رنگ په وينو د زړگي چي د ځان نه سي نه رسېږې

چي د شمعي په لمبو کي درنه هېره هستي نه سي

بېگانه له ځانه ټول چي، جانان نه سې نه رسېږې

لب بر لب کوزه هيچ دانی مقصود

يعنی لب من نيز چو لبهای تو بود

آخر که وجود تو نماند موجود

لبهات چنين شود بفرمان و دود

د ساغر پر شونډو شونډي دا مطلب درمعلومېږي

زما هم شونډي لکه ستا وې چي دا نن داسی ښکارېږي

چي نيستي دي دا وجود سي د موجودو له ټوليه

په فرمان د ودود خدای به ستا هم شونډي داسي کېږي

گويند بهشت و حور عين خواهد بود

انجا می و شير و انگبين خواهد بود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرما می و معشوق پرستیم رواست

چون عاقبت کار همین خواهد بود

وايي حوري دي جنت کی ژوند مستي ده نخښده دي

هم شراب دي هم شيدې دي انگبين د زړه خواږه دي

موږ ته دواړه روا سوي که شراب که ښايستې دي

چي د کار عاقبت دا دی موږ يې نن کوو نو څه دي

در عالم جان بهوش میباید بود

درکار جهان خموش میباید بود

تا چشم و زبان وگوش بر جا باشد

بی چشم و زبان و گوش میباید بود

چي د روح عالم ته ولاړ سې هوښياري درته په کار ده

خاموشي په دې جهان کې تل بهتره تر گفتار ده

څو دي سترگې څو دي ژبه او غوږونه لا پرځای دي

نه به وينې نه به وايې نه به اورې دغه لار ده

دهقان قضا بسی چو ماکشت و درود

غم خوردن بیهوده نمیدارد سود

پرکن قدح می بکفم درنه زود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا باز خورم که بودنیها همه بود

زمورږ په څېر فلك پر مځکه ډېر کړلي او رېبلي
د غمونو له خوړلو ګټې چا نه دي ليدلي
ژر مى ډکه پيمانه که ژر مي جام را که په لاس کي
سر پر سر يې نوشومه چې قسمت راته ليکلي

در آتش سوزنده اگر اهل بود
آن آتش سوزنده برو سهل بود
با مردم نا اهل ميا در صحبت
کز هر چه بتر صحبت نا اهل بود

که سيالانو ته نصيب سي سوځونکي انګارونه
هم به وزغمي سکروټي سرې لمبې او پرهارونه
د نا اهلو او ناسيالو له صحبته ځان پر څنګ که
دي بدتر له هري چاري د نا اهلو صحبتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ز آوردن من نبود گردون راسود

وز بردن من جاه و جلالش نفزود

وز هیچ کسی نیز دو گوشم نشنید

کاوردن و بردن من از بهر چه بود

نه آسمان ده ګټه کړې زما د نوم د هستولو

نه يې شان او شوکت زيات سو زما د سر له نېستولو

نه په ژوند کي مي له چانه په غوږو دي اورېدلي

چي مطلب د فلك څه و زما د وړلو او راوړلو

عشقی که مجاز بود آبش نبود

چون آتش نیم مرده تابش نبود

عاشق باید که سال و ماه وشب و روز

آرام و قرار و خورد و خوابش نبود

هغه عشق چي مجازي وي نه يې زور نه يې مزه وي

لکه اور چي سي مړ ژواندی نه بخري نه لمبه وي

د عاشق بايد عمرونه شپه او ورځ مياشتي کلونه

نه يې خوب نه يې خواړه وي نه ارام په نيمه شپه وي

شب نیست که عقل در تحیر نشود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



از گریه کنار من پر در نشود

پر می نشود کاسه سر از سودا

هر کاسه که سرنگون بود پر نشود

داسي شپه نه ده چي عقل په حيرت کي نه ډوبېږي

او پر څنگ مي مرغلري له سرو اوښکو نه جوړېږي

خو د سر کاسه مي ډکه له سودا هيڅکله نه سوه

چي کاسه وي سرنگونه په هيڅ توگه نه ډکېږي

چون رزق تو انچه عدل قسمت فرمود

يك ذره نه کم شود نه خواهد فزود

آسوده زهر چه نيست ميبايد

و آزاده زهر چه هست ميباشد بود

چي دي رزق ازل ټاکلی په قسمت به در رسېږي

نه يوه ذره به کم سي نه يوه ذره زياتېږي

له نيستی ځان آسوده که او کرار بېغمه کښېنه

له هستيو ځان آزاد کړه او همدا درته ښايېږي

جانم بفدای آنکه او اهل بود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر در قدمش اگر نهی سهل بود

خواهی که بدانی بیقین دوزخ را

دوزخ بجهان صحبت نا اهل بود

وایم جار سم له هغو چي لايقان وي او پوهان وي

چي يې سر پر قدمونو ورته ږدې دا به آسان وي

غواړې پوه سې په ريشتيا چي په دنيا کي دوږخ څه دی

دوږخ دا چي دي صحبت کي شريك سوي نا اهلان وي

فردا که جزای شش جهت خواهد بود

قدر تو به بقدر معرفت خواهد بود

در حسن صفت کوش که در عرصه حشر

حشر تو بصورت صفت خواهد بود

چي سبا ورځ د قيامت وي د حساب مخ ته درېږي

معرفت به ترازو وي په هغه تول تلل کېږي

د صفت نيکي پيدا که چي د حشر په ميدان کي

له لحده چي راکښيني د صفت په څېر پاتېږي

خوش باش که غصه بېکران خواهد بود

بر چرخ قران اختران خواهد بود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خشتی که ز قالب تو خواهد زدن

ایوان سرای دیگران خواهد بود

په خوښۍ که ورځې تېري حساب نسته د غمونو

په آسمان به لا راخېژي ښایسته ستوري په لکونو

یوه خښته به سي جوړه ستا د گران وجود له خاورو

په دېوال کي به کارېږي د قصرونو د کورونو

زان پیش که نام تو زعالم برود

می خور که چو می رسد ز دل غم برود

بگشای سر زلف بتی بند زبند

زان پیش که بند بندت از هم برود

له دي مخکي چي دي هېر کي نوم پر ژبه عالمونه

می در واخله چي می راسي له زړه ولاړ سي ټول غمونه

بند پر بند که زلفي خلاصي د ښایستې د گل اندامي

هسي نه اجل در مات کي په وجود کي ټول بندونه

گویند که ماه روزه نزدیك رسید

من بعد بگرد باده نتوان گردید

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



در آخر شعبان بخورم چندان می

کاندر رمضان مست بیفتم تا عید

وایی میاشت د روژې راغله د لمونځونو طاعتونو

چي څوك نوم پر خوله رانه وړي د شرابو د جامونو

د برات په وروستۍ شپه به دومره تشي پيمانې کړم

چي وينښ نه سم تر اختره د مستيو له خوبونو

ای همنفسان مرا ز می قوت کنید

وین چهره کهربا چو یاقوت کنید

چون در گذرم بمی شو یید مرا

وز چوب رزم تخته تابوت کنید

د محفل يارانو موږ مي په سره می ماښام سهار کئ

کهربا غوندي ژړ مخ مي د یاقوت په شان گلنار کئ

او چي مړ سمه يارانو په سرو ميو به مي مينځئ

بيا د تاك لرگي را واخلئ زما تابوت راته تيار کئ

یاران چو باتفاق میعاد کنید

خود را بجمال همدگرد شاد کنید

ساقی چو می مغانه بر کف گیرد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیچاره فلانرا بدعا یاد کنید

زما یارانو چي راټول سئ انجمن کي غم برباد کئ

په لیدلو د یو بل چي سئ خوشاله زړونه ښاد کئ

چي ساقي محفل کي ناست وي جام په لاس یې وي نیولی

یو ځل ما هم در په زړه کئ بېچاره په دعا یاد کئ

در دهر کسی بگلعذاری نرسید

تا بر دلش از زمانه خاری نرسید

در شانه نگر که بصد شاخ نشد

دستش بسر زلف نگاری نرسید

دې دنیا کي هغه خلګ یار ته نه سي رسېدلای

چي اغزي د زمانې یې پر زړګي نه سي منلای

ږمونځه ګوره چي تر څو یې ځان سل ځایه اره نه کړ

تر هغه یې لاس تر زلفو د نګار نه سو ورتللای

بر پشت من ، از زمانه تو میآید

وز من همه کار نا نکو می آید

جان عزم رحیل کرد وگفتم که مرو

گفتا چه کنم ؟ خانه فرومی آید

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بې نیازي زمانې مې پر اوږو بارونه لوېږي

له سهاره تر ماښامه گناهونه رانه کېږي

روح د تللیو عزم وکړ ما وې مه وزه له تنه

ویل څه لره سم پاته کور پخپله را نړېږي

تا زهره و ماه در آسمان گشت پدید

بهتر زمی ناب کسی هیچ ندید

من در عجبم ز میفروشان کایشان

به ز آنکه فروشند چی خواهد خرید

چي زهره او سپوږمۍ دواړه پر آسمان باندي ختلي

له سرو میو له ډك جامه چا بهتر نه دي لیدلي

زه حیران یم کاروبار ته د دنیا د میفروشو

خرڅوي چی شرابونه دوی بهتر دي څه کتلي

آن مرد نیم کز اجلم بیم آید

کان نیمه مرا خوشتر ازین نیم آید

جانیست مرا بعاریت داده خدا

تسلیم کنم چو وخت تسلیم آید

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوك نه يمه خلكو له اجل نه چي بېرېږي

هغه نيمه چي سوه تېره زما تر دې نيمي خوښېږي

دا يو روح دا دی لرمه چي په پور دی خدای راکړی

دا به هم تسليمومه چي يې وخت را ورسېږي

سنت مکن و فريضه حق بگذار

وآن لقمه که داری زکسان باز مدار

غيبت مکن و خلق خدارا مازار

در عهدهء آن جهان منم باده بيار

سنت مه کوه له سره او د حق فريضه پرېږده

ډوډۍ مه سپموه ځانته ټولو خلکو ته يې لېږده

غيبت مه کوه په ژوند کي او چي زړونه آزار نه کې

د هغه جهان ضامن يم شراب راوړه پياله کښېږده

دي کوزه گري بديدم در بازار

بر تازه گلی لگد همی زد بسيار

وآن گل بزبان حال با او ميگفت

من همچو تو بوده ام مرا نيکو دار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پرون بازار کي ولید کلال سترِی له کارونو

تازه ختې يې وهلې په لغتو په سوکونو

هغو ختېو به ور بِرغ کړل په ژړا د حال په ژبه

پام چي ستا غوندي انسان وم ته غافل زما له زخمونو

این اهل قبور خاك گشتند و غبار

هر ذره زهر ذره گرفتند کنار

اه این چه شرابست که تا روز شمار

بیخود شده و بیخبرند از همه کار

ټوله خاوري دي غبار دي چي پراته پر هديره دي

د وجود ذرې يې يو له بله بيگانه دي

څه شراب يې دي چښلي چي د حشر تر گړيه

بېخبر له حوادثو او هم غم پر زمانه دي

از بودنی ای دوست چه داری تیمار

وز فکرت بیهوده دل وجان افگار

خرم بزی و جهان بشادی گذران

تدبیر نه باتو کرده اند آخر کار

د هستۍ له کاروباره ولي تل کوې غمونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې فکره دي راوړي پر نفس او زړه دا غونه

دا څو شپې د ژوند باقي دي په خوښۍ که شپې تېرې

چې شريك در سره نه دي د اسمان مصلحتونه

آن لعل در آبگينهء ساده بيار

و آن محرم و مونس هر آزاده بيار

چون می دانی که مدت عالم خاك

باد است که زود بگذرد باده بيار

هغه سره مې راته راوړه چې ساده يې دي جامونه

چې محرم دي د رندانو چې شريك مو دي رازونه

ته پوهېږې چې د خاورو د جهان دا لنډي ورځې

لکه باد هسې تېرېږي ژر يې راوړه شرابونه

عمرت چی دو صد بود چی سيصد چی هزار

زين کهنه سرا برون برندت ناچار

گر پادشهي و گر گدای بازار

اين هر دو به يك نرخ بود آخر کار

که دې ژوند دوه سوه کاله يا زر کاله سې ختمېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نابوده دنیاګۍ به خامخا درنه پاتېږي

که تاجونه د شاهۍ دي که کچکول د ملنګۍ دی

په وروستي بازار کي دواړه په یوه بیه خرڅېږي

سنت بکن و فریضه حق بگذار

و آن لقمه که داری ز کسان باز مدار

در خون کس ومال کسی قصد نکن

در عهده آن جهان منم باده بیار

پر سنت باندی ټینګ اوسه فریضه د حق ادا که

چي هر څه لرې په لاس کي هغه نذر د سخا که

چي نه ویني د چا وخورې او نه غل د چا د مال سې

د هغه جهان ضامن یم راسه کښېنه شراب راکه

او را خواهي از زن و فرزند ببر

مردانه در آز خویش و پیوند ببر

هر چیز که هست بند را هست ترا

با بند چگونه میروی بند ببر

که جانان غواړې ځان خلاص که له مېرمني له زامنو

د مېړه غوندي فارغ سه هم له حرص هم پیوندونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه چي دي تاته يې لار کي سر پر سر بندونه ايښي

ته له بند سره ځې ښنگه، ځان آزاد که له بندونو

يك جرعه مى از مملكت جم خوشتر

بوى قدح از غذاى مريم خوشتر

آه حرى زسينه خمارى

از ناله بو سعيد و ادهم خوشتر

څاڅکى مى له مملکته تر قصرونو د جم ښه دي

د ساغر بوى هوښيارانو تر غذا د مريم ښه دي

سحرگاه چي له خماري سينې پورته سي آهونه

تر ژړا د بو سعيد او عبادت د ادهم ښه دي

ايام جوانيست شراب اوليتر

باخوش پسران باده ناب اوليتر

اين عالم فانى چو خرابست بآب

از باده در او مست وخراب اوليتر

د ځوانۍ ورځي او شپې دي له هر څه نه شراب ښه دي

گلرخان غېږ کي نيولي عيش و نوش مى ناب ښه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاقبت به خرابېږي دا فاني دنيا لړزانه

هستېدلي له شرابو پکښې مست و خراب ښه دي

خشت سر خم ز مملکت جم خوشتر

بوی قدح از غذای مریم خوشتر

آه سحری ز سینه خماری

از ناله بوسعید و ادهم خوشتر

د خم خښته مي خوښېږي د جمشيد تر اقليمونو

د پيالې بوی راته خوږ دی د مريم تر خوراکونو

سحرگاه چي آه سي پورته له سينو د خمارياڼو

ښه لگېږي د ادهم او بوسعيد تر فريادونو

ايام جواني است و شراب اوليتر

باخوش پسران باده ناب اوليتر

اين عالم فانی چو خراب است ويباب

از باده درو مست وخراب اوليتر

ډکي ډکي پيالې واخله چي د عمر دي ځواني ده

سره شراب ښکلي نوخطه نن واجبه پايکوبي ده

پر نېستۍ باندي ولاړه دا فانی دنيا خرابه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سرو میو مست خراب سه که یوه شپه دي باقي ده

چون حاصل آدمی درین دیر دو در

جز خون دل و دادن جان نیست دگر

خرم دل انکسی که معروف نشد

و آسوده کسی که خود نزاد از مادر

انسانان چي پر دې مځکه له ازله اوسېدلي

د زړه ويني يې خوړلي نفسونه يې وتلي

هغه خلگ دي نېکمرغه چي مشهور پر جهان نه دي

او هوسا هغه کسان دي چي هيڅ نه دي زيږېدلي

وقت سحراست خیز ای طرفه پسر

پر باده لعل کن بلورین ساغر

کین یکدمه عاریت درین کنج فنا

بسیار بجویی و نیابی دیگر

د سحر وخت دی نوخطه دا موسم را نه تېرېږي

بلوړي جام مي را ډك كه له سرو ميو چي ځلېږي

له فاني دنيا په پور دی دا یو دم را رسیدلی

بيا به ډير ورپسي گرځې وخت چي تېر سي نه ستنېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چند ازین حیله و زر راقی عمر
تا چند مرا درد دهد ساقی عمر
حقا که من از ستیزه و خدعه عمر
چون جرعه بخاك ریزم این باقی عمر

لا ترڅو به د دې عمر نیرنګونه حیلې وړمه
د ساقی له لاسه څو به دا خټین شراب چښمه
یوه ورځ به د دې عمر د فریب او چم له لاسه
لکه غوړپ دا باقي عمر ځم پر خاورو تویومه

بایار چو آرمیده باشي همه عمر
لذات جهان چشیده باشي همه عمر

هم آخر عمر رحلتت باید کرد
خوابی باشد که دیده باشی همه عمر

چې ټول عمر یې له یاره لاس تر غاړه اوسېدلی
ژوند دې ټول په عیش و نوش وي هر نعمت دې وي څکلی
خو د عمر په آخر کې لوی سفر درته لیکلی
ټوله عمر داسې ښکاري لکه خوب وي چا لیدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افلاك كه جز غم نفزايند دگر
ننهند بجا تا نر بايند دگر
نا آمده گان اگر بدانند كه ما
از دهر چه ميكشيم نايند دگر

له آسمان څخه رانه غلل تر دنيا بې له غمونو
چي نن زيږي سبا يوسي لمن ډكه له سرونو
نه راغلي كه خبر سي زموږ د ژوند په عذابونو
رابه نه سي دې دنيا ته تر قيامته تر عمرونو

زان مى كه حيات جاودانى است بخور
سرمايهٔ لذت جوانى است بخور
سوزنده چو آتش است ليكن غم را
سازنده چو آب زندگانى است بخور

هغه سره شراب را واخله چي يې ژوند جاوداني وي
هنگامه يې د مستيو را وستلې پر ځواني وي
پكښي سوزي چي غمونه سور تنور غوندي بلېږي
لكه جام د خضر ډك وي پكښي تل زندگاني وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای دوست غم جهان بیهوده مخور

بیهوده غم جهان فرسوده مخور

چون بود گذشت و نیست نابود پدید

خوش باش غم بوده و نابوده مخور

دوسته غم پر جهان مه خوره د ښېګڼو د بديو

په غم نه ارزي دا خونه د ورستو زړو هستيو

څه چي وه هغه تېر سوي څه چي دي راغلي نه دي

د پرون سبا غم پرېږده دا شېبه ده د مستيو

جانا می صاف وقت گل خوش میخور

بر یاد بتان نغز و دلکش میخور

می خون رزانست و رزترا گوید

خون بر تو حلال کرده ام خوش میخور

د گلونو په موسم کي گرانه صاف می دي راغلي

دا په ياد د گلرخانو خپل ازل په مورِ چښلي

سره شراب ويني د تاك دي تاك پخپله درته وايي

ځه چښه يې نوشوه يې ما مي وينى در بخښلي

در دایره سپهر نا پیدا غور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



می نوش به خوشدلي که دور است بجور

نوبت چو بدور تو رسد آه مکن

جامی است که جمله را چشانند بدور

د آسمان په دايره کي نا آشنا نوبت چلیږي

په خوښۍ دي پياله نوش که چي په جبر چښل کېږي

چي دي هر کله نوبت سو آه به نه باسې له ستوني

داسي جام دی چي نوبت یې تر هر چا پوري رسېږي

گرباده خوری تو با خردمندان خور

يا با پسر ساده رخ خندان خور

بسيار مخور ورد مکن فاش مساز

اندك خور و گاه گاه خور و پنهان خور

که شراب چښې چښه یې په صحبت د هوښيارانو

له نوخط سره یې نوش که په ټولۍ کي د يارانو

مه یې ډېر خوره مه یې تل خوره مه دي راز وايه و چاته

هم یې لږ خوره کله کله او هم پټ له رقيبانو

گرباده خوري تو با خرد مندان خور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا با صنمی لاله رخ خندان خور

بسیار مخور ورد مکن فاش مساز

اندك خور وگه گاه خور و پنهان خور

له هوښيارو سره نوش که د سرو ميو ډك جامونه

يا ملگري که پی مخي ښايسته لکه گلونه

نه چي وران دي له مستۍ سي د رندانو محفلونه

لږ يې نوش که کله کله او پټ وساته رازونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای دوست غم جهان بیهوده مخور

بیهوده غم جهان فرسوده مخور

چون بود گذشت و نیست نا بود پدید

خوش باش و غم بوده و نا بوده مخور

څه په زړه کي دي ځای کړي د فاني دنیا غمونه

په غمونو کله ارزي د ژوندون دا ورانه خونه

څه چي وه هغه تېر سوي د راتلونکو درك نسته

په خوښیو کي یې هېر که د هستۍ نیستۍ غمونه

ای دل همه اسباب جهان خواسته گیر

باغ طربت بسبزه آراسته گیر

و انگاه بر آن سبزه شبی چون شبنم

بنشسته و با مداد بر خاسته گیر

اې زړگیه له جهانه چي درځي په قانع کېږه

د مستۍ په تازه باغ کي له سبزو سره خوښېږه

بیا په څېر د شبنم راسه پر سبزه یوه شپه کښېنه

او سهار د لمر په وړانگو هم پاڅېږه هم ورکېږه

از گردش روزگار بهری بر گیر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بر تخت نشین بکف ساغر گیر

از طاعت و معصیت خدا مستغنی است

باری تو مراد خود از عالم بر گیر

برخه یوسه له روزګاره د فلك له ګردشونو

د خوښیو پر تخت کښینه شرنګی جوړ که د جامونو

خدای پخپله بې پروا دی له طاعت له ګناهونو

د قسمت شراب دي نوش که له ساغره له خمونو

دنیا همه سر بسر ترا خواسته گیر

صد گنج بزر و گوهر آراسته گیر

پس بر سر آن گنج چو بر صحرا برف

روزی دو سه بنشسته و برخاسته گیر

دا دنیا هغسي بوله چي ته هرڅه غواړي ستا وي

سل د زرو خزانې وي د غمونو درته شا وي

ته به پروت پر خزانو يې لکه واوره پر دښتونو

دوې یا درې ورځی به ناست يې بیا به هر څه نیمه خوا وي

ای دل همه اسباب جهان خواسته گیر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغ طربت به سبزه آراسته گیر

وآنگاه بر آن سبزه شبې چو شبنم

بنشسته و با مداد بر خاسته گیر

چي هستي ده خدای درکړې په خوښېږه هوسېږه

چي هم می وي هم نگار وي پر سبزه باندی نځېږه

شپه دي تېره پر سبزه که هستي ټوله يوه شپه که

د شبنم په دود شپه راسه او سهار ورنه کوچېږه

بازي يو دم پريده از عالم راز

شايد که بروم راه از نشيبی بفراز

اينجا چو نيافتم کسی محرم راز

زآن درکه در آمدم برون رفتم باز

زه يو باز وم د رازونو له عالمه الوتلی

ما وې گوندي څرك پيدا كړم پاس د هسك پر لوري تللی

چي مي دلته پيدا نه كړ څوك محرم چي راز خوندي كړي

پر هغه دروازه ولاړم چي دننه وم راغلی

ای دل چو حقيقت جهان است مجاز

چندين چه خوری غم اندرين قحط نياز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تن را بقضا سپار و با درد بساز

کین رفته قلم ز بهر تو ناید بّاز

حقیقت د دې جهان دی د مجاز په تول تللی

څه به غم خورې دې نړۍ چی هر سړی په زړه نتلی

ځان دي وسپاره قضا ته زړه له درد سره پخلا که

ستا دپاره نه راګرځي چي قلم يې دی وهلی

با تو خرابات اگرگویم راز

به زانکه بمحراب کنم بی تو نماز

ای اول و اخر خلقان همه تو

خواهی تو مرا بسوز خواهی بنواز

که له تا سره رازونه په مغان کي بې پردې کړم

تر دې ښه چی په محراب کي بېله تا سر پر سجدې کړم

هم اول يې هم اخر يې د دې ټولو مخلوقاتو

نازوې مي که سوځې مي زه به څرنګه ګيلې کړم

میپرسیدی که چیست این نقش مجاز

گر بگویم حقیقتش هست دراز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقشی است پدید آمده از دریایی

وآنگاه شده بقعر آن دریا باز

تا به تل کړلې پوښتني هنګامه د مجاز څه ده؟

حقیقت که درته وایم دا کیسه ډېره اوږده ده

یو جلوه ده ښکاره سوې یوه شپه له یو دریابه

بیرته تللې سمندر ته په موجونو کې یې شپه ده

از روی حقیقتی نه از روی مجاز

ما لعبتکانم و فلك لعبت باز

بازیچه همی کنیم بر نطع وجود

افتیم بصندوق عدم یك یك باز

غوږ پر نیسه حقیقت دی هسی نه ده چې مجاز دی

دا موږ ټول یو ناوکیاني او فلك ناوکی باز دی

د وجود پر میدان ګرځو ناوکۍ غوندې لوبېږو

یو یو ځو د نېستۍ کور ته دا زمان دی دا یې راز دی

از جملهء رفتگان این راه دراز

باز امده کوکه خبری گیرم باز

هان بر سر این دو راههء آز و نیاز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیزی نگذاری که نمی ایی باز

پر دې توره اوږده لاره عالمونه دي وتلي
داسي څوك مي پيدا نه کړ چي رازونه يې ويلي
دا د حرص او دا د طمع دوراهي ته دي پام نيسه
درڅه پاته چي شی نه سي تللي بيا نه دي راغلي

معشوق که عمرش چو غمم باد دراز
امروز بنو لطفی کرد آغاز
بر چشم من انداخت دمی چشم و برفت
يعنی که نکويی کن و درآب انداز

د جانان عمر دي اوږد وي لکه شپې زما په غمو کي
نن يې نوی کرم وکړ په نازونو کرشمو کي
زما پر سترگو يې کړې سترگي برابري بيرته ولاړی
يعني خپله نېکي وکه بيا يې وا چوه اوبو کي

لب بر لب کوزه بردم از غايت آز
تا زو طلبم وا سطه عمر دراز
کوزه بزبان حال بامن ميگفت
عمری چو تو بوده ام دمي بامن ساز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرص اخیستی وم پر شونډو د کوزې چې پرېوتلم

د اوږده ژوندون په طمع په سره می نه مړېدلم

او کوزې د حال په ژبه په ورو ورو راته ويله

را نژدې سه چې يو عمر زه هم ستا پر لاري تللم

اين چرخ که با کسی میگوید راز

کشته به ستم هزار محمود و اياز

می خور که بکس عمر دوباره ندهند

هر کس که شد از جهان نمي آيد باز

دا فلك دی چي هيچاته د زړه نه وايي رازونه

هم محمود او هم اياز يې په ستم وړي زرگونه

شراب وچښه چي عمر بيا په لاس در تللای نه سي

څوك چي تللي له جهانه راپې نغلل احوالونه

رو بر سر افلاك جهان خاك انداز

می میخور و گرد ماهرويان میتاز

چی جای عبادتست و چی جای نماز

کز جملهء رفتگان کسي نامد باز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ سه توري خاوري توی که پر جهان د آسمانونو

د ښایستو حورو په منځ کي پورته کړنگ که د جامونو

څه به ځای د عبادت وي څه محراب دی د لمونځونو

څوك چي تللي ستانه نه سول له ناپایو سفرونو

کردیم دگر شیوه رندي آغاز

تکبیر همی زنیم بر پنج نماز

هر جا که پیاله ایست ما را بینی

گردن چو صراحی سوی او کرده دراز

د رندۍ لار مو اخیستې ځو روان یو په مزلونو

د تکبیر ناري مو پورته پر پنځو واړو لمونځونو

چي هر ځای پیالې تشیږي په هغه محفل کي ناست یو

صراحي رنگه مو غاړي اوږدې کړي تر جامونو

باتو بخرابات همی گویم راز

به زانکه کنم بی تو بمحراب نماز

ای اول و آخر همه خلقان تو

خواهی تو مرا بسوز و خواهی بنواز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه چي تا ته خرابات کي د زړه وايمه رازونه

نه چي ولاړ سمه محراب ته بېله تا وکم لمونځونه

د مخلوق اول آخره ستا له لوري مي قبول دي

که مي سوځې په اورونو او که راکړې کوثرونه

از جمله رفتگان این راه دراز

باز امده کو که بما بگوید راز

پس بر سر این دوراه آزار و نیاز

با هیچ نمانی که نمی اید باز

پر دې توره اوږده لاره چي هر څوك دي ور وتلي

بيرته نه دي څوك راغلي چي رازونه يې ويلي

موږ ولاړ پر دوراهي يو د گناه او ثوابونو

چي تش لاسی پاته نه سې چي راغلي ټوله تللي

رو بر سر افلاك وجهان خاك انداز

می میخور و گرد خوبرویان می تاز

چی جای عتاب آمد و چه جای نیاز

کز جمه روندگان کسی نامد باز

د جهان په خوله که خاوري هم پر سر د آسمانونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګلرخو سره نوش كه ډك جامونه له خمونو

نه خبر څوك له ثوابه نه اګاه څوك له عذابه

نه له تلليو څوك راغلی نه يې څرك د احوالونو

وقت سحر است خيز ای مايه ناز

نرمك نرمك باده خور و چنگ نواز

كانها كه بجايند نپايند دراز

و آنها كه شدندكس نمی آيد باز

لږ د ناز خوبونه پرېږده د سهار وخت دی جانانه

جام كه پورته چنګ را واخله چي پردی سمه له ځانه

د يو څو شپو مېلمانه دي چي ژوندي پر دنيا پايي

او بيا نه دي ستانه سوي څوك چی تللي له جهانه

كرديم دگر شيوه رندی آغاز

تكبير همی زنيم بر پنج نماز

هر جا كه پياله ايست ما را بينی

گردن چو صراحی پی او كرده دراز

د رندۍ لار مو پيل كړې اوس روان پر دې كوڅې يو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنځو لمونځونو وخت کي په تکبير او په نارې يو

چي هر ځای پيالې شرنګېږي پر هغه ميدان مو غواړه

صراحي مو غاړی اوږدې کړي ور پسې يو

گرگوهر طاعتت نسفتم هرگز

گرد گنه از چهره نرفتم هر گز

با این همه نومید نیم از کرمت

زیرا که یکی را دو نگفتم هر گز

که گوهر د عبادت مي په هيڅ وخت نه دی پېيلی

د گناه گرد مي له مخه په ژوند هيڅ نه دی پرېولی

له درباره د کرم دي نا اميده ځکه نه يم

دوه مي هيڅ نه دي ويلي چي مي يو احد منلی

ما عاشق و آشفته و مستیم امروز

در کوی بتان باده پرستیم امروز

از هستی خویش بلکی رسته

پیوسته بمحراب الستیم امروز

نن له هر څه بې پروا يو لېوني يو عاشقان يو

د گلرخو په کوڅو کي جام په لاس گرځو مستان يو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل ځانه پردي سوي له هستيه بېخبره

د الست محراب کي ناست يو په طلب د خپل جانان يو

آب رخ نو عروس رز پاك مريز

جز خون دل تاب ناپاك مريز

خون دو هزار تاب نامعلوم

بر خاك بريز و جرعه بر خاك مريز

چي رسوا درڅخه نه سي د مغان د لور رازونه

د ناپاکو توبه ګارو همېشه تېر سه له خونه

د دوو زړو منافقو توبه ګارو ويني توی که

پام چي توی پر خاورو نه کې نه يو څاڅکی نه جامونه

حکيمې که ازو محال باشد پرهيز

فرموده و امر کرده کز وی بگريز

انگاه ميان امر و نهيش عاجز

اين قصه چنان بود که کج دار و مريز

هغه کار چي يې له کړلو ممکن نه دي پرهېزونه

راته ايښي يې په مخ کي سل سزاوي سل بندونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د امر او د نهې تر مابين يو عاجز پاته

قصه داسي ده چي کړه يې چاته مه وايه حالونه

يا رب تو جمال آن مهر انگيز

آراستهٔ به سنبل عنبر بيز

پس حکم همی کنی که در وی منگر

اين حکم چنان بود که کج دار و مريز

خدايه يو ځل دي پيدا کړل تر سپوږمۍ ښکلي مخونه

ګڼې زلفي غټې سترګي سره شونډان لکه لعلونه

بيا نو وايې مه ورګورئ خو دا حکم داسي ښکاري

چي پياله کړه در واخله خو توی نه کې شرابونه

از حادثهٔ زمان زآينده مترس

وز هر چه رسد چونيست پاينده مترس

اين يکدمه نقد را بعشرت بگذار

از رفته مينديش زآينده مترس

ببره مه کړه له زمانه ورسره چي حادثې دي

له هغو مه کوه ببره چي عمرونه يې شېبې دي

دغه دم دي غنيمت دی تېروه يې په مستيو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له راتلونکو مه ببربېره پرېږده تېري زمانې دي

مرغی دیدم نشسته بر بارهْ طوس
در پیش نهاده کلهْ کیکاووس
باکله همیگفت که افسوس افسوس
کو بانگ جرسها و چه شد نالهْ کوس

ما مرغه ولیدی ناست و پاس د طوس په کنګرو کي
او کوپړۍ د کیکاووس یې مخ ته اېښې وه په پښو کي
و کوپړۍ ته یې ویله چي افسوس افسوس غریبه
څه سو شرنګ د جرسونو څه سو ږغ په نغارو کي

خیام اگر زباده مستی خوش باش
با ماهرخی اگر نشستی خوش باش
چون عاقبت کار همه نیستی است
انگار که نیستی چو هستي خوش باش

اې خیامه که له میو نن مستي ده په خوښېږه
هم نګار له څنګه ناست دی هم ځواني ده هوسېږه
عاقبت پر دې نابوده د عدم او نیستۍ وار دی
داسي وګڼه چي نه یې چي هستي ده په خوښېږه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامیست که عقل آفرین میزندش

صد بوسه ز مهر بر جبین میزندش

وین کوزه گر دهر چنین جام لطیف

میسازد و باز بر زمین میزندش

داسي جام دی چي خالق يې په ازل ختې خيشتې کړي

بيا يې سل مچي له نازه پر تندې باندی خپرې کړي

دا کلال د زمانې دی چي نازك ښکلي جامونه

جوړوي يې هم پخپله بيا يې مات ذرې ذرې کړي

درکارگه کوزه گری رفتم دوش

دیدم دو هزار کوزه گویا و خموش

ناگاه یکی کوزه بر آورد خروش

که کوزه گر و کوزه خر و کوزه فروش

بيگاه ولاړم کارخانې ته د کلال د صنعتونو

زر کوزې وې هم خاموشي هم گويا وې پر طاقونو

د يوې کوزې له خولې سو نابېره دا ږغ پورته

کوم کلال، څوك رانيوونکی، څوك صاحب د دې مالونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمست بیخانه گذر کردم دوش

بیری دیدم مست و سبویی بر دوش

گفتم ز خدا شرم نداری ای پیر

گفتا کرم از خداست می نوش خموش

بېگاه ولاړم میخانې ته د توبې خونه ویجاړه

یو بوډا مي سو په سترگه صراحي ډکه پر غاړه

وې يې څه کوې سپین ږیرې شرم نه لرې له خدایه

ویل دا د خدای کرم دی خوله در نیسه شراب غواړه

پندی د همت اگر بمن داری گوش

از بهر خدا جامه تزویر مپوش

دنیا همه ساعتی وعمر تو دمی

از بهر دمی عمر ابد را مفروش

دا یو پند مي په غوږ واوره گوره ځان چي پر شا نه کې

خدای ته گوره چي په تن دي دا جامه د ریا نه کې

دنیا ټوله یو ساعت ده او ستا ژوند یوه شېبه دی

ابدي عمر هوښیاره په شېبه چي سودا نه کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



از آمده ها آب مکن زهرهء خویش

وز هر جهتی شور مکن شهره خویش

بر دار زدنیای دنی بهرهء خویش

زان پیش که دهر بر کشد دهرهء خویش

زهره مه چوه سبا ته چي لا نه يې ورغلی

هري خواته وهې منډې د شهرت غم يې نيولی

له دې ټيټې دنياګيه خپله ګټه واخله درومه

لا دمخه چي زمان يې خپل ساطور ته پرې ايستلی

خیام زمانهازکسی دارد ننگ

کو در غم ایام نشیند دلتنگ

می خور تو درآبگینه با نالهء چنگ

زآن پیش که آبگینه ات آید بر سنگ

زمانه له هغو خلکو شرم ننګ لري خیامه

زړه يې شين وي له ايامه ګيله من د هسك له بامه

جام دي ډك لره له ميو نی و چنگ در سره واخله

هسي نه چي دي ډبره پر جام ولوېږي ناپامه

این صورت کوزه جمله نقش است وخیال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عارف نبود هرکه نداند این حال

بنشین قدحی باده بنوش و خوش باش

فارغ شو ازین نقش خیالات

د کوزې دا شکل وینې ټول تصویر دی د خیالونو

عارف نه دی څوك چې نه وي با خبر له دې حالونو

کښېنه جام که پر سر پورته غم دي وشړه له خوني

ځان فارغ که له تصویره د محال خیال و خوبونو

چند از غم و غصهء جهان قالاقال

برخیز و بشادی گذران حالاحال

از سبزه چو شو روی زمین میلامیل

در کش می لعل از قدح مالامال

څو تر څو به وي غمونه شنه به زړونه له روزگار وي

د مستۍ چیغي که پورته څو له غمه به چغار وي

مخ د مځکي شین دی سور غاټول پر غوړېدلی

جام که ډك له هغو میو چي تك سور لکه انار وي

از جرم حضیض خاك تا اوج زحل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کردم همه مشکلات گردون حل

بیرون جستم ز بند هر مکر وحیل

هر بنده کشاده شد مگر بند اجل

ما د مځکي له کوګله بیا تر اوجه د زحل

مشکلات د آسمانونو او د ستورو مي کړه حل

ځان مي خلاص کی له بندونو د مکرونو د چلونو

فقط یو بند سو را پاته هغه بند و د اجل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس خلد و جحیم را ندیدست ایدل

نی نیز از انجهان رسیدست ایدل

امید و هراس ما بچیزیست کزآن

جز نام و نشانی نه پدیدست ایدل

نه جنت او نه دوږخ دی اې زړګیه چا لیدلی

او نه څوك زموږ تر محفله له هغې دنیا راغلی

موږ له داسي شي بېرېږو موږ امید دی په تړلی

چي يې نوم او نښان سته خو چا يې رنګ نه دی لیدلی

باسبزه خطی تازه تر از خرمن گل

از دست مده جام می و دامن گل

زآن پیش که ناگه شود از باد اجل

پیر اهل عمر ما چو پیراهن گل

چي تازه د ګل تر ونه یو نوخطه درسره وي

لمن پرېږده د ګلونو او په لاس به دي پیاله وي

هسي نه وي چي ناپامه د اجل بادونه راسي

او د سرو ګلو په څېر مو د ژوندون ګرېوان پاره وي

در مسجد اگر چه با نیاز آمده ام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقا که نه از بهر نماز آمده ام

اینجا روزی سجاده دزدیدم

آن کنهه شدست باز آمده ام

که هر څه تر دې مسجده تمنا ته يم راغلی

نه لمونځو نه سجدو ته نه دعا ته يم راغلی

يوه ورځ مي له محرابه مسله ده په غلا وړې

اوس هغه د زړه سوې بلي غلا ته يم راغلی

ماییم در اوفتاده چون مرغ بدام

دلخسته روزگار و اشفته مدام

سر گشته در این دایره بې در وبام

نا مّده بر مراد و نا رفته بکام

د مرغيو په څېر راغلو د ازل دام ته لوېدلي

زړونه ستړي ورځې ستړي شپې د غم په تار پېيلي

دې لار ورکې دايره کی لا لهانده له اوله

نه له مراد سره راغلي نه په مراد يو رسېدلي

یکدست بمصحفیم و یکدست بجام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گه مرد حلالیم وگهی مرد حرام

ما ییم درین گنبد فیروزه رخام

نی کافر مطلق نه مسلمان تمام

هم د میو جام په لاس کي هم په ذکر د قران یو

کله کله حرام وخورو کله ټینگ پر خپل ایمان یو

تر دي شنه اسمان را لاندي موږ هم یو له بندگانو

چي نه بشپړ کافران یو نه سوچه مسلمانان یو

بي باده نبوده ام دمی تا هستم

امشب شب قدراست ومن امشب مستم

لب بر لب جام و سینه بر سینه خم

تا روز بگردن صراحی دستم

بې سرو میو هرگز نه وم چي پیدا پر زمانه یم

دا نن شپه ده د شب قدر زه په میو مستانه یم

د جام شونډو باندي شونډي پر سینه د خم سینه ده

تر سهاره صراحي ده لاس تر غاړه ورسره یم

گویند مرا که می پرستم هستم

گویند مرا فاسق و مستم وهستم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



در ظاهر من نگاه بسیار مکن

کاندر باطن چنانکه هستم هستم

شرابي مي عالم بولي دوی دي وايی وايم يمه

که فاسق او مست مي بولي وايم يمه مستي کړمه

څه مي هر ګړی مخلوقه ظاهري صورت ته ګورئ

په ظاهره چي مي ګورئ په باطن کي هسي يمه

گرمن زمی مغانه مستم هستم

ور عاشق و رند و می پرستم هستم

هر طایفهء بمن گمانی دارند

من از آن خودم چنانکه هستم هستم

که له میو د مغانه هسي مست يم دا دی يمه

که مين يمه که رند يم می پرست يم دا دی يمه

طايفې د خلکو ويني ما په خپلو آيينو کي

زه پخپله خپل وجود يم چي دا هست يم دا دی يمه

گر من گنه روی زمین کردستم

عفو تو امید است که گیرد دستم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گفتی که بروز عجز دستت گیرم

عاجز تر ازین مخواه کاکنون هستم

که په غاړه مي د ټولو مخلوقاتو ګناهونه

ستا د عفوي په امید یم چي مي ونیسې لاسونه

تا ویل چي خوار وزار یې په هغه ورځ دي لاس نیسم

لاس مي نیسه چي عاجز یم نور به څه وي ذلتونه

گل گفت که دست زر افشان اوردم

خندان خندان رو بجهان اوردم

بند از سر کیسه بر گرفتم رفتم

هر نقد که بود در میان اوردم

ګل ویل مخ مي نیولی محفلونو د جانان ته

خوله مي ډکه له خندا ده یم راغلی دې جهان ته

امیانۍ مي کړلې خلاصي ور رهي سوم ګلستان ته

چي مي څه نغده درلوده ما ور خوشي کړه میدان ته

تاظن نبری که من بخود موجودم

یا این زه خونخواره بخود پیمودم

چون بود و حقیقت من ازو بودست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



من خود که بدم کجا بودم کی بودم

څو چي شك در پيدا نه سي چي موجود يمه پخپله
دا اوړده خونړۍ لاره زه پخپله پی کومه
ځکه دی هلته موجود و او له ده زما حقيقت دی
دا زه څوك ومه پخپله، چېري وم او کله ومه

کو محرم راز تا بگويم يکدم
کز اول کار خود چه بودست آدم
محنت زده سرشته از گل غم
يکچند جهان بگشت برداشت قدم

چا ته ووايم رازونه ما محرم نه دی ليدلی
چي آدم له لويه سره څه شي و څنگه راغلی
له لومړۍ ورځي ازل دی له غمو سره اخښلی
څو قدمه يې اخيستي په جهان کي گرځېدلی

گفتم دگر بادهء گلگون نخورم
می خون رزانست دگر خون نخورم
پير خردم گفت بجد ميگويی
گفتم کی مزاح ميکنم چون نخورم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وې بيا به له جامونو سره شراب نه تشومه

سره شراب دي د تاك ويني زه به ويني څنګه خورمه

پير د عقل مي ويله په ريشتيا دي پرهېز وکړ؟

ما وې ټوکي کوم پيره مى به څنګه نه چښمه

در عشق تو صد گونه ملامت بکشم

ور بکشم آن عهد غرامت بکشم

گر عمر وفا کند جفاهای تورا

بازی کم از آنکه تا قيامت بکشم

ستا په مينه کي جانانه وړمه سل رنګه تورونه

که پر قول سوم پښېمانه زما يې غاړه ستا تېغونه

که مي عمر وفا وکړه که مي ژوند لا په نصيب و

تر قيامته به دي وړمه د جفا درانه بارونه

با رحمت تو من از گنه نندیشم

با تو شه تو ز رنج نندیشم

گر لطف تو ام سفید رو انگیزد

حقا که ز نامه سیه نندیشم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا رحمت چي را سره وي له گناه ولي بېرېږم

ستا د نوم توښه لرمه رنځ د لاري ته درېږم

که مي ستا رحمت ژوندی کی په سپین مخ له خپله گوره

که په لاس مي توره پاڼه راته راکي نه زورېږم

از باده شود زسر تکبر هاکم

وز باده شود گشاده بند محکم

ابلیس اگر زباده خوردی جامی

کردي دو هزار سجده پیش آدم

له سرو میو کبر کم سي د سرونو په کاسو کي

ټینگ بندونه په خلاصیږي هم په زړونو هم په خولو کي

که ابلیس وای پورته کړی یو ډك جام د دې سرونو

سترې کړی به يې ځان وای و آدم ته په سجدو کي

با نفس همیشه در نبردم چکنم

وز کرده خویش بدرم چکنم

گیرم که زمن در گذرانی بکرم

زین شرم که دیدی که چه کردم چکنم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل نفسه سره تل یم شپه او ورځ په جنگ لوېدلی

زه له خپلو کړو پښېمان یم له دې درده کړېدلی

او که ستا کرم راتېر سي زما تر کړو گناهونو

له دې شرمه به زه څه کړم چي گناه کي دي لیدلی

بر مفرش خاك خفتگان می بینم

در زیر زمین نهفتگان می بینم

چندانکه بصحرای عدم مینگرم

نا آمدگان و رفتگان می بینم

د دې خاورو پر کمبله خلك وینم چي بیده دي

تر دې مځکي لاندی وینم بې حسابه چي پراته دي

هر څه سترگي غړومه د عدم بېدیا ته گورم

یا به تللي پکښې گورم یا راغلي هر گز نه دي

من ظاهر نیستی وهستی دانم

من باطن هر فراز و پستی دانم

با این همه از دانش خود بیزارم

گر مرتبه ورای مستی دانم

را څرگند ټول ظواهر دي د نېستیو د هستیو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسرارو خبردار يم هم د هسكو هم پستيو

هغه ورځ به يم بېزاره له خپل هوښ له خپلي پوهي

كه مي ياده مرتبه كړه چېرته لوړه تر مستيو

گرد دگری چگونه پرواز كنم

يا عشق تو يې چگونه آغاز كنم

يك لحظه سرشك ديده می نگذارد

تا چشم بروی دگری باز كنم

زما وزر به ښنگه جوړ كي بېله تا بل ځای كي سيوري

ستا د عشق ذكر مي مل وي ښنگه ياد كمه نور توري

اوښكو كله دی پرې ايښی زما د سترگو د كور غولی

چي مي سترگي كمه خلاصي بېله تا د بل پر لوري

از آب وگلم سرشتهء من چكنم

وين پشم وقصب تو رشتهء من چكنم

هر نيك و بدی كه از من آيد به وجود

تو بر سر من نوشتهء من چكنم

چي دي زما اوبه او ختي په لومړۍ ورځ دي اخښلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ژوند په تانسته دي د قضا توري اودلي

که مي خير له لاسه کېږي که مي شر خيژي له لاسه

زما په وس نه ده خالقه دا خو تا راته ليکلي

هريك چندی يکی بر آيد که منم

با نعمت و باسيم و زر آيد که منم

چون كارك او نظام گيرد روزی

ناگه اجل از کمين در آيد که منم

يو څو ورځي ځوك په ښار کي ځان ښکاره کي وايی زه يم

ځان د ژوند په نعمتونو مستانه کي وايی زه يم

هوسونه چی د ژوند يې پوره کېږی يو ناڅاپه

له گوښې اجل پيدا سي پرې حمله کي وايی زه يم

من بی می ناب زيستن نتوانم

بی باده کشيدن بار تن نتوانم

من بنده آن دمم که ساقی گويد

يك جام دگر بگير ومن نتوانم

زه بې ميو بې مستيه ژوندون نه سمه کولای

درانه پېټي د ژوندون مي بې شرابو نه سم وړلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بنده د هغه آن یم چي ساقي مي راته وایي

دا یو جام که پر سر پورته زه یې نه سمه چښلای

زینگونه که من کار جهان می بینم

عالم همه رایگان یگان می بینم

سبحان الله بهر چه در مینگرم

ناکامی خویشتن در آن میبینم

په دې توګه چي یې ګورم د جهان واړه کارونه

یو په یو چي پکښي ګورم په نړۍ کي عالمونه

هی سبحان الله چي ګورم چي هر څه ته نظر وکم

ناکامي مي پکښي وینم او تباه ټول عملونه

من باده خورم ولیك مستی نکنم

الا بقدح دراز دستی نه کنم

دانی غرضم زمی پرستی چه بود

تا همچو تو خویشتن پرستی نه کنم

له مستیه به پرهیز یم که هر څو شراب چښمه

بې د سرو میو له جامه بل ته لاس نه اوږدومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پوهېږې له سرو میو زما مطلب څه دی زاهده؟

ستا په څېر مي خپل وجود ته له سجدې پر هېز کومه

گل گفت کن من یوسف مصر چمنم

یا قوت گرانمایهء پر زر دهنم

گفتم چو تو یو سفی نشانی بنمای

گفت که بخون غرقه نگر پیرهنم

گل په خپل حسن مغروره چي یوسف یم په چمن کي

خوله مي ډکه له یاقوتو او طلا مي ده لمن کي

ما وې څرنگه یوسف یې نښاني یې راته وایه

ویل وگوره په وینو سور کمیس لرم په تن کي

هر روز پگاه در خرابات شوم

همراه قلندران بطامات شوم

چون عالم سر والخفیات تویی

تو فیقم ده تا بمناجات شوم

هر سهار او ماښام گرځم په کوڅو کي د مغانو

زړه مي درود او ذکر غواړي د دوهی قلندرانو

ته قادر یې ته دانا یې له عالمه د اسرارو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را نصيب مي مناجات كه د شيخانو زاهدانو

در پای امل چومن سر افگنده شوم
وز دست اجل چو مرغ پر کنده شوم
زینهار گلم بجز صراحی مکنید
شاید که چو پر زمی شوم زنده شوم

چي ارمان مي پوره نه سي نه په ژوند کي بريالی سم
يا مرغه له بڼو کنېلی د اجل په لاس مريی سم
صراحي مي کړي له خاورو چي بل څه رانه جوړ نه کي
گوندي ډك مي کړي له ميو او زه بيرته را ژوندی سم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشمن به غلط گفت که من فلسفیم

ایزد داند آنچه او گفت نیم

لیکن چو درین غم آشان آمده ام

آخر کم از انکه من بدانم که کیم

په غلطه دښمن وايي فلسفي په عقیده یم

غلیمان چي هرڅه وايي خدای خبر دی هغه نه یم

خو چي راغلم دې دنیا ته، دې ځالې ته د غمونو

پوهېدلی په دې نه یم چي زه څوك یم چي زه څه یم

این چرخ فلك که درو حیرانیم

فانوس خیال ازو مثالی داریم

خورشید چراغ آن و عالم فانوس

ما چون صوریم کاندرو گردانیم

د اسمان څرخ ته چي گورو چي حیران وهو چورتونه

یو د خیال فانوس يې بوله که زما اوري مثالونه

لمر څراغ پکښي ځړېږي او عالم لکه فانوس دی

سرگردانه پکښي گرځو لکه موږ یو صورتونه

برخیز و بیا تا می گلرنگ کشیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



با نغمه عود و ناله چنگ کشیم

هشدار که ایام تراویح گذشت

عید است بیا تا می گلرنگ کشیم

راځئ وڅښو شراب چي سره په رنګ ارغواني وي

چي د چنګ نغمې محفل کي راته ګډي نوراني وي

د روژو عبادتونو، تراويح ورځي سوې تېري

اختر راغی، سره می راوړه چي پياله يې اناري وي

بر خیز و بیا که چنگ بر چنگ زنیم

می نوش کنیم و نام بر ننگ زنیم

سجاده بیك پیاله می بفروشیم

وین شیشه زهد بر سر سنگ زنیم

شرنګ د ساز او مستۍ جوړ کئ اور کئ ورته و تقوا ته

سر پر سر به پيالې نوش کو نام و ننګ به پرېږدو شاته

مسئله د عبادت به په يوه پياله سودا کړو

او شيښه د زهد ايله کئ پر ډبره چي سي ماته

ای مفتی شهر از تو پر کار تریم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



با این همه مستی زتو هوشیار تریم

تو خون کسان خوری وما خون رزان

انصاف بده کدام خونخوار تریم

اې د ښار مفتي دا واوره چي له تانه خو پر لار یو

که هر څونه موږ مستان یو بیا لا هم تر تا هوښیار یو

موږ د تاك ویني چښلي ته چښې د سړو ویني

ته انصاف وکه په منځ کي چي اوس کوم یو ډېر خونخوار یو

تا چند اسیر عقل هر روزه شویم

در دهر چه صد ساله چه یکروزه شویم

در ده توبه کاسه می ازآن پیش که ما

در کارگه کوزه گران کوزه شویم

لا تر څو به هره ورځ یو بند د عقل زولانه کي

څه سل کاله څه یوه ورځ یو ژوندي په زمانه کي

تر هغه دمخه راوړه په کاسو کي شرابونه

چي کوزه سي رانه جوړه د کلال په کارخانه کي

میلم به شراب ناب باشد دایم

گوشم به نی و رباب باشد دایم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرخاك مرا كوزه گران كوزه كنند

آن كوزه پر از شراب باشد دايم

تل خمار يم د شرابو د سرو ميو د جامونو

همېشه مي وي غوږ ايښی هم پر نی او ربابونو

كه كلال مي كي له خاورو صراحي او كوزه جوړه

تل دي ډكه صراحي وي او كوزه له شرابونو

ايدوست بيا تا غم فرا نخوريم

وين يكدمه عمر را غنيمت شمريم

فردا كه ازين دير فنا درگذريم

با هفت هزار سالگان همسفريم

راسئ غم د بلي ورځي د سبا نه خورو رندانو

دا يوه شېبه د عمر غنيمت واخلو دوستانو

چي له دې فاني جهانه د بقا جهان ته ولاړ سو

د اووه زره كلونو همسفر به يو يارانو

افسوس كه بيفايده فرسوده شديم

وز طاس سپهر سرنگون سوده شديم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



در دا و ندامتا که تا چشم زدیم

نا بوده بکام خویش نا بوده شدیم

هی افسوس چی سوو بیځایه هم زاړه هم شوړېدلي

د فلك تر کاسې لاندي ټول او سپړو سولېدلي

د زمان ظالم له لاسه چي مو سترګي رپولې

چپاو راغی موږ مطلب ته یو لا نه یو رسېدلي

ای چرخ ز ګردش تو خرسند نیم

آزاد کنم که لایق بند نیم

ګر میل تو با بیخرد و نا اهلست

من نیز چنان اهل و خردمند نیم

ای فلکه ستا له وېشه زه راضی او قرار نه یم

ما آزاد له زولنې که زه د بند سزاوار نه یم

که دوستان او انتخاب دي جاهلان او نا اهلان دي

زه هم نه یم دونه اهل زه هم دونه هوښیار نه یم

از خالق کردګار و از رب رحیم

نومید نیم بجرم عصیان عظیم

ګر مست و خراب خفته باشم امروز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فردا بخشد بر استخوانها رمیم

له خالق سره کم نه دي رحمتونه نعمتونه

نا امید ورڅخه نه یم را بخښي لوی گناهونه

که نن پروت مست و خراب یم له جامونو د سرو میو

په سبا به را معاف کړي زما وراسته خاوري هډونه

ما خرقه زهد در سر خم کردیم

در خاك خرابات تیمم کردیم

باشد که درین میکده ها در یابیم

عمری که درآن مدرسه هاگم کردیم

مورې چوخه د پرهېز رنگ کړه په خمونو په پیالو کي

تیمم مو دی وهلی د شرابو په کوڅو کي

گوندي وي بیرته پیدا کو دې ویجاړو میخانو کي

هغه شپې چي مو کړې ورکي په کتاب او مدرسو کي

يك چند به کودکی به استاد شدیم

يك چند ز استادي خود شاد شدیم

پایان سخن شنو که ما را چه رسید

از خاك در آمدیم و برباد شدیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څو ورځي ماشومان و شاګردان د لوی استاد سوو

یو څو ورځي له دې خپلي استادیه په زړه ښاد سوو

له دې ژونده له تلاښه موږ ته څه شي په نصیب سول

چي له خاورو و راغلي عاقبت ټوله برباد سوو

زین خانه که به صد نوا آمده ایم

رفتند بسی زما و ما آمده ایم

از رفته و آینده نگفته است کسی

باید بکجا شد زکجا آمده ایم

له دې کوره چي په سلو فریادونو یو وتلي

زموږ له ډلي داسي ډېر دي هم راغلي هم ترې تللي

نه د تللیو احوال راغی نه راتلونکي را معلوم دي

چي آخر به چېري ولاړ سو او له کومه یو راغلي

ما افسر خان و تاج کی بفروشیم

دستار قصب ببانگ نی بفروشیم

تسبیح که پیك لشکر تزویر است

ناګاه بیك جرعهء می بفروشیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شوکت او شانه تېر يو خرڅوو د کی تاجونه

تخت دي واخله د زربفتو موږ ته راوړه نی چنگونه

او تسبيح چي سر لښکر دی د ريا او فريبونو

خرڅوو يې په را نيسو يو څو ځاځکي شرابونه

چون نيست مقام ما درين دير مقيم

پس بی می و معشوق خطاييست عظيم

تاکی ز قديم ومحدث ای مرد سليم

چون من رفتم جهان چه محدث چه قديم

چي له دې فاني جهانه عاقبت روانېده دي

لو خطا بېله معشوقه بېله ميو اوسېده دي

لا تر څو کړئ هوښيارانو د زاړه نوي خبري

چي څوک ولاړ سي له جهانه په زاړه نوي يې څه دي

در دايره وجود دير آمده ايم

وز پايه مردمی بزير آمده ايم

چون عمر نه بر مراد ما ميگزرد

باری بسر آمدی که سير آمده ايم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ناوخته یو راغلي د هستۍ تر میدانونو

یو قدم یو کښته سوي د انسان تر مقامونو

زموږ د زړه په خوښه نه دي د دې عمر شپې او ورځې

کشکي ژر وای تېري سوي موږ ماړه یو له عمرونو

زآن پیش که از زمانه تابی بخوریم

با یکدیگر امروز شرابی بخوریم

کاین چرخ فلك بگاه رفتن ما را

چندان ندهد امان که آبی بخوریم

چې زمان لا نه وي کړي فیصله زموږ د وهلو

راسه کښېنه ورځ کو تېره د سرو میو په چښلو

زه پوهېږم چې آسمان به په ساعت کې زموږ د تللو

یو ګړی مهلت را نه کړي د اوبو د نوشولو

پاك از عدم امدیم و ناپاك شدیم

آسوده در آمدیم و غمناك شدیم

بودیم ز آب دیده آتش دل

دادیم بباد عمر درخاك شدیم

له عدم څخه پاك راغلو او ناپاك پر دې جهان سوو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه هوسا دنیا ته راغلو څه بېځایه سرګردان سوو

له دوو سترګو تویېدلو او لوېدو د زړه په اور کي

ژوند مو باد لره تسلیم کړ او په خاوره کي پنهان سوو

جانا من و تو نمونه پرکاریم

سرگرچه دوکرده ایم یك تن داریم

بر نقطه روا نیم همی دایره وار

تا آخر کار سر بهم باز آریم

زما او ستا ژوندون جانانه د پرکار په شان تېرېږي

تن مو یو سرونه دوه دي یوه ساه پکښي چلېږي

پر نقطه باندي را ګرځو دایرې دي جوړوو یې

دوه سرونه مو یوځای سي کار چي پای ته ورسېږي

ماییم که اصل شادی وکان غمیم

سرمایه دادیم و نهاد ستمیم

پستیم و بلندیم و کمالیم و کمیم

آیینه زنگ خورده و جام جمیم

هم رېښه یو د ښادیو او هم کان یو د غمونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر چینه د عدالت یو او اساس یو د ظلمونو

هم ټیټېږو، هم لوړېږو هم کمال یو هم کمی یو

زنګ وهلي آیینې یو جام د جم د محفلونو

ترسم که چون زین بیش بعالم نرسیم

با همنفسان نیز فراهم نرسیم

این دم که درو ییم غنیمت شمریم

شاید که بزندگی درآن دم نرسیم

زه بېرېږم نه رسېږو ها نړۍ ته چي مو تله دي

نه په ګام برابرېږو له ملګرو چي مو مله دي

دغه دم غنیمت بولئ چي دا اوس پکښي اوسېږئ

څوك خبر دي چي په ژوند مو تربل دمه رسېده دي

مقصود زجمله آفرینش ماییم

در چشم خرد جوهر بینش ماییم

این دایره جهان چون انگشتریست

بی هیچ شکی نقش نگینش ماییم

د دوو کونو له خلقته ټول مقصود موږ په یقین یو

موږ په سترګو کي د عقل رنګ جوهر د هر آیین یو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دایره د دې نړۍ ده د ګوتمۍ په شاني جوړه

زموږ شغلې دي چي خپرېږي موږ یې نقش د نګین یو

برخیز مخور غم جهان ګذران

بنشین و جهان به شادماني ګذران

در طبع جهان اګر وفایی بودی

نوبت به تو خود نیامدی از دګران

غم یې مه خوره چي جهان دی بې بنیاده لړ زېدلی

دا ګړی په مستۍ تېر که چي نصیب درته لیکلی

د جهان د وفا طبع تاته هلته معلومېږي

چي نوبت د پخوانو دی څنګه تاته رسیدلی

ای مانده شب و روز بدنیا نګران

اندیشه نمیکنی تو از روز کران

اخر نفسی ببین و باز ای بخود

کایام چګونه میکند بادګران

شپې او ورځې دي کړې تېري په دنیا کې په فکرونو

یو ګړی دي په یاد نه سوه بده ورځ د قسمتونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوه شېبه هوښیار سه یو نفس یې در په زړه که

چي له نورو سره څنګګه جفا وکړله وختونو

رفتم که درین منزل بیداد بدن

در دست نخواهد بجز از باد بدن

آنرا باید به مرگ من شاد بدن

کز دست اجل تواند آزاد بدن

د ستم په دې دنیا کي به څوك ولي لا اوسېږي

درنه ځم چي ببله باده هیڅ په لاس کي نه پاتېږي

هغه څوك دي وي خوشاله زما په مرګ دي هوسېږي

چي تر غاړي یې منګولي د اجل نه ور رسېږي

می خوردن و گرد گلرخان گردیدن

به زانکه بزاق زاهدی ورزیدن

گر مردم میخواره بدوزخ باشند

پس روی بهشت کس نخواهد دیدن

پیمانه په لاس کي ګرځه د ګلرخ په طوافونو

نه چي توري دي کړې ورځي د زاهد په خلوتونو

که دوږخ لره روان کې ډلي ډلي د میخورو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرابونه به څوك نوش كي د خالق د جنتونو

برسینهء غم پذیر من رحمت کن

برحال دل اسیر من رحمت کن

برپای خرابات رو من بخشای

بردست بیاله گیر من رحمت کن

پر هغه سینه رحمت که چي ساتم پکښي غمونه

پر بندي زړه مي رحمت که در معلوم يې دي حالونه

هغو پښو ته بخښه غواړم چي رهي دي خرابات ته

پر هغه لاس مي رحمت که چی په نیسمه جامونه

مسکین دل درد مند دیوانه من

هشیار نشد زعشق جانانه من

روزی که شراب عاشقی در دادند

در خون جگر زدند پیمانه من

د خوږمن او لېوني زړه درته تېره مي كيسه كړه

د جانان لیونی مینې را بېهوښه هره شپه کړه

چي زاړه فلك وېشله په ازل شراب د مينې

د زړګي له وينو ډكه زما د ژوند يې پيمانه كړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رندی دیدم نشسته برخنگ زمین

نه کفر ونه اسلام و دنیا و نه دین

نه حق نه حقیقت نه شریعت نه یقین

اندر دو جهان که را بود زهرهء این

رند مي ولیدی چی ناست و مست له ښکه د خمونو

نه پر کفر نه اسلام و نه یې غم د مذهبونو

نه پر حق نه حقیقت و نه یقین نه شریعت و

زړه ور بل دی چا لیدلی پر دې دواړو جهانونو

بشنو زمن ای زبدهء یاران کهن

دل تنگ مکن زین فلك بی سر وبن

برگوشهء عرصهء سلامت بنشین

بازیچهء دهر را تماشا میکن

زړه ته تېر اشنایه واوره چي خبر سې له رازونو

مرور له هسکه نه سې له بې تنه بې لاسونو

په گوښه کي ورته کښېنه د زمان لوبي ته گوره

په بېغمه زړه یې وکه نداره د میدانونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



از تن چو برفت جان پاك من وتو

خشتی دو نهد برمغاك من وتو

وآنكه ز برای خشت گور دگران

در كالبدی كشند خاك ومن وتو

چي مرگی رالره راسي چي مو روح له تنه تښتي

يو څو خښتي مو د گور سي كفنونه راته سكښتي

چي يې بيا خښتي په كار سي د گورونو لحدونو

زما او ستا له تنه واخلي د بل چا د لحد خښتي

آنم كه پديد كشتم از قدرت تو

پر ورده شدم بناز در نعمت تو

صد سال به امتحان گنه خواهم كرد

تا جرم منست بيش يا رحمت تو

زه هغه يم چي هستي ته ستا قدرت يمه راوړی

ستا له نازه له نعمته په دنيا كي يم سرلوړی

په سل كاله گناهونو زه دا راز معلومومه

چي گناه زما درنه ده او كه ستا رحمت پياوړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



این چرخ فلك بهر هلاك من وتو

قصدی دارد بجان پاك من وتو

بر سبزه نشین بتا که بس دیر نماند

تا سبزه برون دمد زخاك من وتو

دا فلك موږ دواړه وژني زړه يې نه راته صبرېږي

زما او ستا په ځان راغلی له دې لارې نه ستنېږي

چې لا نه وي ښكاره سوې شنه سبزه زموږ پر قبرونو

راسه كښېنو په سبزه كې ښايستې ورځی تېرېږي

بردار پیاله و سبو ای دلجو

برگرد بگرد سبزه زار و لب جو

کین چرخ بسی قد بتان مهرو

صد بار پیاله کرد و صدبار سبو

پیاله پورته كه نگاره چې تېرېږي دا وختونه

له پايكوبه به كړو مستي هم وياله هم چمنونه

چې دا ستا په شاني ښكلي فلك ډېري خاوري كړي

په سل ځله يې پيالې كړې په سل ځله يې جامونه

بردار پیاله و سبو ای دلجو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بر گرد بگرد سبزه زار ولب جو

کاین چرخ بسی قد بتان مهرو

صد بار بیاله کرد و صد بّر سبو

گرانه راوړه په مینا کي په پیاله کي شرابونه

د ویالې پر غاړه کښېنه چي سبزه وي سره گلونه

چي دې شنه آسمان د ډېرو گلرخانو خاوري یو وړې

څوك یې سل ځله مینا کړل څوك یې سل ځله جامونه

از آمدن و رفتن ما سودی کو

وز تار جود عمر ما پودی کو

چندین سر وپای نازنینان جهان

میسوزد و خاك میشود دودی کو

زموږ له ژونده زموږ له مرگه چاته څه گټه رسېږي

اوږدې لاري دي د عمر په منزل یې څوك پوهېږي

دا نړۍ له گلرخانو هم ډکېږي هم تشېږي

دلته سوځي خاوري کېږي لوگي هيڅ نه معلومېږي

ای رفته بچوگان قضا همچون گو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چپ میدو و راست میدو و هیچ مگو

کانکس که تو را افگند اندر تك و پو

او داند و او داند و او داند او

چي دي تن لکه نانځکه د قضا لاس کي لوبېږي

د اسمان په حکم گرځه اختيار نه پکښي چلېږي

هغه چا چي يې راوړی د دې لوبي تر میدانه

هم قادر دی هم دانا دی په هرڅه باندي پوهېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناکرده گناه در جهان کیست بگو؟

و آنکس که گنه نکرد چون زیست بگو؟

من بد کنم و تو بد مکافات دهی

پس فرق میان و تو چیست بگو؟

وایه چا به په دنیا کي نه وي کړي گناهونه

چي گناه یې نه ده کړې څه یې برخه له ژوندونه

زه بدي کوم پوهېږم ته سزا راکوې ماته

وایه زما او ستا په منځ دلته څه سول توپیرونه

آن قصر که بر چرخ همیزد پهلو

بر درگه او شهان نهادندی رو

دیدم بسر کنگره اش فاخته ای

بنشسته همیگفت که کوکو کوکو

هغه قصر چي یې څوکي تر آسمانه رسېدلې

پر چارچوب چي یې شاهانو د تعظیم سجدې کولې

د هغې ماڼۍ په کونج کي ما لیده یوه کوتره

کړی ورځ وه هلته ناسته د کو کو نارې یې کړلې

ماییم خریدار می کهنه و نو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و آنگاه فرشنده عالم بدو جو

گفتی که پس از مرگ کجا خواهی رفت

می پیش من آر هر کجا خواهی رفت

مورِ راغلي يو چي واخلو زاړه نوي شرابونه

مورِ په دوو اوربشو خرڅ کړل عالمونه جنتونه

څه پوښتې له عاقبته پسله مرګه چېري ځمه

ته چي هر چېرته ځې ولاړ سه ماته راوړه ډك جامونه

ماييم خريدار می کهنه و نو

و آنگاه فرشنده جنت به دو جو

دانی که پس از مرگ کجا خواهی رفت

می پيش من آر و هر کجا خواهی رو

مورِ را نيسو دي بازار کي زاړه نوي شرابونه

خرڅوو په دوو اوربشو ښکلي حوري جنتونه

ته پوهېږې در معلوم دي پسله مرګه حسابونه

ته ورځه مخته دي ښه سه مورِ ته راوړه ډك جامونه

دانی زچه روی او فتادست و چه راه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادی سرو و سوسن اندر افواه

کین دارد ده زبان و لیکن خاموش

و آنراست دو صد دست و لیکن کوتاه

ته پوهېږې چي دا ولي آوازې دي چي خپرېږي

چي سوسن سرو آزاد دي خوله پر خوله يې کيسې کېږي

د سوسن سره لس ژبي خو هيڅ نه وايی خاموش دی

او د سروي سل لاسونه خو له ځانه نه اوږدېږي

يك جرعه می كهنه ز ملك نوبه

وز هر چه نه می طريق بيرون به

خشت سر خم زتاج كيخسرو به

جا ميش به از ملك فريدون به

زما زاړه شراب په کار دي نه شاهي نوي ملکونه

بېله ميو بيهوده دي ټولي لاري منزلونه

جام يې سل ځله بهتر دی له شوکت د فريدونه

خم دي زما وي ته در واخله کيخسرو دی که تاجونه

از درس علوم جمله بگريزی به

و اندر سر و زلف آويزی به

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زان پیش که روزگار خونت ریزد

تو خون قنینه در قدح ریزی به

تېښته بویه په ژوندون کي له ملا له کتابونو

زړه دي بند لره په زلفو د ورېښمو له ټالونو

چي دي نه وي لا توی کړي شنه آسمان د اجل ویني

ویني توی د صراحي که په لمن کي د جامونو

پیری دیدم بخواب مستی خفته

وز گرد شعور خانهء تن رفته

می خورده و مست خفته و آشفته

و الله لطیف بعباده گفته

ما بوډا مست له شرابو بیده ولیدی یارانو

نه په غم کي و د عقل نه په بند کي د رندانو

بېخبره له جهانه دا یو ذکر یې په خوله و

په والله چی مهربان دی خدای پر خپلو بندگانو

روزی بینی مرا سر مست افتاده

در پای تو سر نهاده پست افتاده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستار ز سر قدح ز دست افتاده

در حلقه زلف بت پرست افتاده

یوه ورځ به مي لا وينې له مستيه پريوتلی

ستا پر ښو به مي سر ایښی او پر خاورو یم لوېدلی

هم پر سر مي بگړی نه وي هم له لاسه جام نسکور وي

او د زلفو په حلقو کي د بتانو کښېوتلی

فریاد که عمر رفت بر بیهوده

هم لقمه حرام و هم نفس آلوده

فرموده ناکرده سیه رویم کرد

فریاد زکرده های نا فرموده

يم پښېمانه عمر ولاړی بېهوده تېر سول کلونه

هم حرام مې دي خوړلي هم مي کړي گناهونه

چي د کړو وه ومي کړله تر قیامته یم مختوری

هی افسوس چي ډېر مي کړي د نه کړلو عملونه

چند از پی حرص و آز فرسوده

سرگشته دوي گرد جهان بېهوده

افتند و رويم و دیگر آیند و روند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یکدم بمراد خویشتن نا بوده

لا دي څو د حرص پر لاره روح او تن دي سولولي

لا لهانده پر جهان يې تر زړګي اغزي ختلي

راغلل، ځو به، نور به راسي د هغوی هم دغه لار ده

څوك يو دم تر خپل هدفه دلته نه دي رسېدلي

بنگر ز صبا دامن گل چاك شده

بلبل ز جمال گل طربناك شده

در سایهء گل نشین که بسیار این گل

در خاك فرو ریزد و ما خاك شده

د سهار نسيم الوتی د غوټۍ ګرېوان څيرېږي

د ګلونو له جماله بلبلان دي چي مستېږي

نن د ګل سيوري ته کښېنه چي ګېډۍ د دې ګلونو

رژېدلي دي پر خاورو زموږ په شاني خاوري کېږي

این چرخ چو کاسی است نگون افتاده

در وی همه زیرکان زبون افتاده

در دوستی شیشه و ساغر نگرید

لب بر لب و درمیانه خون افتاده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا فلك لكه كاسه ده را لوېدلې سر نگونه

پکښې عقل سرگردان دی پکښې بند دي تدبيرونه

له دوستۍ در معلومېږي د مينا او د جامونو

خوله پر خوله يې سره ايښې ډك له وينو لري زړونه

تن در غم روزگار بيداد مده

مارا زغم گذشتگان ياد مده

دل جز بسر زلف پريزاد مده

بی باده مباش و عمر برباد مه ده

ډېر چي ځای نه کې په زړه کي د زمان ظالم غمونه

مورِ ته مه راوړه ناخوالي د پېړيو تېر کلونه

زړه د يار په زلفو بند که هېروه دا نور بندونه

پياله مه ايږده له لاسه چی برباد نه کې کلونه

تن در غم روزگار بيداد مده

مارا ز غم گذشتگان ياد مده

دل جز به صنم بری پريزاد مده

بی باده مباش و عمر برباد مده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظالمي زمانې چي پر زړه بار نه کې غمونه
راته مه وايه د تلليو د غمونو داستانونه
زړه يوازي د پی مخو پريزادو په لاس ورکه
گوره عمر برباد نه کې تل دي ډك لره جامونه

زان می که مرا قوت روانست و من
زان گرچه سرم بسی گرانست بده
برنه به کفم قدح که دهر افسانه است
وین عمر چو بادنگذران است بده

هغه می رالره راکه چي مي روح په تازه کېږي
که هر څونه مست خراب يم لا مي زړه ورته مستېږي
راته ډکي پيالې راوړه چي ژوندون ټول افسانه ده
او دا عمر بې وفا دی لکه باد هسي تېرېږي

اندیشه عمر بیش که در شصت منه
هرکجا که قدم نهی بجز مست منه
زان پیش که از خاك وگلت کوزه کنند
رو کوزه فروش و کاسه از دست منه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندېښنه د عمر مه که له شپېتو کلو دپاسه

دلته هر قدم چي اخلې له مستيو ورته راسه

يوه ورځ به دي له خاورو کلالان کوزه کي جوړه

ژر کوزه له اوږې کښېږده پياله مه اېږده له لاسه

تاکی غم آن خورم که دارم يانه

وين عمر بخوشدلي گذارم يا نه

پرکن قدح باده که معلوم نيست

کين دم که فروبرم بر آرم يانه

غم ترڅو خورمه دوستانو څه لرم څه نه لرمه

دا څو ورځي په مستيو تېروم که يې پرېږدمه

جام مي ډك که له شرابو چي معلومه راته نه ده

له سينې يې بيرته باسم دا نفس چي کښته وړمه

من ترك همه گيرم وترك مى نه

وز جمله گزير باشدم از وى نه

ايا بود آنکه من مسلمان گردم

پس ترك مى مغانه گيرم هى نه

زه او جام به سره مله يو نور له هر څه توبه گار يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هستي مي در پرېږدمه يو د سرو شرابو يار يم

ته خو ښه وايې ناصحه چي را واوړه مسلمان سه

بيا نو مى او مغان پرېږدم هغه نه کېږي هوښيار يم

اندازهء عمر بيش از شصت منه

هر جا که قدم نهى به جز مست منه

زان پيش که کاسه سرت کوزه کنند

تو کوزه ز دوش و کاسه از دست منه

تر شپېتو دي بايد کمه د ټول عمر اندازه وي

ژوند دي ټوله رندانه وي هر قدم دي مستانه وي

لا دمخه چي آسمان دي کوزه جوړه کي له سره

صراحي پر اوږو ګرځه او په لاس به دي پياله وي

اى بيخبر از کار جهان هيڅ نه اى

بنياد تو بادست از آن هېڅ نه اى

شد حد و وجود تو ميان دو عدم

اطراف تو هېچ است در ميان هيچ نه اى

بېخبره له عالمه ته نېستي يې په جهان کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا بنیاد ولاړ پر باد دی بل څه نسته په میدان کي

چي سرحد ستا د وجود یې دوه عدمه دی ټاکلی

دواړه خواوو ته دي هېڅ دي ته هیڅ نه یې په دا میان کي

نقش است که بر وجود ما ریخته ای

صد بوالعجبی ز ما بر انگیخته ای

من زان به ازین نمیتوانم بودن

کز بوته مرا چنین فرو ریخته ای

یو تصویر دي اچولی زموږ پر تن باندي څښتنه

سل عجیبي ولاړېږي د دې جبر له وطنه

ښه کېدلای تر دې نه سم له ازله داسي جوړ یم

روح مي بل چیرته پیوند دی تمه نه کیږي له تنه

جانا زکدام دست برخاسته ای

کز طلعت خویش ماه را کاسته ای

خوبان جهان بعید رو اورند

تو عید بروی خویش آراسته ای

زما ښایستې له کومه لاسه کوم کماله یې راغلې

چي له مخه دي سپوږمۍ ده په آسمان کي شرمېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړۍ ښکلي مخونه د اختر په ورځ سينګار کړي

تا په خپل مخ د اختر ورځ ښکلي کړې سينګا کړې

درکارگه کوزه گری کردم رای

در پایه چرخ دیدم استاد بپای

میکرد دلبر کوزه را دسته وپای

از کلهء پادشاه و ازپای گدای

د کلال په کار خانه کي تېره شپه مي څو شېبې وې

کوزه ګر پکښې ولاړ و جوړې کړې يې کوزې وې

ګرزولې يې پر لوښو هنرمندي کاري ګوتي

د پاچا سر يې په لاس کي ورسره د فقير پښې وې

خواهی که اساس عمر محکم یابی

روزی بعالم دل خرم یابی

فارغ منشین ز خوردن باده می

تا لذت عمر خود دمادم یابی

که د عمر د شېبو دي فولادي غواړې بندونه

که پېرزو دي پر خپل ځان دي دا ينځه ورځې عيشونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له لاسه يې کښې نه ږدې د سرو ميو پيالې ډکي

چي نصيب دي هر ګړی سي د خواږه عمر خوندونه

شيخی به زن فاحشه گفتا مستی

هر لحظه بدام ديگری پا بستی

گفتا شخا هر آنچه گويی هستم

اما تو چنان که می نمايی هستی؟

شيخ ويله فاحشې ته ستا کردار د دوږخيانو

هره شپه يې لاس تر غاړه له پرديو له يارانو

ښځي وويله شيخه چه ته وايې زه هغه يم

ته هم سپين داسي په زړه يې که په رنګ د زاهدانو؟

تا در تن تست استخوان ورگ وپی

از خانه تقدير منه بيرون پی

گردن منه او خصم بود رستم زال

منت مکش ار دوست بود حاتم طی

چي په تن کي لرئ وينه چي ژوندي ياست عزيزانو

چي رسيږي له تقديره هغه ومنئ يارانو

چي تسليم نه سئ انسان ته که دښمن رستم زال وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مو دوست حاتم طی وي منت مه وړئ د دوستانو

هنگام صبح ای صنم فرح پی
بر ساز ترانه وپیش اتور می
کافگند بخاك صد هزاران جم و
این آمدن تیرمه و رفتن دی

زما ښایسته گلرخه پاڅه د سهار نسیم چلیږي
نغمه سازه که می راوړه چي د عمر شپې کمیږي
داسی سل زره جمشیده، کي به لاندي سي تر خاورو
پسرلي به راسي ولاړ سي ژمی سر پر سر تېرېږي

تا در تن تست استخوان ورگ وپی
از خانهء تقدیر منه بیرون پی
گردن منه از خصم بود رستم زال
منت مکش ار دوست بود حاتم طی

چي په تن کي دي لا ساه سته چي لرې هډ او رگونه
د تقدیر له کور دباندي چي و نه باسې گامونه
که دښمن دي رستم زال وي چي تسلیم یې نه سې زور ته
که دي دوست حاتم طی وي یو یې نه سې منتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



از آمدن بهار و از رفتن دی

اوراق و جود ما همیگردد طی

می خور مخور اندوه که گفتست حکیم

غمهای جهان چو زهر و تریاکش می

سر پر سر پسرلي راسي او تېرېږي خزانونه

د هستۍ پاڼي مو راوړي او ډکېږي کتابونه

می چښه غمونه مه خوره دا وینا د حکیمانو

د جهان غمونه زهر او ترياك يې دي جامونه

خوش باش که پخته اند سودای تو دي

ایمن مباش از همه تمنای تو دی

تو شاد بزی که بې تقاضای تو دی

دادند قرار کار فردای تو دی

غم يې مه کوه فلك دي در شمېرلي ورځي شپې دي

د نصیب له زړه دي هېري ټولي هیلي اندېښنې دي

نه اختیار دي د راتلو و نه اختیار دي د وتلو

د ازل کاتب ليکلي د سبا ټولي شېبې دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای کاش که جای آرمیدن بودی

یا این ره دور را رسیدن بودی

کاش از پی صد هزار سال از دل خاك

چون سبزه امید بر دمیدن بودی

کشکي ځای وای پر دې مځکه د آرام د پرېوتلو

د اوږدې لاري په پای کي وای منزل د رسېدلو

کشکي سل زره کلونه وروسته بیا له زړه د خاورو

د سبزې په څېر امید وای یو ځل بیا د شنه کېدلو

خوش باش که پخته اند سودای تو دي

فارغ شده اند از تمنای تودي

قصه چی کنم که بې تقاضای تو دي

دادند قرار کار فردای تو دي

زړه دي مه خوره چي وېشلي قسمتونه يې پرون دي

فلك ځان بېغګمه کړی له آرزو د سباوون دي

تا ته څه کیسه بیان کړم ستا غوښتنه پکښي نه ده

د سبا غم يې خوړلی دا کارونه د ګردون دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گر کار فلك به عدل سنجيده بود

احوال فلك جمله پسنديده بودى

ور عدل بودى به کارها در گردون

کى خاطر اهل فضل رنجيده بودى

د آسمان که ټول کارونه په انصاف تلل کېدلاى

پېښېدلاى چي له هسکه نو انسان به خوښېدلاى

که فلك په لاس نيولى ترازو د عدالت واى

نو به ولي هوښيارانو د زړګي ويني خوړلاى

افتاد مرا بامى ومستى کارى

خلقم ز چه ميکند ملامت بارى

ايکاش که هر حرام مستى کردى

تا من بجهان نديدمى هوشيارى

ماته مى او مستي دواړه په قسمت دي رسېدلي

ټولو خلګو ولي ماته د پيغور سترګي نيولي

کشکي ټولو ګناهونو انسانان نشه کولاى

په دنيا کي به مي چېرته هوښياران نه واى ليدلي

يارب بگشاى برمن از رزق درى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بی منت مخلوق رسان ما حضری

از باده چنان مست نگه دار مرا

کز بیخبری نباشدم درد سری

ربه ته کې راته خلاصه دروازه د رزق ارزانه

چي نه اړ یمه مخلوق ته نه مي تمه له سلطانه

هسي ډکي پیالې راکه هسي مست مي که له میو

چي بیخوده سم له ځانه بېخبره له جهانه

از کوزه گری کوزه خریدم باری

آن کوزه سخن گفت زهر اسراری

شاهی بودم که جام زرینم بود

اکنون شده ام کوزه هر خماری

سحرگاه چي سپېدې چوي بانگ د چرگ اورېدل کیږي

ته پوهېږې چي دا ولي ساندي وایي او خروښېږي

وایي بیا هغه دی ښکاري په هینداري د سهار کي

چي هنوز یې بې خبره شپې د عمر دي تېرېږي

سازنده کار مرده و زنده تویی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارنده این چرخ پراکنده تویی

من گرچه بدم خواجه این بنده تویی

کس راچه گنه چی آفریننده تویی

که څوك مړه دي که ژوندي دي ته کار سازه د انسان یې

ته څښتن د آسمانونو ته مالك یې ته سبحان یې

زه که بد یمه هم ستا یم ته بادار د دې بنده یې

د بنده گناه به څه وي چی خالق د ټول جهان یې

ای باده تو شربت من رسوایی

چندان بخورم ترا من تشیدایی

کز دور مرا هرکه ببیند گوید

ای خواجه شراب از کجا میآیی

دا رسوا مستي شېبې مي ستا له ډکي پیمانې دي

غواړم سر پر سر یې نوش کم د سره می ډکي پیالې دي

چي له لیري مي څوك ویني په مستۍ دا راته وایي

خواجه دا څنگه شراب دي دا دکومي میخانې دي

با ما تو هرآنجه گویی از کین گویی

پیوسته مرا ملحد و بیدین گویی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



من مقرم بدانچه گویی لیکن

انصاف بده ترا رسد کین گویی

ته چي هر څه ماته وايې له حسده ويل کېږي

ما ملحد او بېدين بولې له دښمن سره ښايېږي

چي په هر نامه مي بولې زه اقرار کوم خو واوره

که انصاف کړې څه چي وايې ټوله تاته در رسېږي

ای بادهء خوشگورا در جام بهی

بر پای خرد تمام بند و گرهی

هر کس که ز تو خورد امانش ندهی

تا گوهر او برکف دستش ندهی

اې د ميو سرو لعلونو درته جام او پيالې ښايي

چي ته نه يې په خلوت کي عقل بند وي خودي ستايي

څوك چي جام كي پر سر پورته بيا امان ورلره نسته

چي هر څه لري په زړه کي هغه ټول په ژبه وايي

چندان که نگاه میکنم هر سویی

از سبزه بهشت است و زکوثر جویی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحرا چو بهشت است ز دوزخ کم گو

بنشین به بهشت با بهشیی رویی

چي هر لوري ته نظر کړم راته ښکاري سره ګلونه

کوثري ويالې بهيږي شنه دښتونه جنتونه

شنه سبزه لکه جنت دی د دوږخ خبري پرېږده

د جنت پر لمن ګوره جنتي ښايسته مخونه

هان تا بر مستان بدرشتی نشوی

یا از در نیکوان بزشتی نشوی

می خور که بخوردن و بنا خوردن می

گرانست دوزخی بهشتی نه شوی

پام چي زړونه ازار نه کې د مستانو د رندانو

نه په تونده ژبه ستون سې له چارچوبه د نېکانو

په پر هېز او په چښلو د سرو ميو نه بدلېږي

نه ازل د دوږخيانو نه نصيب د جنتيانو

ای سوختهء سوختهء سوختنی

وی آتش دوزخ از تو افروختنی

تاکی گویی که بر عمر رحمت کن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق را تو که ای برحمت اموختنی

د ایرو له ایرو جوړ دي ستا رګونه ستا هډونه
ستا وجود به کي پېلوزی په دوږخ کي انګارونه
څه پر عمر رحمت غواړې لا به څوکوې خواستونه
ته يې څوك چي حق ته ښيې د رحمت لاري مزلونه

گر زانکه بدست افتد از می دومنی
می نوش بهر جمع و بهر انجمنی
کانکس که جهان ساخت فراغت دارد
از سبلت چون تویی و ریش چو منی

که دي کښېوزي په لاسونو دوه مني می او جامونه
له رندانو سره نوش که ډك له میو ګيلاسونه
چي جهان يې پیدا کړی له جهانه بې پروا دی
نه يې زما د ږيري غم دی نه په ياد يې ستا بريتونه

درگوش دلم گفت فلك بنهانی
حکمی که قضا بود زمن میدانی
در گردش خویش اگر مرا دست بدی
خودرا برهاندمی ز سر گردانی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته غوږ کي آسمان وکړه دا یوه خبر څرګنده

فیصله د قضا بولې زما له نوم سره پیونده؟

که مي وس په رسېدلای په دې خپلو ګرځېدلو

زه به ولي سرګردان وم ټوله عمر لکه ژرنده

ای از حرم ذات تو عقل آګه نی

وز معصیت وطاعت ما مستغنی

مستم زګناه و وز رجا هشیارم

امید برحمت تو دارم یعنی

تا ته عقل نه رسېږي لوړ تر فکره د هر چا یې

له ګناه او عبادته مستغني یې بې پروا یې

که هر څو له ګناه مست یم ستا سخا لره هوښیار یم

د رحمت امید لرمه ته قادر یې ته دانا یې

ای چرخ دلم همیشه غمناك کني

پیراهم خوشدلی من چاك کنی

بادی که وزد به آتش کنیش

آبی که خورم در دهنم خاك کنی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې فلکه همېشه مي زړګی شین تغمې کې

د خوښۍ جامې کړې څيري زما ګرېوان رېښې رېښې کې

چي پر خوا مي نسیم راسي زما پر تن يې سره لمبه کې

چي يو څاڅکی ورېم تر ستوني زما په خوله خاوري ايرې کې

از دير برون آمده ناپاك تنی

وز دود جهنم بتنش پيرهنی

بشکست صراحيم که عمرش کم باد

وآنگه چی می لطيف و مردی چومنی

له خلوته راوتلی کرغېړن لړلی ځان و

دوږخي جامې اغوستي په زړه تور لکه شيطان و

صراحي يې کړه راماته خدايه عمر يې ور لنډ کې

هغه څه ښايسته شراب وه دلته ما غوندي انسان و

گر آمدنم بمن بدی نامدمی

ور نيز شدن بمن بدی کی شدمی

به زان بدمی که اندرين کون وفساد

نه آمدمی نی شدمی نه بدمی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که راتلل مي په اختيار وای دې نړۍ ته نه راتلمه

که په وس مي دا هستي وای په دې رنګ چېرته کېدمه

له هغه چي مي راتګ وای دې فاسدي زمانې ته

نه راغلی وای دنيا ته او نه وای دغه چي يمه

برشاخ امید اگر بری یافتمی

هم رشته خویش را سری یافتمی

تا چند ز تنگنای زندان وجود

ای کاش سوی عدم دری یافتمی

یا له ښاخه د امیده پیدا کړی می ثمګر وای

د ژوندون پر ورکو لارو را معلوم د تناو سر وای

لا تر څو به زه بندي يم د وجود په دې زندان کي

کشکي خدايه ?را څرګند خو د نېستۍ د لوري ور وای

از دفتر عمر برگرفتیم فالی

ناگاه ز سوز سینه صاحب حالی

میگفت خوشا کسی که اندر بر او

یارست چو ماهي وشبې چون سالی

ما د عمر په دفتر کي ځانته اچول فالونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه پير د زړه له سوزه راته وويل حالونه

ويل څومره دي نېکبخته هغه څوك چي يې په ښنگ کي

د سپوږمۍ په شاني يار وي شپې اوږدې لکه کلونه

تن زن چو بزير فلك بيباكی

می نوش چو درجهان آفت ناکی

چون اول و آخرت بجز خاکی نيست

انگارکه بر خاك نهء در خاکی

فلك ډېري کړې خزاني د گلونو لښتي تاندي

می چښه چي آفتونه د جهان لري د وړاندي

هم له خاورو پيدا سوی هم به خاورو ته روان يې

گواکي نه گرځې پر خاورو يې د گور تر خاورو لاندي

در سنگ اگر شوی شوی چو نار ای ساقی

هم آب اجل گذار ای ساقی

خاکست جهان غزل بگو ای مطرب

باد است نفس باده بيار ای ساقی

که په منځ کي د ډبري سره لمبه سې د اورونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اجل اوبه به در وړي ساړه ښاخکي د مرګونو

جهان خاوري دی مطربه پر غزل دي نغمه سره که

نفس باد دی ساقی راوړه شنې پیالې د شرابونو

چون هست زمانه درشتاب ای ساقی

برنه بکفم جام شراب ای ساقی

هنګام صبوح قفل از در بکشای

تعجیل که آمد آفتاب ای ساقی

ساقي ژوند په تلوار درومي زړه مي رېږدي له زمانه

پیالې ډکي راته راوړه چي هستې نه سی پښېمانه

پر سپېدو که راته خلاصه دروازه د میخانې دي

په تلوار یې نوشومه چي لمر خیژي له آسمانه

شمعست و شراب و ماهتاب ایساقی

در شیشه می چو لعل ناب ایساقی

از خاك مګو این دل پر آتش را

بر باد مده بیار آب ایساقی

شمع بله ده سپوږمۍ ده په سرو میو یې سهار که

ساقي ډکه صراحي دي له سره می لکه انار که

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځوانۍ او مستۍ اور دی په کوګل کی مي بلېږي

دا ګرِی می برباد نه کې ساقي می راوړه تلوار که

صبحی خوش چی مست خیز ای ساقي

در شیشه کن آن شراب از شب باقی

جام می بمن اور و غنیمت میدان

این یکدمه نقد را و فردا باقی

ساقي پورته سه سهار دی څه تازه نسیم چلېږي

چي د شپې دي درته پاته هغه می ته مي زړه کېږي

راته ډکه مي پیاله که دغه دم غنیمت بوله

دا یوه شېبه ده نغده سبا هر څه چي پېښېږي

ما ومی معشوق و صبوح ای ساقی

از ما ناید توبه نصوح ای ساقی

تا کی خوانی قصه نورح ای ساقی

پیش آر سبك راحت روح ای ساقی

پیاله ډکه وي سهار وي معشوقه ښکلې خندانه

ساقي څرنګه پرهېز کړم توبه مه غواړه له مانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تر څو د نوح کيسه ده وړروې مي له توپانه

جام را واخله روح مي خوښ که لاس دي جار سم ساقي جانه

گر جنس مرا خاصه بداند ساقی

صد فضل زهر نوع بداند ساقی

چون وا مانم برسم خود باده دهد

وز حد خودم در گذراند ساقی

که له اصله مي خبر سې په کتار کی د رندانو

ما به سل ځله ور تېر کې له ټولیه د خاصانو

او چي لوېږم نو به راکې ساقی می له خپله جامه

مابه تېر کې له خپل حده له جهانه د مستانو

ای دهر بکر ده های خود معترفی

در زاویهء جور و ستم معتکفی

نعمت به خسان دهی و زحمت بکسان

زین هر دو برون نهء خری یا خرفی

زمانې پر خپلو کړلو هیڅ وخت نه سولې پښېمانه

د ستم گوښه کي ناسته يې په زړه نامهربانه

ناکسان په نعمتونو عزيزان په زحمت بار کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوو حالو خالي نه يې لېونی يې که حيوانه

بر سنگ زدم دوش سبوی کاشی

سر مست بدم که کردم این اوباشی

با من بزبان حال میگفت سبو

من چون تو بودم تو نیز چومن بّاشی

برايي چي مي کړه ماته د سره می پياله کاشي وه

زه معذور يمه يارانو بېخودي وه بدمستي وه

شنې پيالې د حال په ژبه راته ووېل بدمسته

ته به ما غوندي پياله سې زما هم تا غوندي ځواني وه

گویند مخور می که بلاکش باشی

در روز مکافات در آتش باشی

این هست ولی زهر دو عالم بهتر

آن یکدمه کز شراب سر خوش باشی

راته وايي چی می مه خوره در نصيب به کړي دردونه

په قيامت به يې مختوری سوزوي به دي اورونه

دا پر ځای ده خو بهتر دي له دنيا او آخرته

هغه دم چی له مستۍ دي درنه هېر وي ټول غمونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آن مایه ز دنیا که خوری یا پوشی

معذور اگر در طلب آن کوشی

باقی همه را یگان نیز زد هوشدار

تا عمر گران مایه بدان نفروشی

پر دنیا که د خوړلو اغوستو دي نعمتونه

په طلب کي دي تاوان دی چي پر لار يې ږدې ګامونه

نور چي هر څه دلته ويني وړيا نه ارزي هوښياره

چي په دې متاع خرڅ نه کې د خپل عمر ګران کلونه

ايدل توبه اسرار معمى نه رسی

در نکتهء زيرکان دانا نه رسی

اینجا به می و جام بهشتی میساز

کانجا که بهشت است رسی يا نه رسی

اې زړګيه د اسرارو معمى ته نه رسېږې

دانايان په پوهېدلي ته معنی ته نه رسېږې

جنتي شراب را واخله سبا چاته ده معلومه

چي جنت دي په نصيب دی که يې خواته نه رسېږې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گره شهره شوی بشهر شرالناسی

ورگوشه نشین شوی همه وسواسی

به زان نبود گر خضر و الیاسی

کس نشناسد ترا تو کس نشناسی

که مشهور سې پر ښارونو شر له تا وړي عالمونه

او که کښېنې په خلوت کې اندېښنه یې یا غمونه

که ته خضر او الیاس یې نو بهتره تر دې نسته

چې نه نوم دې چاته یاد وي نه دې زده د چا نومونه

زینهار کنون که میتوانی باری

بردار ز خاطر عزیزان باری

کین مملکت حسن نماند جاوید

از دست تو هم برون رود یکباری

د دې عمر چې کلونه لکه باد هسې تېرېږي

زړه ساته د عزیزانو چې تر څو دې وس رسېږي

دا د حسن قلمرو دی د هر چا له لاسه تللی

چې هیچاته پاته نه سوه تا ته هم نه پاته کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چون اگهی ای پسر زهر اسراری

چندین چه خوری بیهوده تیماری

چون می نرود باختیارت کاری

خوش باش درین نفس که هستی باری

چي معلوم دي درته ټوله د زمان او ژوند رازونه

لا تر څو به دي زړه شين وي لا به ولي خورې غمونه

د هستۍ هره شېبه ده ستا تر واك اختيار وتلې

شكر باسه چي موجود يې چي لا باسې نفسونه

زان کوزهٔ می که نیست در وی ضرری

پر کن قدحی بخور بمن ده دگری

زآن پیشتر ای پسر که در رهگذری

خاك من وتو کوزه کند کوزه گری

له هغه خمه می راکه چي يې نسته تاوانونه

پیاله ډکه ځانته واخله ماته هم راکه جامونه

می به وچښو گلرخه هسي نه سبا په لار کي

زما او ستا له خاورو جوړ کي کلالان کوزې خمونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برکوزه گری پریر کردم گذری

از خاك همی نمود هردم هنری

من دیدم اگر ندید هربی بصرې

خاك پدرم درکف هر کوزه گری

برابې مې و کلال ته هسې سترګې وا وښتلې

پر کاسو يې هنرمندې مستې ګوتې څرخېدلې

که دا نور خلك ړانده وه ما ليده د زړه په سترګو

هر کلال مې د پلار خاورې په لاسو کې اړولې

پیری دیدم بخانهء خماری

گفتم نکنی ز رفتگان اخباری

گفتا مخور که همچو تو بسیاری

رفتند خبری باز نیامد باری

يو بوډا د خم په ښبو کې له مستيه و لوېدلی

ما وې ږغ کوه له تلليو څه خبر دې اوريدلی

ويل تشې دې پيالې که ستا په رنګه ډېر مستان وه

چې پر دې لاره وتلې بيا يې حال نه دی راغلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای کوزه گرا بکوش اگر هوشیاری

تا چند کنی بر گل آدم خواری

انگشت فریدون و کف کیخسرو

بر چرخ نهادهء چی میپنداری

دا خبره مي کلاله ښه په زړه واوره که ښه کړې

لا به څو د انسان خاوره خپل هنر لره خیشته کړې

دغه گوته د فریدون ده هغه لاس د کیخسرو دی

تا پر څرخ ایښی لگیا یې ته پوهېږې چی دا څه کړې

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**